# بسپنه

**ناول**

**لیکوال: داکتر عبدالها دي حماس**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : بسپنه

لیکوال: ډاکتر عبدالهادي حماس

د لیکوال د اړیکو ګڼه:۰۷۹۹۳۹٤۰۳۵ / ۰۷۹۹۸۰۰۸۲٤

د پښتې ډیزاین : محمدعمر علمي

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال: ۱۳۹۸

خپرندویه ټولنه: د ذهنیت جوړونې مرکز کابل

ډیزاین چارې: محمد صدیق علمي / ۰۷۷۲۰۰۷۲۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ**

**هغوی ته چې په خپلو رنګينو دسترخوانو،او شتمني کې د هېواد بې وزله او يتيم له ياده نه باسي!**

**ډاکتر عبدالهادي حماس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپيڅلي رب پر خوږ او پاک نوم

ورکړه ،او شتمني د خدای ج لورينه او نعمت وي ،ځکه چې ددې شتمني په وزله انسان کولی شي ټولګټي کارونه تر سره کړي ،شتمن کس کولی شي د خپلې شتمني په برکت داسې بنسټونه کېږدي چې ډېرو خلکو ته يې خير ورسيږي او د ژوند چارې ورته اسانه کړي خو کله،کله دغه الهي نعمت سرچپه کېږي له انسانه خپل رب هيره وي ،او بلاخره د سترذات د نا فرماني لپاره ورته لاره هواروي ،انسان د بې ځايه غرور،ظلم ،او ګناهونو اړخ ته کشوي ،په پايله کې همدا شتمني د انسان د تباهي اولوی بربادي لامل ګرځي

شتمني نه انسان هغه وخت خوند اخيستی شي چې په هغه کې خير او ښيګڼه وي ،زکات او خيرات وي،د غريب او نادار برخه پکې مالومه وي

د عام المنفعه کارونو لپاره حصه پکې بيله شوې وي ،خو که شتمني له دې خير ښيګڼو کارونو سره نه وي نو همدغه شتمني د الهي نعمت پر ځای الهي غضب شي ،د ټولو بدمرغيو دروازه انسان ته له همدې ځايه پرانيستل شي

زموږ د ټولنې شتمنو ډيری برخه هغه تشکيلوي چې شتمنی يې له زړه راچارپيره وي نه يې خپله خوري او نه يې نورو ته ورکوي ،تر دې چې په خپل عيال يې هم په ډېرې سپما سره مصرفوي ،په حقيقت کې نوموړي د خپلې شتمني نه ګټه نشي اخيستی نه يې دغه شته په کوم ښمر ورځي بلکې خدای ج د خپلې شتمني ساتونکې مقرر کړي وي نه يې خپله خوري او نه يې خوار او غريب ته د هغوي د اړتياو بشپړولو لپاره په واک کې ورکوي،پايله يې بيا داشي چې ددې مال او دولت په ساتلو او ډيرولو کې پرې تمام عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر شي او بلاخره دی له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي خو ساتل شوي مال يې بيا داسې خلکو ته پاتې شي چې هغه پرې له خپلې عياشي او ساعت تيري بل څه نه کوي ،نه پرې جومات جوړوي او نه کوم پل چې د خلکو لپاره يو سهولت شي او ثواب يې په ده پسې ورسېږي،مراثيان يې يوازې په دې فکر کې وي چې څرنګه خوش ګذري وکړي او ځان دده په پاتې شويو پيسو خوشحاله وساتي ،د افسوس خبره خو لا دا شي چې حلالې او حرامې دده ورته راټولې کړې وي مزې او چړچې هغه پرې کوي اخېرت دده پرې خراب کړی وي او ميلې نور پرې کوي د ژوند تماشې او رنګينۍ پرې نور کوي خدای ج ته يې د حساب او کتاب مسول ځواب ويونکی بيا متوفي شي .

نو زما په نظر هوښيار سړی هغه نه دی چې پيسې جمه کړي ،له ده پاتې شي او نور پرې عياشي وکړي مسوليت او ګناوي يې په ده پسې وليکل شي بلکې هوښيار سړی هغه دی چې ګټل شوې پيسې د خپل عيال نفقه کړي او اضافي پيسو باندې د اسې کارونه وکړي چې هغه ټولګټې وي د صدقه جاريې په ډول يې په ده پسې ثوابونه ورسېږي او نه يوازې چې له دې کارونو يې نور مسلمانان ګټه واخلي بلکې دده د پاره هم د اخيرت لپاره يوه توښه او تل پاتې ثواب شي

زموږ د ټولنې يو بد کلتور دادی چې اول خو په موږ کې څوک د خير او صدقې د ورکړې خلک لږ تر سترګو کېږي هغه هم چې کله هم صدقه ورکوي نو مقابل اړخ د خپل احسان لاندې شماري او هغه اړ کوي چې بار بار له ده نه ددې ورکړې بدله واخلي که هغه نه وي نو په ډېری مجلسونو کې له هغه يادونه کوي چې پلانې سره ما دا نښه دې ياد وي چې دومره پيسې کمک وکړ،خو په اصل کې دا ناسم کلتور دی په حقيقت کې خو څوک چې چاسره کمک کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستونکی په ځای یې ورکونکی باید مدیون شي ځکه هغه ته د ورکړې په زریعه ده ته رب بدلې او عوضونه ورکوي د هغه له برکته صدقه ورکونکی له مسولیته خلاصېږي ،جنت کې ځان ته مقام پیدا کوي

دغه ناسم کلتور چې موږ یې لرو او خېرات اخیستونکی غواړو خپل مدیون وګڼو باید بدل شي او برعکس صدقه ورکونکی باید مننه وکړي

په موږ کې یو بل کلتور هم ډېر بد دی چې په کوم ګاونډ مسلمان ورور بده ورځ راشي نو موږ پرې خوشحالېږو د هغه له بدې ورځې خوند اخلو د تربور او سیال په اړیکه یې راپرځول خپل مسولیت بولو،حال داچې داسې نه ده په مسلمانه ټولنه کې ټول مسلمانان لکه وروڼه داسې دي د یوه مسلمان ستونزه په عوض ددې چې پرې خوشحاله شو باید د ستونزې په حل کې ورسره مرسته وکړو لکه د ځان داسې یې وبولو

د ځان ځاني ناسم کلتور باید سم کړو بل مسلمان غم او ستونزو ته باید یوازې پرینه ږدو

بلکې اوږه په اوږه ورسره لاس په کار شو که زموږ له وسې تېره وي هغه ته د نورو نه کمک وغواړو ،د سوال لاس ورته وغځو تر هغې یې بدرګه کړو تر څو چې له ستونزې راووځي

خپلې خبرې په دې راټولوم چې زموږ ټولنه خورا ډېره بې وزله ده ،د پنځه څلویښت کاله جنګ ښکار شوې ده غربت پکې خپل لوړ پوړ خپل کړی ولسونه مو په خورا بد حالت کې ژوند تېروي تاسې به یې زما د سترګو لیدلی حال زما په دې ناول کې ولولئ زما هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داده چې هر څوک په ځانګړي ډول چارواکي او مسولین دغه ناول ولوولي دوی به پوه شي چې مونږ په څه ډول غریبي ټولنې باندې حکمراني کوو او له دوی سره زمونږ بې پروایې به له دوی سره زمونږ څومره ستره جفا وي ،له دوی سره خیانت به څومره لوی ظلم وي ،ددې ناول په لوستو به دا هم ورته څرګنده شي چې مونږ ډک دسترخوانونه او هغه میلمستیاوې چې پاتې شوني یې هم څو بې وزله کورونه په نس مړوي ولې ډرام ته واچوو.

زمونږ ددې ناول له لیکلو ستر پیغام داده چې زمونږ هیواد دومره غریب دی چې په یوه دوه او لسو خیریه بنسټونو کار نه کېږي باید خپل ولس ته دا انګېزه ورکړو چې په هر کلي کې یو خیریه بنسټ جوړ شي ،کوم کس چې ولویږي باید نورو کې دا احساس ژوندی وي چې دغه کس راپورته کړي او د مرستې لاس ورکړي.

په پای کې د وتلې ، نامتو او هیواد پالې خبریالې رڼا درانې (غورځنګ )نه مننه کوم چې د ناول په اړه یې نیکې مشهوري راکړې اود ګران ورور محمد افضل زیار څخه ځانګړې مننه چې د کتاب ایډیټ یې د خپلو بوختیا ؤ باوجود بیا هم په روین تندي ومانه!

ورور مو ډاکتر عبدالهادي حماس

پکتیا

۱/۱۰/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسپنه

د پوهنتون درسي ساعتونه تمام شول ،خو د هغې په شیمه کې بدلون نه ؤ راغلی د وجود سهرنی ځواک یې لا هماغسې څپانده ؤ زده کړیاله شاکره له پوهنتون نه د کور په لور رهي شوه ،د هغې د جګو پوندو سنډولو ټکا له لرې اورېدل کېده ،د دنګې ځواني او چنار ونې په لیدو به یې د کوڅو د ډېرو ځوانانو اورمېږونه کاږه پاتې کېدل ،د هغې د ځواني جذبه او غرور له ګړندیو ګامونو او منظم تګ څخه له ورایه څرګندېده له لنډ مزل وروسته د خپل کور په دروازه دننه شوه ،کتابونه یې د خپلې کوټې د الماری په خوا کې مېز ته لږه کړل ،دست شوي ته ودریده پر غوښینو سپینولاسو یې اوبه را پرېښودې د لاسونود پوستکي تازه والی یې د اوبو پر پوښلو کې هم خپله ځلا ساتلې وه خپل ګرد سپوږمېز مخ ته یې د نازونو په ادا څو ګوټه اوبه واچولې غټې بادامي سترګې یې کلکې پټې کړې وې کجک ښو یې یو بل ته په نېږدې کېدو سره د هغې پر څهره کې ځانګړی انځور جوړکړی ؤ رڼو،رڼو څاڅکو یې پرمخ باندې خپل ځان ته لارې کولې،هغې هم د څاڅکو مزل لنډولو په خاطر خوا کې ځړیدلی سپین دوسمال رواخیست ورو ،ورو یې د مخ پردواړو خواوو راتېر کړ،بیا خپلې خونې ته ننوته ،د پوهنتون لباس یې بدل کړنوره په کوټه کې تم نه شوه ،په بیړه له کوټې راووته په اوچتو ګامونو یې د حویلی تر دروازې لار لنډوله ،چې بېرته بهر ووځي ،مور یې په حویلی کې کالي پریولل ،دې شاکرې د سنډولو ټکا یې تر غوږو شوه سر یې راپورته کړ سترګې یې پرې ولګېدې وارخطا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندې شوه ،په اندېښمن نظريې ورغږ کړ شاکرې زړگيه چېرې ځې ؟

غرمنی د تياره ده!

شاکرې د غږ له اوريدو سره سم په تاو کې مخ ور واړاو ،د پيکي نرم گوړگوتي ويښتان يې له رخسارونو تېر شول تر غوږو ورسېدل،په تروه تندې يې په مور کې سترگې ونيوې ويې وويل:

مورې بهر ځم ولې ته څه ستونزه لرې؟

هغې دمورتوب په مهربانه ژبه ځواب ورکړ، نه لورې څه ستونزه به ولرم؟!

ـ نو چې ستونزه نه لرې زه بهر تلی شم؟

ـ نه ته نشې تللی

ـ ايا داسې خو به نه وې چې زما په وړاندې د پولادو په څېر باور کې دې درز تر سترگو شوی وي او له پوهنتون پرته مې درته بل ځای تگ شکونه پيداکوي؟

مور يې د لگن له منځه د صابون پر ځک پوښل شوي لاسونه راپورته کړل سره ويې مروړل له ځايه راپورته شوه هغې ته يې وويل :

لورې دا څنگه خبرې دی چې ته يې کوې، دا څه وايې،خدای دې نه کړي

خو ډوډی تياره ده ستا د خوښې دوپيازه مې پخه کړې ده ،ځان موړ کړه بيا چې هر چيرې ځې مخه دې نه نيسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ موري له ډوډی هم بل اړین کار دی چې باید ترسره یې کړم .

ـ د څه کار لورې؟ اندېښمنه دې کړم په پوهنځي کې خو به دې چاسره کومه ستونزه نه وي پېدا شوې چا خو به درته په کمه سترګه نه وي کتلي ؟

ـ نه مورې، ماته څوک څه نه شي ویلی اونه څوک راته بد کتلی شي،کله هم چې د چا خپلو سترګو باسلو ته زړه وشي نو بیا به هغه وخت زما مخې ته د مزاحمت لپاره درېږي

ـ ګوره لورې !زه پوهېږم، ډېره اندیښمنه راته ښکارې کومه خبره خامخا شته ،څه دې بوتې له بېخه نه یې پنځه وروڼه لري

ـ نه، زما ستونزه زما وروڼو پورې اړه نه لري غواړم یو چاته د څو مهمو خبرو په کولو سره مې خپل زړه ارامه کړم،غواړم یو مغرور انسان خپلو تېروتنو ته متوجه کړم ،غواړم د خپل ضمیر یو مهم ماموریت سرته ورسوم .

د شاکرې مور نوره پوه شوه چې لور یې د تلو اراده کړې او د هغې په منتونو نه پاتې کېږي ،نو چپه خوله پاتې شوه ،شاکرې هم د هغې له چوپتیا مانا واخیسته چې په تلو یې اعتراض نه لري خو په تګ یې راضي هم نه ده ،ځکه خو یې په قهریدلو سترګو د دروازې کلفک ته لاس کړ ،دروازه یې خلاصه کړه او نوره بهر ووته

له شلو دقیقو مزل وروسته یوه دفتر ته ورسېده ، پرته له دې چې د دفتر دروازه وټکوي ور دننه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دفتر کې یې په دوه نارینه وو چې نږدې سره ناست ؤ سترګې ولګېدې یوه کس ته مخامخ یوه مېرمن ناسته وه هغې د نارینه خولې ته د مرکې لپاره مایک نیولی ؤ شاکره پرته له دې چې د چا په کیسه کې شي ویې پوښتل لطیف زړه سواند په تاسې کې څوک دی ؟

صومیاخبریالې مایک کېښود خپل مرکه کونکي ته یې ګوته ونیوله بیا یې شاکرې ته وکتل ویې ویل : لطیف زړه سواند همدا دی زه هم له لرې ورته د مرکې لپاره راغلې یم

شاکرې خبره ورغوځه کړه که ستاسې مرکه خلاصه شوې وي زه غواړم له دې زړه سواند سره څو خبرې وکړم خبریالې صومیا خپل مایک ته وکتل بیا یې وویل موږ مرکه اوس پیل کړې زما مرکه اوږده ده،وخت نیسي، تاسې مهرباني وکړئ خبرې کولی شئ ،که خبرې مو ځانګړې وي موږ به بهر ووځو

د شاکرې تڼده تروه شوه، په صومیا کې یې سترګې ونیوې بیا یې ورته کړه زه د چا سره ځانګړې خبرې نه لرم ستاسې په مخ کې دې زړه سواند ته څو نصیحتونه کوم زړه سواند هم د شاکرې خبرو بګراوه کړ په اندیښمن نظر یې شاکرې ته وکتل ځان سره په فکر کې ډوب شو چې دا نابلده مېرمن ماته څه وایې ،هغې ته یې وویل مهرباني وکړئ،زه یې اورم!

- زما خبرې ترخې دي خو یو وخت به دې په کار راشي
- مهرباني وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لومړي خو دا تخلص له ځانه لري کړه! زموږ په هېواد کې خلک تخلصونه یوازې د نورو د غولولو لپاره ږدي ،ماته مالومه شوه چې ستا روان دې بسپنې کارونه په غریبانو باندې له ملنډو وهلو پرته بل هېڅ مفهوم نه لري تاسې څنګه د خپل شهرت وږي یاست او د ځان پېژندنې لپاره له یوې پاکې لارې ،ناسمه ګټنه کوئ؟هغې غتې ،غتې سترګې وځمبولې بیا یې دچپ لاس نرۍ ،نرۍ قلمي څلور ګوتې راټولې کړې د اشارې ګوته یې زړه سواند ته ونیوله خبرو ته یې دوام وکړ!
- ګوره زړه سواند صیب د شهرت لپاره نورې لارې هم شته ،هغه وټاکئ خو د بې وزلو له نومه ناسمه ګټه اخیستنه او د هغوی د حیثیت سره لوبې انسانیت نه مني او زه هم د دې سیمې د یوې مدني فعالې په صفت تاسې داسې خودسرو کړنو ته نه پرېږدم ،که د له دې کارونو لاس وانه خیست نو پوهېږې چې زه دې د سیوري په ډول څارم هر کله اوهرې خوا ته چې مخ اړوې نو ما به پر وړاندې ګورې؟
- شاکره په قهر جنه څهره له دفتره ووته
- خبریالې صومیا زړه سواند ته مخ راواړاوه، ویې ویل:

زه خو ددې جلی د خبرو په مطلب پوه نه شوم ،دا نجلۍ خو ډېره بد تمیزه وه؟ ،هېڅ د خبرو کولو اداب یې نه و زده ،کم ترکمه خو باید د تعلیم سره انسان اخلاق هم ولري

،زړه سواند موسکی شوخبریالې ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خورکۍ ملامته نده ،هغه گرمه مه گڼئ د هغې اندېښنې پر ځای دي زموږ په ملک کې ځینو خلکو داسې کړنې وکړې چې د ولسونو باور ته یې لویه ظربه ورکړه هغه یې مات کړل پایله یې دا شوه چې اوس که یو څوک سم کار کوي هم نور پرې ناسم فکر کوي صومیا خبریالې د زړه سواند خبره پرې کړه ، ویې ویل:

داسې نه ده زړه سواند صیب د هرچا دید گاه توپیر کوي ،ځینې نیوکې د اصلاح لپاره نه وي ،د یو کس د نیکو احساساتو د ځپلو لپاره وي ،د یو چا د ځواک د ختمولو لپاره وي ،ځینې په نیوکو سره غواړي یو څوک د مزل له کاروانه راپاتې کړي ،ځینې خلک خپله هم څه نشي کولی او نور هم کارته نه پرېږدي ،ستاسې قدرله موږ سره دی ستاسې کړنې موږ گورو ،تاسې دلته د بې سرپرسته یتیمو کورنیو د سر سیوری یاست موږ پوهېږو چې ستاسې په زړه کې د خپلو غریبو خلکو لپاره څومره مینه پرته ده څومره زړه سوی پروت دی،موږ د دې لیدو او مرکې کولو لپاره هیله درلوده له لرې ځایه راغلو خو دلته د نور وگړي رټې،احساسات مو ځپي،پر کړنو مو پښیمانه کوي،د بې چاره ولس لپاره دې په زړه کې دترحم جذبه وژني اخر ولې خلک داسې کوي؟

د لطیف په سترگو کې اوښکې ډنډ شوې غوښتل یې څه ووایې خو خبریالې صومیا خبرو ته پرینه ښود لطیف ته یې وویل:

ستا له اوښکو سره ماته د منصور خبره رایادېږي هغه چې کله د وخت قاضي دار ته خېجاؤ ،نود دار پر لاره ځینو راټولو شویوکسانو په تیږو وویشت منصور هغوی ته وخندل ،یو شمیریې بیا په لاسو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورته گلان نیولي ؤ کله چې منصور دې هغوی له مخې تېرېده نو هغوی په گلانو وویشت منصور هغوی ته وژړل**

**دې دار پر وخت پوښتنه ترې وشوه چې ای منصوره د طبیعت خلاف کار دې وکړ،هغوی چې په تیږو وویشتې ورته ودې خندل،او سرچپه هغوی چې په گلانو وویشتې هغوی ته دې وژړل منصور ځواب ورکړ چا چې په کاڼو ویشتم هغه زما په حقیقت نه پوهېدل ددوی په ناپوهي پورې مې خندل او هغوی چې زه یې پر گلانو ویشتم زما ریښتینولي یې درک کړې وه زما د حقیقت په راز پوه ؤ نو له خوښي ژړا راغله**

**لطیف زړه سواند یې په خبره کې ورولویده خبریالې صومیا ته یې وویل:**

**ستاسې دغه بیلگه زموږ له پیښې سره څه تړاو لري؟**

**- هو لري یې لږ نه ډیره یې لري**

**- هیله کوم زموږ گناهگارو کړنې د منصور سره مه پرتله کوه**

**منصور خو ځان په حقه ثابت کړ، خپل حقانیت یې څرگند کړ،زموږ ریښتینولي خو لا مالومه نده چې خدای ج ته به د منلو وي او کنه؟**

**- تاسې په حقیقت یوازې زه پوهیږم**

**ستاسې زړه سوی یوازې زه درک کوم،ستاسې په سینه کې چې څومره د مهرباني او ترحم کومه جذبه ده هغه یوازې زه احساسوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسپنه/ ۱۵**

**زه ډاډې درکوم چې الله ج د حق پلوی دی ،هغه د خپل بنده رېښتونی کار نه پټوي،د خپل بنده رېښتونې سعې نه ضایع کوي ،یوه ورځ به تاسې هم خدای ج خلکو ته ثابت کړي،ستاسې خواخوږي او ښه نیت به څرګند کړي،ستاسې حقانیت به خپلو بندګانو ته ور وښیي**

**ـ رب دهمداسې راسره وکړي، چې ته ګمان کوې ،خو زه انسان یم نیمګړی یم زما کړنې به هم له نیمګړتیا ۀ خالي نه وي ،هغه ډول به نه وي چې د رب درګا ته ښایې خو دعا کوم چې زما زړه د هغه په لاس کې دی ،زما کمزوري،زما نیمګړتیاوې د رب راسمې کړي،زما په کارونو کې دې الله داسې سوچه والی راولي چې ده لوی ذات ته د قبلیدو وړ وګرځي**

**زه په دې ډاډه یم چې نړی رب په خپله کنترولوي،هغه د نړۍ دکنترول لپاره هیڅ چاته اړتیا نه لري،بس کله،کله یوازې خپل بنده ورته د ازمایښت له مخې وسیله کوي،د ځینو زړه ته ګوري چې څومره سوترګي پکې دی ،څومره د الله ج لپاره د رضا هیله پکې نغښتې ده،انسان باید په امکاناتو غره نشي او نه دې امکاناتو په نشتون ناهیلی شي ،دا نړۍ د الله ج دی ، دنړۍ امکانات او د خلکو زړونه هم د الله ج په لاس کې دي،بس دغه امکانات د هغه بنده په لاس ورکوي چې زړه یې د الله ج د رضا لپاره تپیږي،په کړنو کې دالله رضا لټوي ،ځانځاني یې پکې موخه نه وي**

**ـ تاسې دنن زمانې اتل یاست،ماته ستا له خبرو مالومیږي چې تاسې د دومره لویو کارو سره،سره چې تر سره کړي مودي،بیا هم شکسته نفسي کوئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانځاني نړۍ کې چې هرڅوک پکې یوازې او یوازې د ځان غم خوري،خو برعکس تاسې د نورو په اړه فکر کوئ ،د نورو د ښېګڼو لپاره هڅه کوئ، په دې مصروف عصر کې د نورو ښېرازي ته وخت ورکوئ پرته له د چې دې لاس تشو او بیچاره ګانو ته کومه تمه ولرئ ، خپل قیمتي وخت د دوی د اړتیاؤ بشپړولو لپاره وقف کوئ،دا کار عادي ندی او نه دا کار هرڅوک شي کولی ، داسې خدمت الله ج له هغه چا څخه اخلي چې دالله ج خوښ وي او ددغه لوی کار ځواک پکې ویني.

ته پوهیږې !

د هغو خلکو لپاره چې له خدای ج پرته بل څوک نلري تاسې ورته د سر سیوری یاست ،تاسې د یو بې ریا انسان په جامه کې د بې وزلو او لاچارو لپاره دې خدای ج رالیږل شوی د تحفظ سرپنا یاست

زه دې تر بل هر چا ډېرښه احساسوم ما دې کړنې قدم په قدم څارلې دي ،لکه دې سیوري په ډول مې ستا هر کار له نظره تېر کړی دی ،په لومړي سر کې ما سره هم ځینې پوښتنې وې ستا په کارونو به شکونه راته پېداکېدل، خو ستا د اخلاص له امله ورو،ورو خپله حل کېدل ،خلک اوس هم لس ګونه تورونه درباندې لګوي ،څوک دې د شهرت وږی بولي ،څوک دې ریاکار او ځان غوښتونکی بولي ،څوک درته سوی اوسپورې وایې ،ښکنځې مو ،خو تاسې لکه غر دومره همت لرئ خپله سینه مو پراخه کړې ده د چا نیوکو درباندې اغېز ونه کړ،چاته مو موقع ورنه کړه چې له دې سپیڅلې لارې مو راوګرځوي ،د هیڅ چا په کیسه کې نه شوی خپلې مبارزې ته مو دوام ورکړ ،خپل پاک جذبات دې خپانده وساتل، دچا نامناسبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوناسمو نیوکو ټکني نه شوی کړای ،خپلې خوشحالیانې دې له غریبو قربان کړې خپل د تفریح وخت دې د دوی بسپنې راټولولو ته ورکړ،د دوی لپاره مو هره درګاه وټکوله،ځینو د سوال کچکول کې څه درواچول ،خوځینو تش لاسی ناهیلی له دروازو رارخصت کړئ او لا هم دا لړۍ روانه ده دوی ته مو د یوې ګولې ډوډۍ د پیدا کولو لپاره کومه قرباني ورنه کړه ،زه دې شاهده یم چې ، ډېرو دکړنې تمسخر کړې ،ډېرو ورټلی، ډېرو د غریب په نوم دپسپنې راټولولو نه د شخصي استفادي کولو تور داغ درباندې ولګاوه خو تاسې دا ټول په سړه سینه وزغمل د غریب، د یتیم د ګېډې مړولو لپاره دې دا هرڅه وزغمل تاته ځان مهم نه ؤ د خپل حیثېت په کیسه کې نه واست یوازې اویوازې مو یوه موخه په نظر کې لرله هغه د بې وزلو غم خوړل ؤ هغوی ته دې یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړه ،هغو ته دې سرپنا پیدا کړه ،دوی د زده کړو ته ولېږل او تر ټولو لوی کار دا چې ،بې سرپرسته یتیم ته دې د پلارتوب د نه شتون احساس ورنه کړ.

لطیف د خبریالې صومیا خبرو له ځان سره واخیست خپل ځان سره په خبرو شو:

لکه چې خوب وینم دا نجلۍ خو لکه زما له زړه چې خبره وي ،دا څرنګه ما درک کوي،دې نړۍ کې خو د درک قوه ډېره کمه ده، دې مېرمنې څرنګه زما احساسات لوستلي دي اوزما د ژوند د هڅو په ریښتوني مانا پوهیږي؟

خو لنډ مهال وروسته یې بیرته خپله خبره واخیسته له ځان سره یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا میرمن ما توهینوي،دلته ما څوک نشي درک کولی دلته مثبت فکر ته ځای نشته ،د منفي سوچونو پریماني ده

په خبریاله صومیا کې یې سترګې ونیوې ورته ویې ویل تاسې هم د نورو په څېر زما په کړنو پورې ملنډې وهئ، خاندئ ،زما کارونه مسخره کوئ ما نه پرېږدی چې د بهیر ته دوام ورکړم او د بې سرپرسته یتیمو کورنیو لاس نیوی وکړم د هغو د وګو نسونو دمړولو لپاره هڅه او هاند وکړم د هغوی ژړاوې ارامې کړم، د هغو اوښکې پاکې کړم ،هغوی چې د هېواد اوږدې جګړې ترې د پلار شتون اومینه اخیستې ،هغوی ته مینه ورکړم ،ته ولې داسې کوې؟

صومیا وویل:

نه زړه سواند صیب زه به هېڅ کله هم داسې ګناه ونه کړم چې تاغوندې د ټولنې یو غمخور مسخره کړم ،د هغوی کارونه توهین کړم د هغوی له پاکو احساساتو سره لوبې وکړم ،ماته ستاسې سپېڅلتیا لکه لمر داسې ثابته ده ،ستاسې خواخوږي چې د لاچارو او بې وزلو لپاره یې لرې هغه بې سارې ده ،ستاسې د زړه سوي قوه دومره ځواکمنه ده چې ډېری زړونه یې په منګولو کې نیولي او تسخیر کړي دي ،ستاسې د ریښتینولي له تثبیت سره سره چې بیا هم خلک بدګماني کوي ،دا په اصل کې د هغوی نیمګړتیا ده ، د هغوی کمزوري ده ،یا هم د هغوی بخل دی چې په شعوري ډول سوځي،تاسې په دومره لوی موقف کې نشي لیدلی ،ستاسې دومره لوی مقام چې په ټولنه کې یې لرې هغه نشي زغملی، دروني اور اخلي او د خپلې سوځېدا څرګندونې په دې ډول ترې ښکاره کېږي چې ستاسې دکړنو مزاحمت وکړي،جذبات مو راکم کړي ،د ولس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړونو کې ځای درنه واخلي هغه پوهېږي چې خپله دې مقام ته نشی رسېدلی ،او تا هم په دومره لوړ ځای کې نشي ليدلی،نو ځکه د بخل په اظهارولو سره تاسې ته مزاحمت کوي .

خو ته يې بايد پروا ونه کړې ،ځکه چې ستاچټک پرمختګ پرې ټکنی کېږي،ستاسې ځپانده بهيرچې هره ورځ د لسګونو بې وزلولاسنيوی کوئ،د هغو ځپي موجونه ورو کېږي

لطيف زړه سواند يې په خبره مسکی شو،صوميا خبريالې ته يې وويل:

نه ،زه دومره کمزوری نه يم چې په داسې وړو مزاحمتونو به غوږ وګروم او له کبله يې د خپل مزل تېز اس قيزې ته د ودريدو لپاره فشار ورکړم ،زما په وجود کې د خپلو غريبو ولسونو لپاره دومره مينه نغښتې ده چې داسې کوچني خنډونه د هغو د ځپانده موجونو د حرکت مخنيوی نشي کولی

صوميا يې خبره ور پرې کړه ورته يې کړه:

پوهيږم ،ځکه خو له دومره لرې درپسې راغلې يم چې ستاسې د دې سپيڅلې مبارزې په اړه چې پيل کړې مو ده مرکه وکړم ،تر څو د هيواد خلک ستاسې له کړنو الهام واخلي ،د تاسې په څېرد خير جوړشوي بنسټونه ډېر شي د غريبو خلکو د لاس نيوي کلتور زيات کړل شي،او بلاخره د فقر ټغر له دې هېواده ټول شي.

نو اوس که ته چمتو يې زه مايک راخلم او ستاسې د مبارزې په هکله مرکه پيلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**_سمه ده زه چمتویم**

**ـ صومیا مائک راواخیست او د لطیف زړه سواند مخې ته یې ونیو**

**ترې ویې پوښتل :ستاسې ددې سپېڅلې مبارزې پیل له کوم ځایه ؤ**

**لطیف ورته وویل:**

**زما کیسه اوږده ده لاس به د شل شي ماته یې راکړه زه به مائک خپله ونیسم**

**صومیا :نه زه ستا له خبرو خوند اخلم ،ډاډه یم ما او زما لاس ته به ستا کړنې دومره انرژي ورکړي چې د ستړیا احساس به ونه کړم**

**لطیف یې خبره ومنله نور ټینګار یې ونه کړ**

**په خپلو خبرو یې پیل وکړ:**

**د روژې مبارکې شلم مازدیګر ؤ،د ورځې کار ستړی کړی وم ،خو خفه ځکه نه وم چې د ورځني کار چارې مې بشپړې کړې وې، د دفتر رخصتي ته هم کم وخت پاتې ؤ د ځان بوختیا لپاره مې فسبوک خلاص کړ د یوه ملګري پر پوسټ مې نظر ولګېده لیکلي یې ؤ دلته د لوړپوړیزو ودانیو په یو څنډه کې یوه کورنۍ ده د سړک په خوا کې یې پریوه میدان اړولي دي ،داسې ښکاري چې دغه کورنۍ خورا بې وزله ده ، غربت دومره ځپلې چې سرپنا هم نلري ،د سړک غاړې په وچ ډاګ یې اړولي ،دوی دومره زاړه ټوکران هم نلري چې له ناست ځایه یې را تاو او تورسرې د پردیو له سترګو پنا کړي د سړک غاړې لارویان یې یوازې د مېرمنو او ماشومانو نندارہ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي ،خو د دوی په سینو کې د غوښې زړه نشته چې پرې ورحمېږي د حال پوښتنه یې وکړي درد یې حس او غږ یې واوري

د ورور ددې پوست له لوستو سره مې ددې کورنۍ د ژوند تېوله منظره د خیال په نړۍ کې له سترګو تېره شوه ، زړه مې درد وکړ له ځان سره مې وویل:

راځه ته هم ورشه ویې ګوره بې کوره مسافر دي که نور څه نه شې کولی لږ تر لږه د مسلمانې ورورګلوي له مخې یې د حال پوښتنه وکړه او دا حق یې ادا کړه چې ستونزه یې څه ده ،له خپلو نورومسلمانو وروڼو څه غواړي ،د زړه بړاس یې واوره چې له دې ځان غوښتونکې نړۍ څخه د څه شي تمه لري؟ د دوی بد حالت مې د ورځني کار ستړیا نوره هم زیاته کړه، یوازې کمنټ کې مې ولیکل ددې خلکو ادرس دقیق راکړئ ساعت ته مې وکتل رسمیات موهم ختم شول ،ددې بې چاره کورنۍ په لټه کې شوم ،له څه مزل وروسته مې ځای وموند په یوبې سرپنا ځای کې مې په مېرمنو،پېغلو او ماشومانو سترګې ولګېدې،ساعت ته مې وکتل د ماښام اذان او روژه ماتي ته لس دقیقې پاتې وې کورنۍ ته ورنږدې شوم هره مېرمن لکه له بلې چې مروره وي ګوښه ،ګوښه مخ پټې ناستې وې په څهرو کې یې مایوسي دومره حس کېده لکه چې په دنړۍ کې څوک نه لري لکه دې ټولې نړۍ ګناهګاره مجریم چې د خپلې ګناه له کبله چپ ناست وي، دوی هم له خولې غږ نه وت ماشومان یې هم داسې سپېره له دوړو ډک مخونه ولاړ ؤ ته وا مخ یې یوازې او یوازې د ګردونو د راښکلو دنده لري د هر یوه زړو جامو له ورایه ددوی دمظلومیت او بېچارګي کیسه کوله په یوه زړه مورکۍ باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې سترګې ولګېدې لومړي مې فکر وکړ چې په ځمکه ناسته ده خو وروسته مې پام شوچې په يوه درۍ (سترنجي)ناسته ده خو درۍ دومره زړه شوې وه چې له ځمکې سره يې د زړوالي له مخې توپير نه کېده غږ مې پرې وکړموړکۍ کېدای شي لږ زما خواته راشې؟

راويې کتل، وويرېده ،روحيات يې وبايلل ،له غيرموزونو حرکاتو يې وارخطايې له ورايه ښکارېده ،ما فکر وکړ چې کېدای شي دا موړکۍ د انسان په نوم کوم وحشي ويرولې وي پر ټپونو يې مالګې وردوړولې وي ، درد يې ورکړی وي ،اوس له ټولو انسانانو ويره او کرکه لري له انسانانوکومه تمه او هيله نه لري چې د ستونزې په حل کې دې ورسره کمک شي او يا د هم ورسره خواخوږي وکړي له ځان سره مې وويل د موړکۍ ويره عادي مه ګڼه دا کورنۍ شايد د نن زماني د ځينې انسانانو له وحشي کړنو دلته راکډه شوي وي ، شايد ددوی له غربته يې ناسمه ګټه پورته کړې وي ،د خپلې بې وزلي پيغور يې ورکړی وي يا يې هم د خپلو مزاياؤ لپاره د غربت له خوږ ګوتې نيولي وي ځکه ماته هم د کرکې په سترګه ګوي نو ځانګړی خيال يې په کار دی د موړکۍ دوه زړي او له ما د ويرې له کبله دوهم ځل لپاره اړ شوم غږپرې وکړم

- موړکۍ دلته راشئ

دهغې زړه زما پر لوري راتګ نه غوښتل ،خو نه پوهېږم څو زړونه به يې سوه يو کړي وي ،بلاخره له دوهم غږ سره زما په لور راروانه شوه پر نيمه پټ شوی مخ يې خپل پړوني نور هم راکش کړ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ رالودلي پړوني يې د سرښت له امله څو سوري درلودل هغه په داسې حال کې رانېږدې شوه چې ښکته يې کتل راته يې کړه :

-وروره خيرت دی؟

-مورې مه ډارېږه ، د ډار کومه خبره نه ده زه يوازې ددې لپاره راغلی يم چې دحال پوښتنه مووکړم

- خدای ج د خير درکړي ،لږ مخکې دلته يو پولس راغلی و موږ ته يې ويل دلته مه اړوئ دلته ميشت کېدل غير قانوني دی ،مال که تاسې هم  پوليس يې او زموږ دلته اوسېدل له حکومتي قانونه سرغړونه  بولئ  او نه غواړې چې د خدای ج په دې ځمکه ژوند وکړو،ځکه ويرې واخيستم ،له ځان سره مې ويل اوس به بيا چيرې کډه کوو

ـ  نه ،مورې زه کوم پوليس نه يم تاسې غوندې يو عادي انسان يم ،غواړم پوه شم چې تاسې ولې د سړک په غاړه اړولي ، تاسې ولې لکه يوه له بله مرورې ناستې ياست ولې د خوړو تياری نه کوئ، روژه ماتي ته خو لس دقيقې پاتې دي  ؟ايا تاسې دخوړو تياری نيولی؟

ــ نه وروره

ــ ولې؟

ــ څوک چې څه ولري نو پاخه يې کړي ،موږ خواران خو د پخولو لپاره څه نه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ له دې خبرې سره مې ټکان وخوړ،بې واکه مې يو سوړ اسويلی له خولې ووت

په يوه لنډ فکر کې ډوب شوم له ځان سره په خبروبوخت شوم ومې ويل اه ژونده څه کانې کوې په دې يويشمه پېړۍ کې د نورې نړۍ خلک هوس کوي چې کوم شی خپل اشپز ته پرمايش ورکړي چې پوخ يې کړي اودوی خوند ترې واخلي په ټاکنه کې يې د شمېر د ډېروالي له امله حيران وي او موړ وګوره د خوراک لپاره دومره څه نلرو چې پاخه يې کړو.

وروسته مې ځان ته ددوی دبې وسي ژوند په ځای کې ځای ورکړ،فکر مې وکړ که زما داسې حال وای پرما به څه تېريدل ،که زما مور،خور،ميرمن او ماشومان داسې په وچ ډاګ پراته وای اولاريانو يې سېل کولی ، دومره غربت پرې حاکم وای چې د خوړو لپاره يې څه نه درلودی او ما په بې وسه سترګو ليدلی نو په ما به څه تېريدل ؟

بې واکه مې د دوی په حال له سترګو اوښکې پېل شوې،مخ مې بل طرف ته واړاؤ چې بې وزله مورکی زما اوښکې ونه ګوري،او ځان له دې هم زيات بې وسه احساس نه کړي

په لاس کې مې څه خورما او د خوراک توکي ؤ مورکۍ ته مې ورکړل،خو دا د دوی دکورنۍ له اړتيا ډېر لږ ؤ ځکه مافکر نه کاؤ چې دوی به د نن روژه ماتي لپاره دومره څه نه لري، چې روژه پرې ماته کړي،له دوی مې رخصت واخيست ،نور د خپل کور په لوري روان شوم اوښکې مې دومره زياتې وې چې څو ځله مې د موټر دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلف د خلاصولو هڅه وکړه خو د اوښکو ډېروالي به مې نظرتت کړ د کلف سوری نه راته برېښېده اخر مې سترګې پاکې کړې او کیلي مې قلف ته سمه شوه دموتر درازه مې خلاصه کړه د کور په لور مې حرکت وکړما ښام اذانونه شوی ؤ کورنی مې زما په انتظار اندېښمنه وه فکر یې کاؤ چې لطیف خو له اذان نه مخکې کورته رارسېده ولې ناوخته شوی،له همدې امله په ډېره اندېښنه کې ؤ؟

کورته ورسېدم چې د ننه شوم ومې کتل چې ټولو زما د راتګ لپاره په اندیښمن انتظار لارې څارلې،دوی غوښتل د خپلې اندېښنې غوصه راباندې سره کړې او د وختي نه راتلو پوښتنې رانه وکړي خو چې زه یې ولېدم زما ناسم وضعیت یې ولېده زما د سترګو اوښکې یې ولېدې چې نه تم کېدې دوی نور هم وراخطاشول فکر یې وکړ حتما کومه لویه پېښه شوې ده چې د لطیف داسې موډ خراب دی مور مې رامخې ته شوه ویې ویل:

ـ زویه څه شوي؟ څوک مړه د ي؟

ـ نه !

ـ نوولې!

ــ هسې!

ـ زویه زړه مې مه دروه ،ژر ووایه څه پېښه شوې؟

ـ مورې هېڅ هم ندي شوي

ـ نوولې داسې حالت لرې،پخوا ولې داسې نه وې څوک مړه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه

ـ نوولې؟

ـ مورې قسم کوم کومه دې تشويش ور خبره نه ده ؟

ـ خو ستا حالت ته په تشويش کې يم ؟ته دې معمول خلاف په بد وضعيت کې يې د پرون ماښام په څېر،خوش قواره نه يې هغسې نازونه نه کوې د پخوا خلاف انساني غرور د مات شوی ،خوښي دې له څهرې الوتې،مسکا دې له خولې کډه کړې،سترګې دې لمدې دي اوفصيحه ژبه دې ګونګی شوې.

ــ مور مې په غېږ کې ونيوله سلګی مې نورې هم زياتې شوې هغې ته مې وويل :زما نازولې مورې نن مې په يوه بد حالت کې تصور کړې ،خواره وې غريبه وې،خپل ورې عيال او ماشومان درنه راچاپېره ؤ هغوی ورې ؤ،ډوډی يې درنه غوښته خو ته بې وسه وې تا په لاس کې څه نه درلودل ، د هغوی لوږه دې هم نشو زغملی ، د لوږې له لاسه دې د هغوی چغې او ژړاګانې هم نشوې تحمل کولی .

ددې خبرو له اوريدو وروسته مې مور ټکنی شوه وارخطا، وارخطا يې کله په ما او لکه د کور دنورو غړو په مخونو کې سترګې ونيوې هغوی ته يې وويل:

زوی ته مې چا څه شی ور کړي دي ،عصابويې کار پرېښی، په خود کې نه دی،اضافي خبرې کوي هلی ژر شی لاس په کار شی تر روغتونه يې ورسوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور مې په بېړه له ځایه پورته شوه چې ژر روغتون ته زما د وړولو د کار تیاری ونیسي قدم یې لا نه ؤ اخیستی چې له لاسه مې ونیوله ورته مې کړه مورې زه روغ یم د وارخطایي کومه خبره نه ده ،تاسې یوځل روږه ماته کړئ بیا ټوله کیسه درته کوم**

**هغه رینه کی شوه په ځیر،ځیر یې زما مخ ته وکتل ویې ویل: ته رینتیا روغ یې؟**

**ـ هو**

**ـ نو ولې داسې نا اشنا خبرې کوې؟**

**ـ ټوله کیسه درته کوم خو یو ځل روژه ماته کړئ، گنا لري**

**ـ ولې تا روژه نه ده نیولې؟ ته روژه نه ماتوې؟**

**ـ نه**

**ـ ولې؟**

**ـ هلته مې دغریبانو یوه کورنۍ په لاره کې ولیده ،په وچ ډاگ پراته ؤ دومره څه نلري چې روژه پرې ماته کړي په لوښي کې څه واچوئ چې ور یې وړم زه تر هغه روژه نه ماتوم چې لومړی مې هغوی په روژه ماتي نه وي لیدلي ،زه هسې هم وږی نه یم.**

**ـ زویه له زړه سوی دې جارشمه ،خو مخکې به دې داخبره کړې وه له موږ خو دې زړه وکېښ .**

**ـ مورې ددغو خلکو په لیدو عصبي شاک ته لاړم د ویلو حس یې رانه اخیستی ؤ ژبې مې سم کار نه کاوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څو لحظې مې فکر وکړ که زما مور داسې بې وسه شي اوداسې بې سرپنا په وچ ډاک يې شپه شي زموږ د مېرمنو سيل دلارې خلک کوي ، زموږ د خواخوږي پر ځای د موږ دبې چارګي نندراه کوي نو په موږ به څه تېرېږي**

**مورې !**

**دوی هم زموږ د مسلمانې ورور ګلوي په اړيکه له موږ سره شريک دي زموږ کورنۍ بلل کېږي په موږ فرض دی چې درد يې خپل درد وبولو ،ستونزه يې خپله ستونزه وبولو د ماشومانو لوږه يې خپله لوږه وبولو ،او لاسنيوی يې وکړو**

**ـ هو زويه ته ريښتيا وايې ،که داسې ونه کړو نو بيا خو تش په نوم مسلماني شوه ،هسې رواجي مسلماني چې د خواخوږي رنګ پکې نه وي هيڅ مانا نه لري ،موږ هم روژه نه ماتو،ته راشه دا تيار روژه ماتی له دسترخوانه درته ټولوم ، دوی ته يې وروړه دوی دې وخوري ،کور کې سبزي هرڅه شته ،ستا تر راتګه به موږ بل دسترخوان تيارکړو**

**له دې خبرې سره مې مور به غېږ کې ونيوله ورته مې کړه مورې ما هم ستاله غېږې تربيه اخيستې،ستا روزنه مې په وينه کې څپې وهي ،ته له ما ډېره زړه سوانده يې**

**ژر، ژر مې د خپلې کورنۍ د روژه ماتي د دستر خوان او لوښي راټول کړل مورمې هم راسره په پتنوسونو کې کېښودل پلار مې د کوټې په کونج کې په جای نماز ناست ؤ د جای نماز پيڅه يې قات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړه په ما يې غږ وکړ زويه زما برخه پرېږده زه وږی يم مور مې د هغه خبره ورغوځه کړه ماته يې ويل :**

**زويه تر موږ هغه نور ډېره وږي دي يو لوښی هم پرينه ږدې ټول يوسه،پلار مې مسکی شو،خو نه پوهېږم چې خوله يې ولې ښکم شوه چپ پاتې شو،د مور په وړاندې يې هيڅ هم ونه ويل**

**زه لاړم د اذان نه نيم ساعت تېر شوی ؤ چې د بې وزله کورنۍ مخې ته ودريدم د کورنۍ مشر سپين ږيری او نورو روژتيانو په وچه ډوډي د روژه ماتي شخوند واهه**

**ورته مې کړه وچه ډوډی مو له کومه کړه ؟او تاسې وچه ډوډی مه خورئ ما هر څه راوړي**

**سپين ږيري وويل دلته يوه مکتبی جنی وه په لاره تېريده ويې ليدل چې موږ د اذان پروخت له خوړلو پرته ناست يو،هغه له لارې راتاؤ شوه زموږ په حالت يې ډېر وژول بيا يې جيب ته لاس کړ،څو روفگۍ ورسره وې رايې کړې ويل يې،زما کور ډير لرې دی ،که نه کتغ به مې درته راوړی ؤ وروڼه مې واړه دي هغه يې هم نشي راړوی،په دې روپيو خو به وچه ډوډی وشي ژر يې درته له نانوايې راوځغلوه ،په هغو روفيو مې ډوډی راوړه روژه مو اوس ماته کړه دومره څه پېدا شول ،چې گذاره پرې وشي ،تاسې هسې تکليف وويست،ولې مو ځان په زحمت کړ،ما ورته کړه کاکا جانه!**

**د څه تکليف ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېله کوم داسې مه وايه تاسې مسافر ياست پرمورږ ډېر حق لرئ هغه ته د تسلي ورکولو تر څنګ د دسترخوان په غوړولو لګيا شوم له دوی سره د مکتبی جلی د مرستې په اړه هيله من شوم

له ځان سره مې وويل شکر چې دلته خو خواخوږي شته لا ضمېرونه نه دي مړه ، د داسې خلکو کمی هم نشته چې د نورو خلکو د ژوند بسياينې لپاره يې زړه تپيږي ،

ترې ومې پوښتل دا نجلۍ څوک وه؟

له کومه راغله ؟

راته يې کړه جلی ويل چې زه ښکلا نومېږم ،ويلې سبق وايم ،جيب ته يې لاس کړ ټولې پيسې يې راوباسلې ويل يې اوس دغه پيسې لرم ، سبا به پوهنتون کې درته بسپنه ټولوم .

ـ ځان سره مې وويل زړه سوانده ځان ته غره نشې تر تا جلی هم ښه ده ددې خير په کار کې درڅخه مخکې شوه ،ما ورته يو وخت ډوډۍ راوړه او هغې خپل ټول شته ورکړی دي

دسترخوان وغوړيده او د کورسپين ږيری، نارينه ماشومان او تورسرې له دسترخوان راچارپېره شول نور ترې روان شوم

په تلو تلو کې مې د سترګو له کونجه ورته راکتل د وړو، وړو ماشومانو او دې ژوند له هره نعمته بې برخې روژتيانوپه ډوډۍ شخوند کتو بلا خوند کاۀه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره لذت مې اخیست چې ډاډه وم ددغې ډوډۍ په خوړلو کې به  مې نه ۀ حس کړی ډوډې دوی خوړه او د مړښت احساس ما کاؤه،نندارې یې تلل راته ستم کړل ،ځکه خو مې ورو، ورو قدمونه اخیستل،له دې ځایه مې زړه نه کېده ځکه دلته سکون ۀ د ارامښت فضا وه ،خوند ۀ هغه خوند چې یوازې زه یې حس کولی شم د ویلو الفاظ یې نه ونیم

چې هغه ډاډ او سکون بیان کړي دلته مې د خوند تر څنگ یوه درس هم واخیست او راته ثابته شوه چې د نورو لاسنیوی عادي کارندی ،د وږو مړول یوازې د وږو سره مرسته نه بلکې د ځان لپاره د ډاډ او خوښیو ډک ماحول جوړول هم دي ،د سرگردانیو او نارامه ژوند نه پنا ده ،د سکون او پېرزوینو ډالۍ دی چې د مرسته کونکي په نصیب کېږي

له لنډ مزل وروسته کورته راورسېدم د پلار جگ غږ مې واوریده!

ویې ویل او سخیانو ژر ،ژر لاس وښوروئ ډوډۍ راوړی له لوږې مو مړ کړم

د هغه له غږ سره  سترخوان هوارشو او د لومړی روژه ماتي په ډول یې رنگیني خپله کړه

خو زما ستونی سره ورغلی ۀ موړ وم لکه د ټولی نړۍ خواړه چې ما خوړلي وي اشتها مې نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ګولې ډوډۍ مې وخوړه له دسترخوانه پورته شوم خپل اطاق ته لاړم ،دې تندې احساس مې کاؤ ځکه چې ورځې اوږدې وې او د ګرمي موسم هم ځان ته څه ويلې

د تندې احساس مې ډېر کاؤ،د چايو پياله مې ځان ته ډکه کړه په لنډ وخت کې مې چاى جوښ ونيناؤ

له تراؤ وروسته څملاستم، د پلشمي غم هم د انديښنې ور ؤ،پر بالښت مې سر کېښود د خوب پر ځاى مې د ماښام کېسې سره فکر بيرته پيوند شو،په بدل ددې چې سترګې مې پټې شي او خوب ته لاړ شم سترګې مې په لوځه د چت سره وګنډول شوې خيالونو مې هماغسې د يوې بې وسه کورنۍ د ستونزو په هواري کې موجونه وهل کله ،کله به مې ځان ته د دوى پر ځاى کې قرار ورکړ ځان سره به مې وويل:

که چېرې زه داسې بې وسه واى زه او زما ماشومان په بې سرپنا ځاى کې مېشت واى او خلکو مو د بې وسي ننداره کولى نو په موږ به څه تېريدل،موږ به څومره د کمې احساس کاؤ موږ به څومره ځوريدو ؟

موږ به څومره د خپل پت او ناموس دخوندي توب او د ستر د نه شتون درد تېراؤه بيا به مې په دې شکر وويست د خداى ج ستاينه به مې وکړه چې موږ په دې حالت کې نه يو،خو دغه کورنۍ هم له موږ پردى نه راته برېښېده دوى هم زموږ دمسلمانې ورورګلوي د اړيکو له کورنۍ څخه ؤ

ځان سره به مې وويل که موږ د دوى درد او د دوى بې وسي خپله بې وسي ونه ګڼو بيا خو هسې دعوه کوو چې موږ مسلمانان يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان خو لکه یو وجود داسې دي د وجود هره برخه کې چې درد وي نورې ټولې برخې ورسره نارامه وي نو که موږ د دوی په نارامتيا ،د نارامی احساس ونه کړو او یا هم په موږ کې د نورو د خواخوږي لپاره کوم حس شتون ونه لري نو بيا خو مو دعوه دروغجنه ده بيا خوهسې په نامه مسلمانان یو

همدې چورتونو مې په مغزو کې غځېدنه کوله خوب ته یې نه پرېښودم،ځان سره مې وويل، دغه یوه کورنۍ خو زموږ له غړېدولو سترګو تېره شوه ،ومولېده ،ددوی غربت د دوی ناچاري ،هرڅه مو لکه د فلم پرده ننداره کړل ،ډېری نورې ورته کورنۍ به د دوی په څېر، زموږ د غريبې جنګ ځپلې ټولنې ريښتونی انځوروي ،کومې چې زموږ له سترګو پنا دي دهغوی فرياد به په دې بې حسه ټولنه کې له خدايه پرته بل څوک نه اوري، هغوی به د څلورو ديوالونو تر شاه ناست وي ،هغوی به د پښتني دود او عار له مخې ان د سوال کولو په طريقه هم نه پوهېږي،بس که چا څه ورکړل خوري به يې کنه نهار به کېني د خدای په هيله به ژوند تېروي.

دې سوچونو لحظه په لحظه نور هم خرابولم حل لاره راته پيچلې کېده او د موخې د لاسته راوړلو د مزل فاصله يې راته اوږدوله،ټليفون مې راواخيست،په ديوال ځوړند

ساعت ته مې وکتل پلشمي ته نيم ساعت پاتې ؤ یوه سوژه خدای ج ذهن ته راواچوله ،هغې لږ هيله من کړم له ځان سره مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنې د نوم سړی يې ،خلک حساب درباندې کوي،خلک باور د باندې لري،ولې له دغو ټولو ځانګړنو چې خدای ج درکړي ګټه نه اخلې ،ايا خدای ج ته به ددې نعمتونو ځواب ويونکی نه يې؟

الله ج له خپل بنده د هر نعمت پوښتنه کوي چې د ځان او يا هم نورو لپاره دې ګټه ترې اخيستې کنه؟

سوژه راپيدا شوه هغه دا چې زه بايد يو خيريه بنسټ جوړ کړم چې ددې بنسټ له لارې د ډېرو داسې بې وزلو کورنيو لاس نيوی وکړم چې د غربت په وروستي بريد کې دي د ژوند له هر نعمته بې برخې دي ،وچ مجبور دي ،ژوند ورته لکه زندان سخت شوی دی.

زه بايد داسې بنسټ جوړ کړم چې د غريبانو د تياره ژوند لپاره له ځان سره رڼاګانې ولري له دې لفظ سره مې د بنست نوم هم خوښ شو رڼا خيريه بنسټ مې نوم ورته کېښود هغه بنسټ چې دغربت تياره ژوند لپاره له ځان سره رڼاګانې او څراغونه لري

د لاچارو د ژوند د ښه کولو لپاره له ځان سره هيلې لري.

له دې پرېکړې وروسته ملايانو د پشلمي د راويښولو انګازې له لاسپيکرونو وباسلې

راپورته شوم له اوداسه وروسته مې دوه رکعته لمونځ وکړ،ډېرې دعاوې مې وکړې او د رب څخه مې وغوښتل چې په دې لوی او پرمسوليته کار کې هم توفيق راکړي او هم راسره مرسته وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لس بجې مې د فیسبوک له لارې پر خپل وال د رڼا خیریه بنسټ د جوړیدو او شتون اعلان وکړ،د یادې کورنۍ لپاره مې هم د مرستې غوښتنه وکړه

یولس بجې دومره پیسې جمه شوې چې هم داړتیا وړ بشپړ خوراکي توکي او هم مو د ددوی لپاره یوه خېمه پرې واخیسته

ټول مې مازدیگر موټر کې واچول او د نوموړي بې وزله کورنۍ په لور رهي شوم موټر مې یوه څنگ ته ودرراؤ د موټر په دریېدو دغه بې چار کورنۍ هم بگراوه شوه خو چې راښکته شوم ویې پیژندم ټکنی حالت یې بیرته عادي شو ژر ،ژر مې خوراکي توکي راښکته کړل ماشومانو ته مې د وړولو وویل، خېمه مې هم د درولو لپاره راواخیسته سپین ږیري ماما ته مې وویل:

زه د خېمې په درولو نه پوهیږم تاته یې چل درځي؟ هغه خوله وتپوله ،پرې پوه شوم چې سړی له ما هم بدتر دی نو ومې ویل لطیفه توره کوه خپل فکر وجنگوه دهجرت په دیار کې موږ هم په خېمو کې څه وخت اوسېدلي ؤ د هغه وخت یادښتونه مې یو څه په ذهن کې ښکته او پورته کړل ،د خېمې ډانگې مو سره یو په بل کې ورکړې د خېمې تانونه مو پکې وټومبل ،یو اړخ ته زه اوبل اړخ مې سپین ږیری ودراؤ خیمه له ځمکې پورته شوه  ماشومانو یې پیځکې سره کش کړې خېمې خپل د ولاړې طبعي حالت ځان ته غوره کړ

په څنگ کې تیر شوي پاخه سړک مې د اس د نال په څېر ټکا واوریده ځکه دوی د سړک سره نېږدې اړولي ؤ ور ومې کتل یوه دنگه ځوانه مېرمن  زموږ په لور راروانه وه  په غالب گمان پیغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مالومېده چابک ،چابک ګامونه يې زموږ په لوري راخيستل، سپين ږيري غږ کړ خيمه باد وهي ژر ،ژر به يې دا دکونجو ميوګي ټک وهو،چې بېرته ړنګه نشي،زما يې هم پام بيرته خپل کار ته راواړاؤ ،يو ښځينه موسيکي ته ورته غږ مې واوريد.**

**ته هم نارينه ځان ته وايې؟**

**له دې تنې دې نه شرميږې؟**

**مخ مې ورواړاؤ،هغه لاروني پېغلې باندې مې نظر ولګېده په خواکې مې ولاړه وه**

**له ځان سره مې وويل:**

**ددې مېرمنې مخاطب څوک دی؟**

**زه خو ځکه نه يم چې د لومړي ځل لپاره سره ګورو،ځان مې غلی کړ مخ مې بل لوري ته واړاؤ غلي ،غلي مې د سترګو له کنجو وروکتل خو انجلی له ما مخ نه اړوي، خبرې يې نورې هم وغځولې**

**ويې ويل:**

**او هو تاسې خو د نن زمانې ځوانان ياست ،د مسوليت پذيري په نوم هم څه پېژنې کنه؟**

**په تا خو د مور شرمېږي هغه دې له شتونه انګار کوي**

**پرون ماښام چې زه دلته راغلم او دوی په وچ ډاګ پراته ؤ له مور جانې مې وپوښتل چې له دې سپين ږيرې پرته بل څوک نارينه نه لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې نور هیڅوک هم نلرم زه څه خبره وم چې داسې زوی به لري چې ځواني ته یې کاروان اړوي او عمل یې بیا داسې دی چې ټوله کورنۍ د سړک په غاړه پریږدي ،او دی ترې ځي په دوهمه ورځ ورته خبمه دروي

ته لړ هم د خپلې موراو دغو وړو ماشومانو او خوېندو په فکر کې نه شوې؟ تا لړ هم فکر ونه کړچې دوی به روژه په څه شي ماتوي ؟دا ښه وه چې زما ورته پام شواو څو روفۍ مې جېب کې وې ورمې کړې ،کنه نهاره به یې شپه تېروله ،او دغه محلې به یې د قیامت په ورځ ټولو ځواب ویلې

د هغې له خبرو مې احساس مې کړه چې دنګه ځوانه پر ما داسې ګمان کوي چې زه ددې کورغړی یم او دې هم زما په څېر ددې کورنۍ په حال ځوریدلې ،خفه شوې خو اوس د خپلې ځوریدو او ماته د مسولیت په ښودو خپله غوصه سړوي

له بلې خوا مې فکر وکړ چې که زه د دې کورنۍ سره د وینې شراکت نه لرم خو د مسلمانې وروروګلوي په اړیکه هم باید دومره ځان مسول وګڼم لکه دغه پیغله یې چې ګمان راباندې کوي

ورته مې کړه

تاسې په حقه یاست!

ماته نوره هم په غوصه شئ

ما د دوی لکه څرنګه چې حق دی نه  دی ادا کړی،د دوی په اړه ځان پړ بولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغې راته کړه**

**عزر بد تر از گنا ،تاسې داسې خبرې کوی چې زما غوصه نوره هم زیاتوئ ،کم ترکمه غیرت ښه شی دی**

**دا تورسرې ،د سړک په غاړه پرېښودل کوم افغانیت دی ،کومه پښتو ده؟کومه میړانه ده .**

**د نجلۍ خبرې سره له دې چې غوصه ناکې وې ،له درده او پیغوره ډکې وې خو په ما بدې نه لگېدې**

**د بې وزله کور زړې مورکۍ او سپین ږیري بابا هم زموږ تر منځ د جنگ ننداره کوله خو هیڅ مداخله یې نه کوله د نه مداخلې دلیل یې شاید دا ؤ چې هغوی زما په گمان فکر کاوه چې دغه مېرمن د لطیف د کور غړې ده او ورته په غوصه ده چې ددې کورنۍ په اړه دې ناغیړی کړې ده باید په لومړیو کې دې ورسره خواخوږي کړې وای، شاید دوی فکر کاؤ چې دا د دوی کورني جنجال دی، مداخله یې پکې مناسبه نه بلله**

**خو بخت مې هغه وخت بیدار شو چې میرمنې زړې مورکۍ په لوري څو قدمونه واخیستل او هغې ته یې په لوړ اواز وویل:**

**مورکۍ ته ملامته نه وې چې بیگا د دې ځوان له مورتوبه منکره شوې ،داسې زوی چې د هرچا وي باید ترې انکار وکړي**

**هغې زوړ پړونی چې پیخې یې شکیدلې وې په مخ راسم کړیوه سترگه یې ترې راوباسله نجلۍ ته یې وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې دا خو زما زوی نه دي.

ـ نو څوک دی؟

ـ مور يې نه پېژنو ،خو دومره پوهېږو چې د خدای ج يوه فريښته ده چې زموږ د کمک لپاره يې رالېږلې ده.

ـ جلی له شرمه تکه زيړه شوه ،د حيا سورخي يې له رخسارونو په وريدو شوه زړې مورکۍ ته يې په حيراني وکتل بيا يې څو نور قدمونه هم دهغې په لوري واخيستل دهغې په ولي يې لاس کېښود په غلی انداز يې ورته وويل:

مورې دا ستا زوی ندی ؟

ــ نه

ـ نو څوک دی؟

نه يې پيژنم

بس لکه تا غوندې يو لاروی ؤ، په موږ يې خوا بده شوه ستا له تگ وروسته يې له کوره د روژه ماتی غوړيدلی دسترخوان موږ ته راوړ ،دادی اوس يې خوراکي توکي د اړتيا ټول سامان او خېمه راوړه او خپله يې دروي

د دې خبرې له اوريدو سره نجلۍ له زياتې حيراني په خپله خوله لاس کېښود ژبه يې راوويسته بيا يې لاندې نرۍ سره شونډه له سپينو مهينو غاښو لاندې کړه نوره له شرمه دالته پاتې نه شوه خپلې پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې سپکې کړې په اوچتو گامونو يې سيمه موږ ته پرېښوده زما هم  لږ غوړونه ارام شول چې گوندې د انجلی له شره نور خلاص شوم ،دې خېمې په مگويو ټکوهلومې پيل وکړ سپين ږيري اکا هم ژر،ژرترې د خېمې پړې تاوول دې خيمې پړي  لکه د رباب کش شوي تارونه په خپل مقام شول،بيخي دواړه نابلده په دې وتوانيدو چې کوچيانۍ خېمه د استوگني جوگه کړو

ماته تر ټولو دخوښې صحنه دا وه چې د کورنۍ دوه پيغلې خورکی چې له شرمه يوې گوښې ته د ځان پناکولو لپاره زموږ د وروړل شويو خوراکي توکو او وړو د بوجۍ تر شا ناستې وې هغوی  ته مې ورغږ کړ  ومې ويل راشئ خويندو خېمې ته د ننه شئ نور د سړک د سيل بينو له سترگو پنا شوی د ننه پکې ارام وکړئ په ماشومانو مې غږ وکړ تاسې هم نور د باد او باران نه د خدای ج په فضل په امن کې شوی  سوځنده لمر ته نور مه گرځئ د ننه په خېمه کې تر سيوري لاندې اوسئ

د غربت سيلۍ وهلي سپين ږيري ددې حالت په ليدو سترگې ډنډ شوې له سره يې خپل پاچ سپين گردووهلی پټکی لرې کړ مخ په قبله ودرېده او د زړه له اخلاصه يې څو د دعا جملې وويلې ،په ما کې يې ډنډ وچې ننوتلې سترگې ونيوې مخاطب يې کړم

تاسې د انسانيت يوه نمونه ياست پرته له کومې تمې مو زموږلاسنيوی وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب دې لکه ابراهیم او یونس ع په اور او اوبو کې وساته،زویه ممی مرغه شې د همځولو سر شې ،عمر دې دکښې مرغۍ شه ،دښمن دې درباندې ړوند او کوڼ شي

ما ورته  کړه سپین ژیری کاکا لکه چې ښایې ما ستاسې حق ندی ادا کړی زه د داسې دعاو وړ نه یم دا چې تاسې ماته زما د بیغوري سره سره داسې دعاوې کوې دا ستاسې احسان دی چې پرما یې کوې .

د دنګې نجلۍ جنګ او بیا تېښته راپه یاد شوه ،بې واکه مې وخندل ،سپینږیري کاکا چې زما خندا ولیده نو دهغه په پتري نیولو شونډو هم مسکا خوره شوه شنې سترګې یې وځلیدې رینړکی شو،زموږ تر منځ نوره د خواشیني ټغر ټول شو،ټوکرنده مې ورته وویل:

کاکا جانه لږ مخکې دې ولې خوله ښکم وه،په ما ډېر بد حال ؤ او تایې نندارە کوله  هغې پېغلې په ما لفظي ګذارونه کول  او ته ورته چوپه خوله ولاړ وې کم تر کمه دومره خو به دې ورته ویلي ؤ چې دا سړی زموږ د کور ندی؟

کاکا د پټکي شمله پر شونډو تیره کړه  ماته یې وکتل ویې ویل:

ما باید مداخله کړې وایې خو زه هم نه پوهېدم ما فکرکاؤه چې ستا مېرمن دی او تاسې د خپل کورمامله ده نو مناسبه مې ونه بلله چې مداخله وکړم.

ورته مې کړه هسې ټوکه مې وکړه ،  ستاسې دعاوې دې رب قبولې کړي،دا زموږ پر تاسې کوم احسان ندی، دنده مو ده  ستاسې دعاوې اصلا پر موږ احسان دی

له دوی مې خدای پاماني واخیسته دفتري کارت راسره ؤ هغه مې ورکړ ورته مې کړه که کوم څه ته مو اړتیا وه زما ادرس او فون ګڼه پکې لیکل شوې ده ،له ځوقدمه اخیستو سره مې د کور واړه او لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سترګو شول چې لاسونه يې لپه کړي ؤ او د اسمان په لوري يې کتل ،غږ مې يې نه اوريده خو پوه شوم چې له ما نه رب ته د خپل رضايت څرګندونه کوي

له دې کم سارې او جالبې صحنې مې خوند واخيست سکون مې احساس کړ ،ډاډه شوم چې نن ورځ مې کم تر کمه په دې کې تېره شوه چې دې يوې مجبورې کورنۍ غږي راځخه راضي دي

نن شپه د پرون په څېرخواشينونکې نه وه ، دومره ارام وم چې له بالښت سره د سر اېښودو سره مې سترګې ورغلې وې اودا ارامښت مې هلته احساس کړ چې کله مې د مور د پلشمي پرلپسې غږونه واوريدل ،په خپل ځای کې راکېناستم ،ځان سره مې وويل:

د خوارو او اړمنو لاس نيوي کې څومره خوند دي څومره ارام دی ،څومره انسان پکې د خوښی احساس کوي،موږ خو اصلا لاره بدله کړې ،سکون د پيسو په راټولولو کې لټوو ،په لوړو بلډينګونو پيداکولو کې يې لټو، خو برعکس دا شته نور هم له انسانه ارامښت او ډاډ اخلي ټکنی کوي يې لالهانده کوي يې ،د ژوند د خوښی شېبې ترې اخلي، سرګردانه ژوند ته يې بيايې

موږ په ريښتيا په کږه لاره روان يو ،موږ د موخو لاره بدله کړې ،موږ دومره بد فکره شوي يو چې په اور کې يخني لټوو او په يخني کې اور ،خو دا هرڅه ناسم دي اصلي ژوند لاره رانه بيله شوې،په بدله لاره مو مزل پيل کړی

او دا د هوښيارو خلکو کار ندی ،هوښيار هغه دي چې د ځان په څنګ کې نورو مسلمانانو ته هم کار وکړي،د نورو مسلمانانو د ستونزو په حل کې هم ونډه تره وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سوچونو لړی مې هغه وخت پرې شوه چې مور مې يوځل بيا غږ کړ لطيفه زويه ،که پلشمی ونه کړې ټوله ورځ به وږی يې،ورځ به درباندې سخته تېره شي ،هله زر کوه چې د جومات ملاصيب اذان کوي، د مور له غږ سره زه هم د ورځې له لوږې وويريدم راپورته شوم

ژر،ژر مې اودس وکړ ،اشتها چېرې وي بس د ډوډی خوړلو عادت مو وکړ ترڅو، په ټکنده غرمه کې د خوړو ارمان رانشي

له پلشمي وروسته مې عادت ؤ ،خوب مې نه کاوۀ په ځان مې لازمه کړې وه چې يوه، يوه سپاره تلاوت به کوم ،او تر اخره د رمضان بايد کم ترکمه يوځل قران پاک ختم کړم

هماغسې د پلان برابر مخته تلم

سپاره مې ختمه کړه لمونځ مې وکړاو بيا د دفتر د تلو وخت هم راورسېده،دفترمو له کور سره دومره لرې نه ؤ له لنډ مهال وروسته د خپل مېز ترشا کېناستم

بيګني لاسنيوي خورا زيات سکون راکاؤه کله،کله به مې له ځان سره وويل:

په ټول ژوند دې د لومړي ځل لپاره د خير کار وکړ، دغه به يې پيلامه وي،له دې وروسته بايد د خير کارو ته دوام ورکړم ورسره بايد دهغو بې وزلو لاسنيوی هم وکړم چې په اطرافو کې د ځلورو ديوالو ترشاه ناست دي دوی دومره د ژوند کولو نه محروم دي چې د سوال کولو په چل هم نه پوهېږي او نه يې جرئت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې چرتونو او په ذهن کې د پریکړو په کشمکش کې وم چې دروازه مې وټکېده سر مې ورپورته کړ،د خپل وره ساتونکي په اوږده پوزه او ډنگر مخ مې نظر پریوت هغه ته خدای ج سمه د غفار خان پوزه ور په برخه کړې وه چې دفتر ته به راننه وت اول به یې پوزه راننوته وروسته به یې تنه راښکاره شوه ،هغه په اساني داخل ته نه راته چې ډېر اړین کار به یې نه ؤ ورته مې کړه گلاجان اکا خیر دی ؟

- هو خیر دی

- نو بیا

ــ بیرون یوه د لوړ قدواله پېغله ولاړه ده ، وای لطیف زړه سواند سره مې کارد ی.

- اکاجانه دلته پېغله څه کوي،زموږ دفتر خو له مېرمنو سره تړاو نه لري

- هغه ووت ،مېرمنې ته یې زما پیغام ووایه ،خو بېرته په بیړه راغی ماته یې وویل:

مېرمن ویل ،لطیف ته ووایه چې ښکلا راغلې ژر وخت راکړه چې د پوهنتون راباندې ناوخته کېږي

ورته مې کړه زه خو د ښکلا په نوم څوک نه پیژنم

گلاجان اکا بیچاره بېرته ووت ،ما د کمپیوتر سکرین روښانه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه بېرته خلاصه شوه ،ځان سره مې وویل دا څه په بلا واوښتې د ګلاجان دپوزې دیدن د نن لکه چې بار بار په قسمت کېږي،سر مې ورپورته کړ،خودا ځل ګلاجان نه ؤ په وره کې یوه جالبې صحنې زما د لېدو انتظار کاؤه یوه دنګه هسکه پیغله ولاړه وه مخ ته مې وکتل پر ګلابې شونډو یې مسکا خپره وه داسې برېښېده چې د شرم احساس کوي ځکه خو یې توري بڼورې غټې،غټې سترګې ښکته اچولې وې د وره له دست ګیره ې نرۍ قلمي ګوتې تاؤ وې غوښتل یې له ما د ننه راتلو واوري ،خو کله یې چې دا تمه پرې شوه سترګې یې په ډېره ستونزه راپورته کړې راته یې کړه دننه راشم

زه په څوکۍ کې سم شوم د کورتۍ ژۍ مې سره را منظمې کړې،په لیدو یې وارخطا ځکه شوم چې د نابلده کس هغه هم ناڅاپي بیا چې اغیزمنه څېره هم ولري خورا سخت وي،زما ساتونکي ته مې په زړه کې د قهر موجونو څپې وهلې چې ما خو درته د نجلی د نه راتلو ویلې ؤ ولې د راپریښوده دده د فیل مرغ غرتم ورک کړې په جنجال کې یې راښکیل کړم نا څاپه یې یوه داسې اغیزمنه څېره راته ودروله چې کتل او ورسره د خبرو پیل زما د وسې نه ؤ بې واکه مې وویل هو ،هو راځه.

هغه راننوته او مخامخ پر یوه څوکۍ کېناسته کتابونه یې په څنګ کې ؤ،پر خوا کې مېز باندې یې کېښودل له عنوانونو یې پوه شوم چې طبي کتابونه دي،نجلۍ د طب زده کړیاله راته ښکاره شوه د کتابونو له کېښودو سره یې را وکتل مسکا یې لا د پخوا په څېر په شونډو کې څپانده وه راته یې کړه،پوهېږم راتګ مې درته خسته کن دی ،ملازم ته زما د نه راتلو غږ مې دې هم واورېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له مجبوري مې دغه گستاخي او سپين سترگي وکړه له بيگا راهسې د وجدان  عذاب پسې راخيستې يم ،ټوله شپه مې خوب ندی کړی،له ځان سره خجالت باسم،چې ما ولې دومره ناپوهي وکړه ولې مې يو کس بې ځايه توهين کړ ،کله چې هغه صحنه راپه يادېږي چې ما پکې هغه ځوان ته سوې سپورې وويلې چې ور يې نه ؤ بلکې هغه د تقدير ور دی  د هغه لاس د مچولو دی،ما ولې داسې گنا وکړه ،خپل دواړه موزون غوښين لاسونه يې پورته کړل مخ ته يې ونيول ځان سره يې ووېل اخر ولې؟

بيا يې له مخ لاسونه لرې کړل سره ويې مروړل،سترگې يې راپورته کړې ويې ويل: زه اوس ښښنې ته راغلې يم ،سره د دې چې زه د ښښلو نه يم خو ډاډه يم چې د خپلې لويې او هغه مهربان زړه چې ته يې لرې د هغه له کبله به مې وبښې !

ما په حيراني ورته وکتل ،بيا مې ورته کړه تاسې ځای غلط کړی شايد په ما مو دبل چا گمان کړی وي،زه خو تاسې نه پيژنم

ـ هو ته ملامته نه يې ، ما نه پېژنې،پېژندنه خو نن سبا خورا ستونزمنه دی ،ما هم پرون ته ونه پېژندې،څومره يوې لوې تېروتنې رانه سر وخوړ،په يوه لوی انسان بدگمانه شوم ،يوه داسې کس ته مې سپکې سپورې وويلې چې زما غوندې خلک يې د پښو خاورو ته هم نشي رسېدلی،په هغه مې د بې کفايته تور ولگاؤه ،هغه چاته مې د يوه بې مسوليته خطاب وکړ چې هغه د مسوليت يوه نمونه ده هغه د کارکولو يوه بېلگه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې کړه هیله کوم تاسې خو یو ځل ځان راوپېژنۍ،زه مو نه پیژنم؟

هغې ښکته سترگې واچولې ویې ویل ملامته نه یاست په هغه وخت ما حجاب اغوستی ؤ یوازې هلته مې مخ لوځ کړ چې د بې وزله مورکۍ په لوري ور روانه شوم ته مې هم لېدې چې د سترگو له کنجو د راکتل ،خو د سترگو له کنجو سړی کله تشخیصیږي.

هی، تاسي ته مي د خېمي درولو په وخت کې څه،څه ونه ویل:

ـ ښاااا ته هغه مېرمن یې چې له رارسېدو سره سم دې خوله خلاصه کړه او سترگې دې وتړلې؟

ـ هو خو ډېر خجالت باسم،ما په ژوند کې داسې تېروتنه نه وه کړې،حېرانه یم چې داسې حماقت ولې رانه وشو؟

کم ترکمه خو لومړی ما باید مالومات کړي وای ،چې ته څوک یې؟ دلته د څه لپاره راغلی یې ؟بیا مې باید داسې اقدام کړی وایې

ټوله شپه خپل وجدان ارام ته نه پرېښودم عذاب یې راکاؤه دعاوې مې کولې چې یا الله ژر سهارکړې چې زه داکس پېدا کړم او ښښنه ترې وغواړم

ماورته کړه اغلې تاسې په یوې وړې تېروتنې ولې دومره نارامه یاست ؟زه هیڅ خفه شوی نه یم تاسې د څه شي ښښنه غواړئ؟

ښښنه خو باید وغواړم کنه د وجدان عذاب به مې ووژني،او چې تر څو د د ښښنې غږ وانه ورم، له دې ځایه نه ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې کړه مخکې له دې چې زما نه ښځه وغواړې دا راته ووایه چې زما ځای دې څنګه پیدا کړ؟

سهار وختي هغې غریبې کورنۍ ته ورغلم ورته ومې ویل:د هغه ځوان ادرس راکړئ،بیا یې خپل دسکول ته لاس کړهغه کارت یې راوباسه چې ما هغې کورنۍ ته د اړیکو ساتلو لپاره ورکړی ؤ ویې ویل هغوی دغه کارت راکړ

د کارت له برکته تر تا راورسیدم

اوس مې ښې؟

ــ هو

نجلۍ ددې خبرې اوریدو سره رینښکی شوه په سترګو کې یې د خوښۍ نښې ښکاره شوې ، مننه یې وکړه ، خپلې خبرې یې نورې هم وغځولې ویې ویل:

نن سبا د داسې کسانو ډېر کمی دی چې د نورو غم ور سره وي،ستاسې احساس ،ستاسې فکر او اندیشه مې ډېره زیاته خوښه شوه ،هیله لرم دوام ورکړئ،څوک چې د الله ج د رضا لپاره دهغه دمخلوق په خدمت کې وي الله ج د هغوی لاسنیوی کوي او د چا چې الله ج لاسنیوی وکړي هغوی په شاه نه راځي،د هغوی تل پاتې بریاوې په برخه کېږي

ما له نجلۍ نه مننه وکړه ،ورته ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې کورنۍ په لېدومې ټکان وخوړ ،هغه ټکان زما په فکر کې يوه نوې پنځونه وکړه د دوی له مرستې وروسته مې د رڼا په نوم خيريه بنسټ جوړ کړ هغه به ددا ډول کورنيو سره مرسته کوي د بې وزلو د ژوند په ښه والي کې به له دوې سره لاس وړي

د بې سرپرسته يتيمانو لپاره به د زده کړو ،روغتيا او خوراکي توکو په برخه کې کار کوي

ځکه چې زموږ هيواد جنګ ځپلی دی ،دلته له شمار وتلې کونډې ،يتيمان شتون لري او دغه بد مرغه لړۍ لا هم دوام لري د دوی لاسنيوی زموږ مسوليت او فريضه ده

سبا به له خيريه ورته دفتر خلاصوم او ددې بنسټ له لارې به انشاالله د خيريه کارو ته د ژوند اصلي کار وايم.

ښکلا زما په خبرو نوره هم خوښه شوه خندنۍ څهرې يې جلوې کولې،د مخ سپين والي او سرخي يې سره يو د بل کم رنګه ولو هڅه کوله غوښتل يې په دې منظرې زما جذبات هم په خپل کنترول کې واخلي ،خو زما فکر د کمپيوټر سکرين ته ؤ ،هغې ته هم نور دغه ځای کې پاتې کېدل د وخت سره زورواکي وه هغه له ځايه پورته شوه ويې ويل:

مننه چې زما وجدان دې ارام کړ،لومړی ځل دی چې دې يو چانه ښښنه غواړم او د زړه له تله مې ښښنه غوښتل پر ځان ستاسې حق وباله

زه د طب پوهنځي زده کړياله يم

ـ هو له کتابونو دې پوه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څرنګه پوه شوې؟

ـ ستا په ګمان له حقونو فارغ لکه چې لیک لوست نه وي زده ،هغه زما په خبره وشرمیده وارخطا یې وویل :نه ،نه ولې نه پوهیږي ! ډیر ښه

ښه ، لومړی ساعت درس هم رانه تیر شو ،سږ کال مې وروستی کال دی ،که ډاکتره شوم نو ژمنه کوم چې د ټول عاید نیم فیس ستاسې بنسټ ته وقف کوم .

په ټوکه کې مې ورته وویل :ایله نیم؟

ښکلا وخندل ،د غوټی په څیر شونډې یې وغوړیدې بیا یې ژبه او شونډې د خبرو د پاره به حرکت راوستې ورو یې ویل:

ستاسې اخلاص چې وینم ټول هم درباندې ورک نه دی!

دسکول یې راواخیست راته یې کړه زه اوس ځم سبا د خپلې دتیروتنې او ستاسې د ښنې لمانځلو لپاره له یوې ډالۍ سره راځم

ـ هیله کوم تاسې دومره لویه تیروتنه نده کړې ،اخر ولې ځان ګرموی او که په ریښتیا هم ما خوشحالوئ نوره له دې کاره تېره شه زه به څو ورځې سخت مصروف یم ځکه چې د رڼا خیریه بنسټ لپاره دفتر جوړوم لوازم ورته اخلم دا هرڅه وخت ته اړتیا لري او که تاسې ما خپل کار ته پرېږدئ نو دا به مو له ماسره یوه ښېګڼه وي

ښکلا نری مسکا وکړه بیا یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې چې کله قیمتې څه وومی نو هغه پرېږدی او خوشي کوی یې؟

ــ زه پوه نشوم

ـ اړتیا نشته چې پوه شې،زه اوس ځم او بیا راځم ستاسې مزاحمت ته نه راځم یوازې غواړم ستاسې په دې دروند مسولیت کې درسره لاس ویسم

ما یې په خبرو مکس وکړ تر څو یې د خبرو په مطلب پوه شم خو هغې نور څه ونه ویل  په چوپه خوله د خپل پوهنځي په لور په ګړندویو ګامونوو له دفتره وته .

پر سبا مو دفتر جوړ کړ په سر مو لویه لوحه  د رڼا خیریه بنسټ راځوړند کړه

پنج شنبه او جمعه  رخصت ؤم ،دغه دوه ورځې مې نورې د بنسټ کارو ته وقف کړې ،په نورو ورځو کې به هم کله  چې له رسمي کاره فارغ شوم نو هغه وخت به مې هم  د بنسټ کارو ته ورکاؤه .

د کار په پیل کې له خورا ننګونو سره مخ شوم خلک زما د کار سره بلد نه ؤ، هغوی هم په حیرت کې لویدلي ؤ چې دغه سړي ددې خواخوږي تر شا کومه پټه بلا پرته ده ،ګمان به یې کاؤ چې افغانان خو بې غرضه څه نه کوي، چاته سنت سلام هم نه اچوي ارومرو له خپل د زیاره د ځان په ګټه څه بودوي، دغه سړي له کړنو به هم له کاسې نیم کاسه څرګنده شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنسټ د نوم له پراخېدوسره منتقیدین هم خورا زیات شول هغه چې د بخل لوړ موجونه یې په سرو کې ښکته پورته کېدل د هغوی لپاره د بنسټ کارونه دفسبوک ښه سوژه جوړه شوې وه کله به مې چې له یتیمانو سره د مرستې کوم پوست د فسبوک له لارې وکړنو راسه که تودیړي ،بس غوا به یې لنگه شوه ،دوی به کمنټونو ته زور ورکړ

یوه به ولیکل! تاسې څومره دشهرت وږي یاست،بل به ولیکل تاسې اراده لري ځان پارلمان ته کاندید کړئ،ښه دلیل یې دادی چې تاسې مخکې ولې داسې مرستې نه کولې،یوه به ولېکل ریاکاري هم حد لري ،تاسې له برید وتلې ریا کاري کوئ،که تاسې ریښتیا د بې وزلو او یتیمانو له غمه مړه یاست نو پټه مرسته وکړئ ،نه دا چې فسبوک ته یې پورته کړئ،تاسې یوازې د فسبوک لپاره مرسته کوئ

یوه به ولېکل تاسې د ماشومانو راتلونکي تبا کوئ د مرستې پر وخت یې باید مخونه پټ وي کله به مې چې دا کار وکړ،بل به ولیکل چې تاسې د ټولو ژورنالیستیکې اصولو خلاف کار کوئ ولې د ماشومانو مخونه پټوئ .

بس په هر پوست کې به مو،سل او زر خبرې زغملې ،ځېنو خو به وچې پوست کنده ښکنځلې هم لیکلې وې

دا هر څه مو لوستل او له سترگو مو تېریدل ،بس زغمل به مو ،له دې پرته بله لاره هم نه وه راپاتې

موږ به چې هر څومره دلایل وړاندې کول چې وه وروره فسبوک ته د مرستو پورته کول زموږ ددې مرستو د بقا ، دوامدره توب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي ساتلو لپاره لکه ساه اړین دی له همدې لارې له هېواده بهر او په داخل کې خپل افغانان وروڼه خبرېږي مرستو ته هڅېږي او هغوی چې مرستې کوي له دې لارې مطمین کېږي چې مرستې یې مستحقو خلکو ته رسېږي خو چانه منله،د خوار ملا اذان چا نه اورېده ،لکه چې دوی موږ ته غوږ نه نیوه زموږ دلایل یې نه اوریدل، موږ د دوی په نیوکو ځانونه کاڼه اچولي ؤ د دوی په خبرو مو غوږونه نه گرول خپلو مرستو ته مو دوام ورکړ

په لنډ وخت کې مو لسگونو کورونو ته مرسته ورسېده ،هره مرسته به مو د فسبوک له لارې نشروله بانکي اکونټ مو ورسره لیکه له هغې لارې به له موږ سره هم د خلکو مرستې او نغدي کومکونه کېدل ،څوک به چې نېږدې ؤ دفتر ته به راته اونغدي مرسته به یې موږ ته سپارله.زموږ د اغېزمنو کارونو سره ،سره

نیوکې نه کمېدې ورځ تربلې زیاتېدې ،ځینې یې سمې هم وې د خواخوږي او د بنسټ د سرلوړې لپاره وي هغه مو په ورین تندي اخیستې ځکه پوهېدو چې دا نیوکې په ریښتیا هم د سمون لپاره دي خو زیاتره بیا د عقدو ښکار وې هغوی ته موږ نور په دلایلو ستړي شو،ځکه چاته مو قناعت نه شو ورکولی،بلاخره دوامداره نیوکو یو څه زموږ فکر مغشوش کړ، ځکه اوږد مهالی نقد سړی په خپل کار کې گډوډوي نو کله کله به راسره فکر پیدا شو چې شاید دغه کار چې موږ یې کوو موږ ورته سمه لاره نه وي ټاکلې ،شاید نیوکه کونکي په حقه وي نو که داسې وي،بیا ولې دوام ورکوو؟ ترې تېر به شو،نور به یې نه کوو،دې کشمکش زما په ذهن کې ځای وموند خو یو عادت ښه لرم کله چې د کومې داسې ستونزې سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شم چې مغز مې پرې کار نه کوي نو خدای ج ته دعا کوم چې یا الله په دې دوه زړي کې سمه لاره راته وښاکه**

**ما هم دوه رکعته لمونځ وکړ بیا مې رب ته لاسونه لپه کړل دعا مې وکړه چې یا الله ج که دغه کار مې سم پېل کړی وي نو مرسته مې وکړه او ما ډاډه کړه چې دوام ورکړم او که سم نه وي بیا هم ماته د خپلې لویې له مخې څرګنده کړه چې لاس ترې واخلم ولې مې دومره لوې سرګرداني ته نا حق مخه کړې**

**څومره چې یو انسان په الله ج باور لري په هماغه اندازه رب هم ځان ورته نېږدې کوي**

**تر سبا سهاره یې زما انتظار اوږد نه کړ،خپل دفتر کې ناست وم چې یوه نېږدې خورا دینداره ملګري مې د دفتر دروازه وټکوله جمال نومېده ، راننه وت له سترې مشې یې مخکې راته وویل:**

**لطیف زړه سوانده بیګا مې یو خوب درته لیدلی چې زر افغانۍ رانه کړې قسم ده که یې رانه واورې ما ورته وخندل په ډېرې وارخطایې مې ځواب ورکړ،ژرخوب راته وایه زرګون نغد واخله**

**مخامخ راته کېناست او دواړه لاسونه یې زما په ګونډو کېښودل د روژې مبارکې درویشتم ۀ**

**راته یې کړه د خدای ج په پاک نوم قسم کوم بیګا مې په خوب لیدلې چې په غارې حرا کې په لمانځه ولاړ یې د روسانو پر وخت زما یو شهید شوی ورور دې هم په خواکې ولاړ وي او هغه ایاتونه چې تا په لمانځه کې تلاوت کول قسم کوم چې هغه ایاتونه د قران**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم اوریدل راته یې کړه خوب مې دومره دقیق په ذهن کې پاتې ده چې قسم کوم په غار حرا کې مې هغه سوری هم لیده چې حضرت ابوبکر رض  دې نبي کریم ص د نجات لپاره ورته پونده ایښې وه تر څو له دې سوري یې مار ونه چیچي

هغه راته کړه گوره زړه سوانده غارې حرا عادي ځای نه دی ،پر نبی کریم ص د وحې نازلیدو ځای دی،له کفارو نه د نبي کریم ص د پنا ځای دی ،بیا زما د شهید ورور سره یوځای ستا په لمانځه ولاړه هم عادي مه گڼه!

د خوب اوریدو زما د وجود حالت بدل کړل ،بل رقم شوم ،زړه مې په ټکان شو غونی یې راځیږ کړ بې واکه مې له سترگو په لمن کې اوښکې پرلپسې وڅڅیدې

خو داد ویر اوښکې نه،بلکې دې ډیرې خوښی اوښکې وې د خوب هرې کلیمې داالهام راکاوه چې زما لاره ښه لاره ده ،خپل کارته باید دوام ورکړم نیوکه نیونکي په سمه نه دي یوازې دوی له دې لارې خپلې عقدې سړوي ،او یا هم بخل کوي نه خپله کار کولی شي او نه نور پرېږدي چې خلکو ته کار وکړي.

د خوب په اوریدو ډېر خوښ شوم له ځان سره مې په لوړ اواز وویل:

له دې وروسته مې د بنسټ کار  د ژوند له بنسټیزو کارو شمارم د چا د نیوکو پروا نه لرم،که له دې وروسته د بنسټ په کارو کې څوک مې دومره تحقیرکړي چې مخته راتو کړي هم پروا یې نه لرم، ښکنځل او بدې ردې خو به هیڅکله هم ما له دې کاره را ونه گرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه مې وکړه چې تر اوسه خو مې د مرسته کونکو يوازې صفت کاؤه اوس يې لاس اوپښې هم ښکلوم ،چې يتيمانو ته څه ترې رابود کړم

همدا مې د ژوند تگلاره ده اوبس، ملگري ډېر ډاډ راکړ،بيا رانه رخصت شو زه يوازې پاتې شوم

د جمعې مبارکه ورځ وه د بنسټ په دفتر کې پر څوکۍ ناست وم د بنسټ لپاره مې په پاليسي او قيوداتو فکر کاؤه چې ددې مرستندويه مرکز له لارې په کوم معيار کورنۍ د مرستې مستحقې وبولو کوم لوايح ورته وټاکو،د کوم معيار له مخې يې د مرستو ليست ته شامل کړو،په همدې فکرونو کې وم چې دروازه مې وټکېده د ننه راتلو مې وويل:

دروازه راخلاصه شوه په يوه زړه چادري کې يوه خورکۍ راننه وته، ښکته او پورته مې ورته وکتل ځکه لباس هم د يو چا د ژوند کيسه کولی شي د ډېرو د ژوند حالت پرې له حروفو پرته ليکل شوي وي، چادري دومره زړه وه چې د مخ له جاليو يې پر اطرافو کې ډېر سوري ؤ،د چادري پرلمنې يوه نيمه ريتاړه هم ځوړند وه ، بس نوم يې د چادري ؤ نوره دومره له کاره لويدلې وه چې د پيوندونو او گونځو کمی يې نه لاره

بې وزله وگړي يوازې دپيسو کمی نه لري د دوی جرئت هم صلب شوی وي،د ځان د کمي خورا ډېر احساس کوي،هڅه کوي کومه تېروته ونه کړي،تر څو مقابل جانب ونه قهريږي او ددوی د کمک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانس ونه سوځي ځکه خو خوارکۍ هڅه کوله زما په طرف ورو،ورو قدمونه راوچت کړي،غلې ،غلې خبرې يې پيل کړې راته ويې ويل:

وروره زه دکومک لپار راغلې يم، ډېره مجبوره يم ،کنه زموږ ټولنه خو تاته مالومه ده چې دلته تورسرې په اساني له کوره نه وځي

ما هڅه وکړه خورکۍ ته ډاډ ورکړم او په خبرو يې راولم ترې ومې پوښتل ته کولی شې د خپلې بې وزلي او لاچاري کېسه وکړئ؟

ـ وروره زما د ژوند کيسه څه کوې تاسې د مرستې له هغې سره څه تړاؤ لري ،د خلکو خوږ زړونو ته گوتې مه وروړه ،کمک ته راغلې يم ،که يې نه راسره کوې پر خپله لاره بيرته ځم

ـ خورکۍ هېله کوم زه ستاسې د کورنۍ د راز رابرسېره کولو لپاره له تا دا پوښتنه نه کوم او نه له دې پوښتنو غواړم تاسې خجالته کړم بس يوازې ددې لپاره چې زه ډاډه شم حق دار خلک وپېژنم د هغوی حق بل څوک تر لاسه نه کړي،ستاسې د څو پوښتنو په ځوابولو ماته بشپړ مالومات کېږي چې زموږ د اصولو له مخې تاسې زموږ دمرستې وړ ياست کنه

موږ هم کومکونه په خورا سختي پېداکوو ،که غير مستحق يې رانه ويسي نو زموږ هڅې به بې مانا شي هم به موږ ستړي يو او هم به مو حق حقدار ته نه وي رسولی،نو هېله کوم تاسې زما پوښتنوته ځواب ووایاست

ــ زه عاليه نومېږم، کونډه يم مېړه مې خونخوارې جگړې رانه واخيست،يو نارينه اوکلن زوی لرم نورې مې لورگانې دي،چې مېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ژوندی ؤ او ګټه یې کوله د لیوره د سر ګل وم ،زما او د اولادونو یې ډېر قدر کاوؤه د مېړه له مرګ وروسته مې لیوره هم له د تولپکو اولادونو سره وشړلم ،ویل یې نور تاسې نه شم ساتلی ،زوی مې پالش کوي،تر ماښامه چې ډېرې پیسې وګټي نو له دېرشو افغانیو زیاتې نه وي په هغه درې ډوډی راوړي خو مورې په کور کې اته نفره یو دغه ډوډی نیمه نیمه هم نه رارسیږي،په وچه ډوډی نه یو ماړه د اولادونو د ګېډې مړولو لپاره اړه شم دغه اوه کلن زوی مې ماښام په وظیفه پسې ولېږم ،کله،کله خوارکی دومره ستړی وي چې د کوم کور ور د وظیفې راټولولو لپاره وټکوي او بهر ورته انتظار کوي نو دیوال ته ویده شوی وي، د کورواله چې وظیفه ورته راوباسي بیرته یې راویښ کړي او که کوم کور یې غږ نه وي اورېدلی هماغته مې زوی په انتظار ورته وېده وي کله چې ښه تیاره شي،او زوی مې رانشي نو زه پوه شم چې د کوم کور مخې ته وېده شوی دی ،بیا الیکین ځان سره واخلم او کور په کور ګرځم د هرې دروازې مخې ته مې خپل زوی لټوم ،چې پیدا یې کړم نو راویښ یې کړم او کورته یې راولم

ددې کیسې عمق او درد یوازې په ویلو چاته نه مالومیږي هغسې یې نشي احساسولی ،لکه څرنګه چې د پیښې رینتونی انځور وي ،کله چې له یوې مور خپل کوچنی یتیم ماشوم ورک شي موریې لالهانده په تیارو کې ورپسې سرګردانه کوځه په کوځه ګرځي ،دکوڅو سپي یې له لمنې ریتاړې وباسي او بیا خپل اولاد په داسې حالت کې پیدا کوي چې د پردی درګاه مخې ته د وظیفې راټولوو په حرص کې د خپلو یتیمو وروڼو او خویندو د وږي نسونو د مړولو په اراده خپل ماشوم وېده ووینې ، نو په هغې مور چې څومره درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېږي په دې یوازې زه او زما په څېر بله هغه مور پوهېږي چې دا حالت پرې تېر شوی وي،نور خلک دا درد نشي محسوس کولی،او بس

له دې هم ورهاخوا،یوه بله نه زغمېدونکې بلا مې د ژوند په مرۍ د وحشت منګولې لګولې دي، ساه مې خپک کوي، ژوند یې راته سور تنور کړی،ډېره مې ځوروي، دومره درد راکوي چې د وجود د هډوکو په ماتولو کې به یې نور څوک احساس نه کړي، هغه دا چې زه یو تې خوری ماشوم لرم زما شېدې نشته په وچه ډوډۍ او د وظیفې په ډوډۍ به د مور شېدې له کومه شي؟ تې خوری زوی مې وږی دی ،له بازاره دشېدو اخېستو وس نه لرم نو کله چې زما زوی د وظیفې وچه ډوډۍ راوړي هغه په بوتل کې ورته مېده کوم بوتل خوځوم چې کله هم ډوډۍ پکې ښه مېده شي نو بیا یې ماشوم ته ورکوم هغه د څلورو میاشتو ده چې کله په کور کې بوره وي او هغه ورته پکې ګډه کړم هم ښه وي ماشوم یې روي خو زموږ کره بوره له کومه شي چې بوره نه وي بیا ماشوم دغه چوشک نه نیسي،له لوږې ژاړي او بدې ورځې کوي زه یې په بې وسه سترګو ګورم تاسې زما دغه د درد زور نشی درک کولی خو ډاډه یم چې خدای ج مه کړه که په تاسې راشي نو تاسې به یې یو ساعت هم ونه شی زغملی، زه دعا کوم زما بې وسي،زما ستونزې د خدای ج زما د سر په دوښمن هم نه راولي، په هغه مې هم نشي پیرزو کیدای

زه مې په غړېدلو سترګو خپل اولاد ګورم چې له لوږې راته چیغې وهي،خو زه یې د مړولو وس نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې د هغې خبرې په ژړا واوښتې خو خبرې ترې پرې نه شوې ویې ویل:

زه به ټول هغه سرمایه داران په ورځ د قیامت کې له ګریوانه راونیسم چې خپله پولاونه خوري،او زما حق زکات نه راکوي، زه به دحکومت مسولین هېڅکله هم ونه بښم چې زما له حاله ځان نه خبروي،زه به مې خپل خدای ج ته شکایت وکړم چې زما په یتیمو ماشومانو داسې لوږې تېرېدې خو چا مې برغولی هم نه پورته کاؤ،زما د حال پوښتنه یې نه کوله ،زه به الله ج ته عاریضه وکړم چې ډېرو وسمنو نه یوازې چې زما لاس نیوی یې ونه کړبلکې زما بد وضعیت یې مسخره کړ،ما پورې یې خندل ،زما خبرې یې پیسو ته د چل بهانې وبللې او تش لاس یې له توهین سره یوځای رخصت کړم.

زما به لاس او دهغوی پیداالانو به په ورځ دقیامت کې ګریوان وي چې ما څلور میاشتني ماشوم ته د وظیفې ډوډی پستوله او بیا به مې ورکوله ،د تنکیو کولمو د نه زغم او نس درد له لاسه به یې ټوله شپه په ژړا او ویښه تېره کړه ، خو دوی به خپلو ماشومانو ته په سل رقمه غذا خپل دسترخوان رنګین کړ او له دې بې انصافي سره ،سره یې ځان ته مسلمان هم وایه،اوږدې تسپې به یې اړولې خلکو ته به یې ځان زړه سواند ورپېژاند

دخوارکۍ ګیلې پر ځای وې د هغوی شکایت سم ؤ ،ځکه چې په یوه اسلامي ټولنه کې دردونه مشترک وي، مسلمانان لکه یو وجود داسې وي ،کله چې د وجود یوه برخه ناقراره وي نو ټول وجود ورسره ناقرار وي ،خو خوارکۍ چا د وجود یوه برخه نه بلله ځکه خو یې د هغې درد هم نه محسوساؤه دې هغې درد چا شریک نه باله

(c) ketabton.com: The Digital Library



،مجبوره وه چې خپل دردونه یوازې خپله تېرکړي ،په مسلمانه ورور گلوي کې ستونزې شریکې وې خو هغې لاچارې په تنهاي سره گاللې،هغې په ریښتوني ډول د اسلام سپارښتنې درک کړې وې او له موږه مسلمانانو یې په هماغه ډول هیله درلوده خو هغې موږ او زموږ غفلت نه ؤ درک کړی ځکه خو یې گیلې کولې، نه پوهېده چې د گیلو لپاره دلته غوږونه کاڼه شوي،دمسلمانې اړیکې پاللو ځواک اوس له منځه تللی ،خواخوږي کډه کړې او .....

دهغې خبرو زما ذهن وځاپه زما د زړه شیمه یې ختمه کړه سینه کې مې برېاسونه په موجو شول ،زړه مې نری شو،د هغې کم سارې بې وسي زما له سترگو اوښکې وخځولې،تر گریوانه ورسېدې،له ژونده سترې مورکۍ د مایوسي او بد حالت لامل مې اول خپل ځان بیا د وخت زیمه دارانه وبلل

ورته مې کړه خورکۍ !

تاته موږ ملامته یو ،ستاسې دې حالت کې اوسېدل زموږ د بې پروایې له امله تر سره شوي،موږ ستاسې په هکله خپل ځان نشو ښبلی او که ځان په یو او بله بهانه وهم ښبو لوی رب مو نه ښبي ستاسې د دې لاچاري پوښتنه به خامخا له موږه کوي

هغه زما په خبرو کې راولویده غوښتل یې د ژوند نورې ترخې بیان کړې!

خو ما پرېښبوده چې نورې خبرې وکړي

ورته مې کړه خورکۍ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورمو مه ملامته وه ،نور له شرمه په ځمکه ننه وځم ،ويلې کېږم نور زه ستاسې د خبرو له کبله د خجالت زور نه لرم،بې پروايې هم حد لري، مورې ستاسې په اړه له بريد اوښتې ناغيړي کړې ده زه ځان ته په مسلمان ويلو خجالت باسم ،له ځان او نورو انسانانو مې کرکه راځي ته حق لرې ډېرڅه ووايې نيوکې وکړې او خپل حق وغواړې هرڅه چې ووايې کمه ده خو زه دې له هرې خبرې او پر حق پيغور سره اوبه اوبه کېږم،خيردی نورې خبرې مه اوږدوه ، ته دې کور ته لاړه شه، ماته مو يوازې  ادرس راکړئ ،خورکۍ په ژړغوني ډول ادرس راته ووايه نوره له څوکۍ پورته شوه د شکيدلې چادري پيڅې يې سره راټولې کړې  له دفتره ووته**

**ما هم څنډ ونه کړ سم دستي له دفتره لاندې مارکيټ ته ښکته شوم لومړي مې ماشوم ته ترټولو بهترينې  شپږ خلطې نيډو شېدې واخيستې چې هره خلطه يوه کيلوگرام وه**

**وروسته مې ټول هغه خوراکي توکي چې يو کور ورته  اړتيالري واخيستل**

**په يوه موټر کې مې واچول مورکۍ لا کورته دننه شوې نه وه د کور دروازه يې ټکوله چې مخې ته يې ودريدم هغې زما د موټر غرا واورېده په ما يې نظر ولگېده حيرانه شوه زما خواته رانږدې شوه ښيښه مې ورته ښکته کړه شاته يې په خوراکي توکو او شيدو سترگې ولگېدې رڼکۍ شوه ،له ډيرې خوښی يې په وچ مخ له وړو ،وړو سترگو د چينو په څېر اوښکې رابهېدې ،د ښکته شوې ښيښې په دروازه يې ډنگر لاسونه کېښودل راته يې کړه زه خوب وينم او که دا هرڅه ريښتيا دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ورته مسکی شوم  ومي ویل څه چې وینې دا ریښتیا دي، دروازه خلاصه کړه چې د ننه  خوراکي توکي کوز کړم له دې ځایه به یې وړل درته ستونزمن وي ددې خبرې سره یې وړې لور دروازه خلاصه کړه ومې لیدل چې دروازې کلفک نه درلوده په ریتاړو یې سره تړلې وه ،کورته دننه شو، مواد مې ښکته کړل ټول ماشومان ترې تاؤ شول د بورې بوجۍ په ښکته کېدو کې وشکیده یوه ماشوم وپېژنده چې په دې بوجۍ کې بوره ده لاسونه یې ترې تاؤ کړل نورو ته یې وویل دا بوره یوه ته هم نه ورکوم زه یې هم نه خورم خپل تي خوری ماشوم نوم یې یاد کړ دا ټوله هغه ته ساتو ،د ماشوم له خبرې پوه شوم چې دوی هم خپل تي خوري ورور ته ځوریدلي، خپلې ناوسي دردولي، ما یې په سر لاس کېښود ورته مې کړه نور تاسې اړ نه یاست چې دا بوره یوه نفر ته وساتۍ ،ټول یې خورئ کله هم چې خلاصېږي زه نوره درته راوړم، هغه گگر سرپه پتري نیولو شونډو سر راپورته کړ له گوتې یې ونیولم راته یې کړه ته د حکومت سړی یې ؟ د شهید شوي پلار ورقې مې جوړې شوې؟ نور به هره میاشت داسې شیان راته راوړئ؟

ـ نه زویه کاش چې دلته د شهید قدر دومره وای چې ته یې فکر کوې دلته خو چې څوک په وطن یا هم دین مړ شي نو پړشي بیا یې څوک برغولی نه  جگوي،دلته د جنگیالي قدر یوازې تر قرباني ورکولو پورې محدود وي کله چې مړ شي له تورو خاورو لاندې شي نو بیا یې ټول حقونه هم ورسره دفن شي،یتیمان یې لکه تاسې له کړاوونو ډک ژوند تېروي

هغه په ماشومانه لهجه بیاپوښتنه وکړه ویې ویل نو ته څوک یې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه ستا گناهگار یو بې احساسه انسان یم چې زما د بې پروایي له امله په تاسې معصومو ماشومانو څه ندي چې تېرشوي نه دي،هغه مې هم په خبره گنگس شو چې دغه سړي خو موږ سره کومه ناروا نه ده کړې ،ولې ځان گناهگار بولي،په دې حقیقت نه پوهېده چې دلته مسلمانې ورور گلوي لا کډه نه ده کړې له یوې کوټې مې د هغه ماشوم ژړا واوریده چې کیسې یې سخت دردولی وم د هغه لپاره مې د شېدو بوتل هم له ځان سره وړی ؤ یوه خلطه مې څیرې کړه،بوتل کې مې شیدې واچولې مور یې هڅه وکړه بوتل رانه واخلي او خپله ورته شیدې جوړې کړي خو ما پرینه ښوده په دې پلمه مې قناعت ورکړ چې زه یې درته د جوړولو طریقه هم ښیم ،خو په اصل کې مې دا ستره هیله وه چې دغه د میاشتو وږی ماشوم ته په خپله شیدې جوړې او له خپله لاسه یې موړ کړم،شیدې مې خپله جوړې کړې ماشوم مې راوغوښت غېږ کې مې کېناؤ ،هغه هم لکه د کورنۍ غړی یې چې یم، غېږې ته راغی ،ځیر ،ځیر یې راته کتل،خدای ج خبر څه به یې په زړه کې تېریدل

د بوتل تی مې خولې ته ورنېږدې کړ،هغه هم پرته له ځنډه لکه د غرمو تنده غری پرته له وقفې ژر،ژر روده ،سترگې یې په ما کې ټومبلې وې مخامخ یې راته کتل!

ځان سره مې ویل ماشومان هم پر احسان پوهېږي،له دې مسلسل لیدو د مننې اظهار کوي خو پر موږ غټانو افسوس چې له دې ځانگړتیا بې برخې یو.

دې بې وزله کورنۍ ته مې راوړې خوراکي توکی وسپارل او مورکۍ ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ،تاسې  د رڼا خیریه بنسټ کورنۍ شوئ ، تاسې د دوامداره مرستو مستحق یاست مورِ به په دومداره ډول درسره مرسته کؤ

مورکۍ ،لومړی لاسونه او بیا خوله اسمان طرف ته پورته کړه ویې ویل لومړی ځل دی چې زما ماشوم څوک په غېږ کې نیسي،لومړی ځل دی چې څوک زما د ماشوم په سر لاس راکاږي،لومړی ځل دې چې زما ماشوم په مینه تی روي،او لومړی ځل به وي چې زما د ماشوم گېډه به په شیدو مړېږي

تاسې زموږ غږ واوریده ، رب دې ستاسې غږ واوري،د نړي ټولې خوښۍ د ستاسې شي

تاسې لکه د اسمان فریښته رب زما ماشومانو د مرستې لپاره رالېږلي یاست

زه نه پوهیږم له تاسې څرنگه او په کومو الفاظو مننه وکړم

زه له ډیرې خوښۍ ورته مسکی شوم ،ورته ومې ویل تاسې اړ نه یاست چې له ما  مننه وکړئ، مننه خو باید زه له تاسې وکړم چې ماته ستاسې په وسیله د یوه نیک کار د کولو موقع په لاس راغله او زما په حساب کې د یوه ووړي یتیم ماشوم د نس مړولو فرصت پیدا شو

زه له دوی راروان شوم ، په لاره کې به چې کله هم د تی خوري ووړي ماشوم د ستوني غرقا د شېدو رودلو په وخت را په یاد شوه د هغه د معصومو شونډو خوځېدا به چې کله هم زما سترگو ته ودریده ډیر خوند به مې حس کاؤه ، داسې د سکون احساس به مې وکړ چې څرگندول یې د حروفو په لیکلو کې نشي ځایدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مورکی د زړه له اخلاصه دعاو یادښت هم بلا کیف کاؤه له**

**ځان سره به په فکر کې بوخت شوم اصلې د ژوند خوندونه خو دلته دي،د غریبانو لاسنیوی څومره خوند لري، هسې خلک خوندونه په نورو شیانو کې لټوي،دوی په اصل کې لاره بدله کړې، د خوندونوسرچینه ترې بې درکه شوې په همدې خوږو سوچونو کې تر دفتره ورسېدم**

**تر ماښامه دفتر کې کېناستم بیا کورته لاړم ،د ماخوستن بسترې ته له تلو سره سم ویده شوی وم**

**د شپې به مخکې سم خوب نه راته ،سرګردانه او سطحی خوب به مې کاؤه نیم به ویښ او نیم به ویده پروت وم ،خو د نن شپې خوب د نورو شپو سره نه شوای پرتله کېدای، نن شپه لکه د ناوې خوب له ټولو مزاحمتونو خالي ؤ**

**سهار شو لکه څرنګه چې جمعه وه نو د بنسټ دفتر ته لاړم**

**هلته مې لا نیم ساعت نه و تېر شوی ،چې دروازه مې ټک ،ټک شوه د ننه راتلو مې ورته وویل**

**د بنګړیو شور مې تر غوږو شو ،د وره په لوري مې وکتل ،ښکلا مې مخې ته ولاړه وه**

**لکه چې مسکا یې د خلقت لویه ځانګړتیا وي، ویړه ټنډه او نری سرې شونډې یې سره بیرته وې،تر مېنځ یې ښکلي مهین غاښونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاريدل،له شرمه يې د مخ په سپينوالي کې د سورخيو څرکونه هم له ورايه څرګنديدل،غوښتل يې له مانه د خپل ځان په اړه څه واوري، خو ما هيڅ هم ونه ويل د هغې په څېر مې هرڅه په چوپه خوله نندارە کول، دهغې تمه زما د خبرو له پيلولو وشکېده ،ځکه خو اړه شوه په خپله يې پيل کړي او د دفتر چوپتيا په خپلو خبرو ماته کړي راته يې کړه ولې ښه راغلاست راته نه وايې؟

زه پوهېدم او احساس کوله مې چې هغه له ما نه د ډير څه تمه لري او په دې باوري شوې چې زما ښکلا او وړتيا په انداز بايد زما درناوی وکړي،خو ما يې د جذباتو د کمولو په پار نوره هم چوپتيا غوره کړه .

د هغې حوصله تمامه شوه راته يې کړه دلته د ژوندي سرو په نوم څوک شته چې ماته د نه او يا هم هو ځواب را کړي ؟

خدای ج شته زه هم ځوان وم او د ځواني غرور مې لاره د هغې دغې وينا جذباتي کړم پرته له فکر ه مې ځواب ورکړ

دلته ژوندي سري شته خو زه نه پوهېږم د کومې ريشتې له امله درته ښه راغلاست ووايم ،که ستاسې ځواب نه وي نو هيله کوم تاسې زما سره د شته بريدونو ماتولو هڅه مه کوئ

هغې پرته له دې چې زما په خبر عکس العمل وښيي يا تنده تروه کړي ،ويې خندل ،له خندي سره زموږ دواړو د غرور د موجونو چپې يو څه ټکنی شوې ،د هغې هم له شرمه د مخ په سپين والي سرخي برلاسې شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وار يې خطا نه شو خپلې خبرې يې وغځولې ويې ويل تاسې په حقه ياست ،ما غلطي وکړه زه او ته سره بلد شوی نه يو،ځانته حيرانه شوم چې ولې تل ستاسې په ليدو بې واکه کېږم ،او هغه څه مې له خولې وځي چې بايد ونه وځي،خو يوشی چې څرګند دی ،هغه دا چې ځينې خلک داسې وي چې کالونه ،کالونه به ور سره واوسېږې،خو دهغوی سره به دې بلدتيا احساس ونه کړې ،خو ځينې بيا په يو وار ليدو داسې درته ايسېږي لکه کالونه،کالونه دې چې ورسره ګډ ژوند کړی وي.

ما يې خبره ور پرې کړه ورته مې کړه ايا ستاسې ددې تبصرې ويلو په تړاؤ پوهېدای شم؟

ــ پرته له تړاوه ژبه کله د زړه له حسه په حرکت راځي

ــ زه پوه نه شوم؟

ـ اوس يې وخت نه دی،نور يې دسکول له اوږې راښکته کړ د خپلې څوکۍ مخته مېز باندې يې کېښوده لومړی يې نغدې پيسې راوباسلې ،ويې ګڼلې پوره اته زره افغانۍ وې، بيا يې خپلو غوږو ته دواړه سپين غوښين لاسونه چې نری ،نری ګوتې يې د طبيعت د توازن بيلګې وې پورته کړل، د غوږواليو په راخلاصولويې پيل وکړ

زه نه پوهېدم چې هغه دا کار د څه لپاره کوي،دواړه غوږوالی يې راوباسلې او د مېز په سر يې د نغدو پيسو سره کېښودې

سر يې راپورته کړ غتې ښورې سترګې يې په ما کې ونيوې راته يې کړه هر انسان به خپله وس پر وي کنه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو

ـ برگ سبز تحقه يې درویش دا وړه ډالۍ زما له خوا ومنه

زه يې په دې خبره وارخطا کړم له ځان سر مې وویل،دا مېرمن له ما څه غواړي،ماته د څه لپاره ډالۍ راکوي هغه له ځايه پورته شو ه ،غوښتل يې چې نوره لاړه شي ماورته کړه اغلې ښکلا دا تاسې څه کوئ ؟زه نه پوهېږم ستاسې ليونتوبونه يو په بل پسې زياتېږي ،تاسې ما ته ډالۍ د څه لپاره راکوئ زه خو کوم غريب نه يم بيا تاسې په دې کار سره زما سپکاوی هم کوئ ،تاسې ماته غوړوالۍ هم کېښودې زه ددې نه څه مطلب واخلم زما له غوړ والیو سره څه ؟

که تاسې ماته له دې لارې د توهين پيغام راکوئ، چې زه بايد غوړ والۍ وکاروم ،ايا پوښتی شم چې دا کار د څه لپاره کوې؟

ښکلا په لومړي ځل زما د خبرو په اورېدو سره د لوړ قد په تنه راماته شوه په کړس ،کړس يې وخندل ،خندا دومره زوروره وه چې يوه او بل اړخ ته مې د ورسيو له ښيښو وکتل چې که چا هم اوریدلې وي نو بې تهمته به مې پرينه ږدي خود خدای ج شکر چې نېږدې څوک نه ؤ

هغه زما په وارخطايې پوه شوه ،له خندا سره سپينه ځلېده ،سپين لاسونه يې وسرويل ،راته يې کړه لطيفه گله !

دا شيان ستا لپاره نه دي ،مه وارخطا کېږه دا مې د بنسټ سره د مرستې لپاره راوړي او تا ته يې تسليموم

ته پوهېږې داپيسې مې له کومه کړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ نه

ــ دا مې نن له پلارجان نه د اختر کاليو لپاره واخيستې ،خو زه سږ کال اختر ته کالي نه کوم زما په دې پيسو يتميانو ته جامې راونيسه غوږوالۍ مې ځکه درکړې چې دا پيسې لږ راته ښکار شوې هغه د سرو دي ورته خرڅې يې کړه کم تر کمه چې په دې اختر کې يو پنځه يتيمان هم په جامو پټ کړو وجدان به مو ارام وي

د ښکلا خبرو سره ارام شوم هغه ويره چې مې درلوده بېرته خاموشه شوه ،ماهم په دې برخه کې له خبرو سره دلچسپي پېداکړه ورته ومې ويل:

نو ستاسې غوږونه به همداسې خالي وي

ـ نه

ـ نورې لرې؟

ــ نه

ــ نوبيا؟

ـ ته به نورې راته واخلې کنه؟

ـ دې خبرې زما حالت بيا د ناقراري خواته بوته

ورته ومې ويل:تاسې په خبرو کې خپل حدونه وپيژنئ،ما سره داسې خبرې نشئ کولی زه که تاسې ته دا ډول سپارښتنه کوم هم ځان راته سم نه برېښي،ځکه تاسې په يوه لوړې څانگې کې زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوئ،له ما مو سویه پورته ده،هیله کوم مورږ باید د خپلو خبرو اداب مراعت کړو**

**ښکلا خورا ځیرکه پیغله وه هرڅه یې دقیق څېړل،خو دلته یې پښه وښویده ، زما له دې روې نه یې زما د بې جرئتي مانا واخیسته ،هغه پوه شوه چې سړی د وړتیا و تر څنګ د بې جرئتي کمزوري هم لري، زما پر دې کار یې د تمسخرمسکا وکړه،خو د خپلې مسکا دپټولو په پار یې خپل لاس خولې ته ویوړ له شرمه یې د خولې پټولو لپاره خپل د رغوي شاه له شونډو سره وصل کړه بیا یې وویل:**

**یوه پوښتنه وکړم؟**

**ـ هو**

**زما دې ستاسې هغه همت او هوډ ته سلام وي ،چې د غریبانو د مبارزې لپاره یې پر خپل پاک زړه کې لرئ،خو ایا پوښتی شم چې کله هم ماسره خبرې کوئ ،یو ډول ستاسې بې جرئتي حس کوم همداسې نده ؟!**

**ــ زه جرئت لرم داسې جرئت چې کم خلک یې لري، خو له پردیو مېرمنو سره نه، ستاسې حس پر ځای دی ،غلط ندی،ماته راکړل شوې تربیه همدا ښونه راکوي .**

**پر هغې زما خبره ښه ونه لګېده ،له اوریدو سره ودرېده د سر په خوځولو یې زما د خبرو سره د موافقې پیغام راکړ**

**هغې ځان وتلو ته برابر کړ چې د دفتر دروازه مې یوه بل کس وټکوله خو مخکې له دې چې ورته د راتلو ووایم دننه مېرمن مخامخ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ودرېده راته يې کړه اجازه ده ما ورته وخندل بيا مې ورته وويل:اوس اجازې ته بيخي اړتيا نشته تياره راننه وتلې يې

له دې خبرې سره ،مېرمنې شاته وکتل دناستي پرڅوکۍ يې سترګې ولګېدې په هغې کېناسته ،د خپل سترې ژوند د کېسې په پيل کولو يې ژبه پرانيسته .

زه کونډه يم ماشومان مې پالش کوي،ژوند مې ډېر سترې دی،دومره سترې چې کله ،کله په دې پراخه نړۍ کې راته د دمې ځای هم نه ښکاري،بس هغه بله نړۍ ته په پنا سره  د خپلې سترېيا ارمانجنه شم

خو موږ مسلمانان يو په دې سوچ له خپلې پرېکړې واوړم چې دغه نړۍ خومو هسې هم برباد ده ،د ځان وژنې په وزله به مې هغه نړۍ هم خرابه کړم

ورته مې کړه خورکۍ مه مايوسه کېږه مايوسي عذاب دی ،مايوسي دمسلمان ځانګړنه نده دانړۍ د ازمايښتونو نړۍ ده ، موږ ته ښايې چې د رب ټولو بدو حالاتو کې زغم ولرو،هغه لوی ذات ته صبر وکړو او له هغه مهربانه ذاته زموږ دستونزو بدله په اخېرت کې وغواړو

يوازې موږ په ستونزو کې نه يو،له موږ مخکې لوی ،لوی شخصيتونه رب په ازمايښتونو کې اچولي،لوږې او تندې يې پرې راوستې دي،خو هغوی د صبراو زغم نه کاراخيستی د خدای ج په ازمايښتونو کې بريالي شوي دی،او بيا تر بريا وروسته د رب په بې شميره نعمتونو کې پټ شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورکۍ په ژړا شوه ،راته یې کړه وروره !زما نوره د زغم کاسه ډکه شوې ،زه یې نورنشم زغملی،زه نوره د خپلو یتیمو ماشومانو د لوږې ،او فریاد چغې نشم اورېدلی

د هغوی په مخونوکې سپیره والی مې وژني ،غربت خو په هر چا راځي خو زما بیا نفس باسي،زما هډوکي ماتوي،زما د زړه مراندې شکوي،له دې سره سلګۍ غبرګې شوې د ښکلا سلګی مې هم تر غوږو راورسېدې ما هغې ته وکتل خو هغې له شرمه د خپلو اوښکو پاکولو هڅه وکړه دواړه لاسونه یې مخ پورې وصل کړل له نریو ګوتو یې اوښکې رابهرشوې ،له دسکوله یې دسمال راوکیښ او د اوښکو په پاکولو مشغوله شوه

ما خورکۍ ته وویل :که ویل مو نه ځوروي،تاسې کولی شئ د خپلو ستونزو یوه بېلګه راته ووایې؟

هغې وویل:ژوند مې له دومره ستونزو ډک دی چې بیانول یې کالونه،کالونه نیسي،کتابونه پرې ډکېږي،د نن سهار کیسه درته کوم

سهار وختي پورته شوم له لمانځه وروسته دسترخوان ته ورغلم د بیګانۍ راټولې شوې وظیفې څو ټوکه پکې پراته ؤ ،ماشومان مې پالش کوي نو ومې ویل زه به چای ورته وکړم ،چې وختي خپل پالش پسې لا ړشي،د نغري طرف ته لاړم په تلو کې رایاد شوه چې مور خو لرګي نه لرو نغري ته ورسېدم بیګانۍ مې یوه زوی، د لرګي دوه ټوټې پیدا کړې او کور ته راوړوې وې ، خو لوندې وې،چای جوش مې په انغري کېښود،د اور دبلولو هڅه مې وکړه اور نه بلېده ،ځکه چې د لرګي ټوټې لمدې وې ،دغو لرګیو ته مې دومره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې پوکی کړی چې لرګي ایره شوو خو لمبه یې ونه کړه اوبه جوش نه شوې زما سترګې هم له ایرو ډکې شوې له ډېرو اوښکو مې سترګې نورې نشوې خلاصولی، ،هیله مې وه چې ماشومان باید نهار له کوره ونه وځي،خو زما دهیلو خلاف کار وشو له نغري ناهیلې راپورته شوم،چای جوش مې هلته پرېښود،ځان سره مې وویل:

دومره غریبه شوې یم چې د یوه کوچني چای جوش د اېشولو وس هم راسره نشته سترګې مې د لوګیو دلاسه خوږېدې ،خو بې واکه مې پرې نورو اوښکو هم دبې وسي باران وکړ، لاس مې نه شو وروړلی ځکه چې درد منې وې د ایرو بخرکو پرارژلې وې ماشومانو ته مې هم نشو ویلی چې زه دومره ناوسه شوم چې چای جوش مې ونشو اېشولی،مخامخ ورته ودرېدم ومې لیدل چې د هغوی له ما ډیره تلوسه وه چې چای وڅکي ،خو زما په څېره کې دوی دا هرڅه نندارہ کول،زما له ویلو پرته پوه شول چې مور دغربت د وروستي برید ژوندي سري یو،ځکه خو یې د بوټونو رنګولو شخولي اوږو ته واچول او لاړل بهر په خپل کار پسې ووتل

زمابې سرپرسته ، بې پلاره یتیم ماشومان په نهار رانه له کوره ووتل،او هر څه ما په غړېدلو سترګو کتل،هغه درد چې نن ما د یوې مور په صفت وزغامه ،او دې بې وسي دې وروستي حد کې چې زما په زړه څه تېر شول ،ددې درد الفاظ په ویلو کې اسان دي خو عادي ندي ؟

ددې تېرول شاید تیرې هم ونه شي زغملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مېرمن بيا په ژړا شوه پر مخ يې اوښکو لارې جوړې کړې راته يې کړه !تاسې څو لحظې فکر وکړئ چې زما د اولادونو پرځای ستاسې اولادونه دې حالت ته رسېدلي دي؟ ستاسې په نه شتون کې ستاسې د مېرمنې او اولادونو دا حال دی**

**څه احساس به وکړئ؟**

**له دې سره د ښکلا،ژړا هم په زوره شوه، زما هم زړه د تيږې نه ؤ سترګې مې لمدې شوې**

**ښکلا له ځايه پاڅېده ،ماته يې مخ راواړاؤه ،ويې ويل :**

**زړه سوانده زه نوره ددې خبرو اورېدو تاب نه لرم،زه ځم، کاشکې قيامت راشي او ټول په يو ځل له دې ويرجنې نړۍ وکوچېږو،له دې دردونو خلاص شو**

**ما ورته کړه داسې ژر به نه مايوسه کېږو،او نه ژوند داسې اسانه دی چې زموږ د هيلو برابر دې تل روان اوسي،هغې زما خبرې اوريدې خو په وتو کې يې بېرته مخ راواړاؤه ويې ويل سمه ده ،خو هيله کوم،خپلې دې سپيڅلي مبارزې ته دوام ورکړئ، ددې خلکو لاسنيوی پرينه ږدئ،ددې بې چاره خلکو غږ له تاسې پرته بل هېڅوک هم نه اوري،دلته د مسولينو او مالدارو خلکو غوږونه کاڼه دي،زړونه يې له تېږو جوړ دي ،په هغوی کې سيله رحمي نشته ، اوس د سيمې د ډېرو غريبانو هيلې تاسې ته دي اوتاسې په دې کار کې يوازې نه ياست زه هم لکه د سيوري په ډول درسره يم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او تر ټولو دا چې په دې لاره کې خدای ج درسره دی،دهغه مرسته درسره دی ،خدای ج د دې بیچاره گانو د مرستې لپاره تاسې غوره کړي یاست تاسې ددې وگړو بهترین کس یاست ،هیڅکله هم همت ونه بایلئ،ستاسې دغه پاکه لاره د هرچا په نصیب کېدای نشي دا لورینه رب یوازې به تاکړې،او بس**

**ښکلا په بېړه صحنه ترک کړه ،ځکه چې ددې بې چاره خورکۍ د خبرو تاب د هرچا د وس خبره نه وه**

**خورکۍ ته مې وویل:**

**ماته دا مه وایه چې څو لحظې زما په ځای کې د خپلې کورنۍ ته قرار ورکړه ،ستاسې له ویلو پرته زه د تل لپاره داسې احساس کوم چېرې چې غریبه خورکۍ وگورم لومړی فکر کوم چې که ددې پرځای زما سکه خورکۍ دومره بیچاره شي نو ماته به څومره سخته وي**

**د دردونو اوښکې هم جالبې وي لکه سیندونه بهیږي د کونډې خورکۍ اوښکو هم پای نه درلوده پر مخ یې شل ځایه راتلې ورنږدې شوم هغې ته مې د اوښکو پاکولو کاغز ورکړ ورته مې کړه اوښکې دپاکې کړه ته نوره د خپلو ستونزو په وړاندې یوازې نه یې ستاسې دا مخامخ ورور دې هم درسره دی،زه دسیوري په ډول ستا ملتیا کوم ستا ستونزو ته به له تا مخکې لومړی زه ولاړ یم**

**هغې د دعاو لپاره لاسونه لپه کړل ،ترې وامې وریدل چې ویل یې خدای ج د د همځولو سر کړه ،الله پاک دې د نړۍ ټولې خوشحالیانې درپه برخه کړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته کړه د کور ادرس مور راکړئ ماشومان دې هم له پالشه راوغواړه ،انشاالله که خدای ج غوښتي وي نن ماسپښین زما د راتلو انتظار کوئ،خورکی د ټیکري پیڅه راونیوه د سترګو پر خوا او شاه یې راتېره کړه لږ خپل طبعي حالت ته راغله ستونی یې هم د عادي خبرو لپاره چمتو شو،ویې ویل زه ډېرو خلکو د کومک په تمه کړی یم ډېرې درګاوې مې ټکولې هغوی هم په دې بهانه رخصت کړې او له ځانه پنا کړې یم ایا ته په ریښتیا نن ماسپښین زموږ لاسنیوي ته راځې

ما ورته وخندل ورته مې کړه خورې که مې پر وجود کې ساه وه نو زما ژمنه ،ژمنه ده ده انشاالله چې نن ماسپښین به مې د خپل کور په مخ کې وګورې

هغه مې ډاډه کړه او بیا مې رخصت کړه ،د بیچاره مېرمن له تلو سره سم زه هم لاس په کار شوم د لرګیو هڼې ته لاړم یو موټر لرګي مې واخیستل،ورسره مې اړین ټول خوراکي توکي هم واخیستل،موټر کې مې ځای پر ځای کړل د دې بیچارګی په لوري موحرکت وکړ

زه د کور نازولی یم خپل کورته مې هم کله لرګي نه دي اخیستي دا بارپه نورو اچوم ،خو کونډې خورکی ته مې په خپل لاس لرګي ښکته کړل څو ځایه مې د لرګیو له تېرو څوکو سره د لاسو پوستکی لاړ او د وینو سرو خطونو پرې اوږدې کرښې جوړې کړې

هغو دردونو هم خوند کاوه چې لرګیو مې لاس ټپی کول

دا مې هیله وه چې په نهاره له کور وتلیو ماشومانوته په خپل لاس چای وکړم او دوی پرې راټول کړم یو ځای ورسر چای وڅکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج مې همدا هیله  پوره کړه د نغري خواکې یو تور چای جوش ایښی ؤ راوامي خیست،د لاس له وروړلو سره مې خپل لاس ولېده چې توره د سکرولیکه پرې رسم شوې وه اور بلول هم راته اسان نه ؤ خو بخت مې په دې بیدار ؤ چې په لرګیوکې مې ښه ډېر چراغ اخیستی ؤ  د اورلګیت  خلي په وروړلو سره مې اور بل کړ لږ انتظار مو ورته وویست یتیمانو هم راسره د نغري ګرد چاپیره دایره جوړه کړې وه یو وخت ګورم یو یتیم بل چوخ کړ زما د پوزې ننداړې ته یې وهڅاؤ ما هم دوی د سترګو له کونجو څارل هغه چې زما پوزه باندې نظر پریوت ویې خندل ،ورته ومې ویل ولې خاندې زمریه، هغه بل یې خبره ونه شوه زغملی وایئ  د پوزې سر دي په سکرو تک تور کړی  له جیبه مې اینه راوویسته په ریښتیا هم پوزې مې د تورو سکرو یوه نقشه لرله،کوم ځل رانه تور لاس د پوزې ګرولو لپاره پورته شوی ؤ ژر،ژرمې له جیبه دسمال راوویست پوزه مې پاکه کړه نورې نو اوبه هم وخوټېدې په خپل لاس مې چای دم کړ،یتیمان مې پرې راټول کړل او یو ځای مو چای وخوړ

خلک خوند په پاچاهي کې لټوي، څوک یې په لوړو ماڼیو کې لټوي ،او څوک یې هم د خپلې معشوقې په ښکلي مخ کتوکې لټوي،خو زما په نظر دا ټول تېروتي دي

ریښتونی خوند د داسې بې سرپرسته کورنیو په لاس نیوي کې دي ،چې له خدایه ج پرته بل څوک نه لري،ما چې له دې منظرې کوم خوند اخیسته او کوم سکون مې احساساؤ ،حروف یې له لیکلو او ژبه یې له ویلو عاجزه ده ، دوی ته مې وروړي توکي تسلیم کړل  وړو ،او زړو د دعاؤ وریښمین غونډاري راپیرزو کول ،خورکۍ رامخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوه راته یې کړه ،تورې خاورې واخلې او په لاس کې د سره زر شه،خدای د د ځواني په خوږو موږکړه له موږ سره خو له دعاؤ پرته بل هیڅ هم نشته چې ددې نیکي په بل کې یې درکړم**

**ماورته وویل:خورکۍ ستاسې لاسنیوی زما دنده اومسولیت دی،په دې لاسنیوي کې زما ډېره ونډه نشته زه ستاسې سره ددې مرستې یو اسان چاری یم ،اصلې هیروګان خو هغه خلک دې چې زموږ د بنسټ سره مرسته کوي نغدې پیسې ورکوي او زموږمالي ملاتړ کوي تر ما هم هغوی ډېر د دعاؤ حقداره دي هغوي ته دعا وکړه**

**هغه د قبلې په طرف ودریده لاسونه یې لپه کړل ویې ویل ربه هغوی ته هم یوه روپۍ په دنیا او اخیرت په یو میلون عوضونو بدله کړې رب د له هرې بلا او مصیبته وساتي،خدای ج د په زړه کې حاجتونه پوره کړي مایې هم په دعاؤ امین ویلې ځکه چې ددوی له برکته ماته هم دعاوې کېدې**

**نور مې له دوی رخصت واخیست د لمرسترګې خپله روښنایي تته کړې وه له جګو،جګو غرونو یې لا وړانګې نه وې ټولې کړې،نېږدې یو جومات باندې مې سترګې ولګېدې ژر،ژر مې اودس او لمونځ وکړل ،بیا د کور په لور رهي شوم، ښه په خوند ستړی ؤم ددې کورنۍ په لاسنیوي سره دومره خوښ وم چې پردې ستړیا بند او خلاص نه وم**

**کور ته لاړم د ډوډی او لمانځه وروسته مې د خوب وخت راورسېده خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وړکوني مې د خوب کولو عادت خراب ؤ،داسې به ویده کېدم چې چندان ښه به مې پرې نه کېده، سطحي به ویده شوم خوکله به چې راویښ شوم د خوب ګټه به نه وه ،د ارام احساس مې نه کاؤه،لکه چې هېڅ خوب مې نه وي کړی،خو زما په خوب کې یو انقلاب راغی بالښت ته له تلو وروسته لکه تېره چې ډنډ ته واچوې زه هم په خوب کې غرق شوم ،سهار لمانځه ته په څو غږو راویښ کړل شوم،له دې مخکې به مې هم خوب کاوه او هم به مې د خوااوشاه خلکو خبرې اورېدې .

خو بیګاه شپه داسې نه ؤم

لکه د ناوې لومړشپه چې قسمت ماته ډالۍ کړې وي ،خورا ارامه له خوبه پورته شوم

پرېکړه مې دا وه چې نن ورځ هم باید زه د بنسټ په دفتر کې تېره کړم ځکه چې زما د رسمي دندې پنج شنبه او جمعه رخصتي درلوده

دفتر ته په ډېر شوق لاړم ،له رسمي دندې مې دلته اوس تلوسه زیاته وه د بنسټ کار اوس راته کار نه بلکې یو عشق احساسېده ،له زړه مې غوښتل دلته کار وکړم

دفتر کې کیناستم د بنسټ د مرستو جلبولوپه پار مې فسبوک کې یو پوست وکړ دې یوې بې سرپرسته یتیمې کورنۍ انځور مې پورته کړ ومې لیکل : له خدای ج پرته بل څوک نلري .
نور مې فسبوک بند کړ،د بنسټ د پیسو پېداکولو لپاره مې دومره سوچ نه کاؤه ځکه باور مې درلوده چې دا د الله ج کار دی اوهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپل کارونه خپله کوي هغه يې انجامولو ته خپله لارې خلاصوي ، سوچ مې ټول په دې کې ؤ چې څرنګه خپل زړه سم کړم له ريا، ځان ښودنې او انساني غرور څخه يې پاک وساتم،ځکه الله زما زړه ته ګوري د هغه هر ظربان او پکې احساس ته ګوري او هغه زما زړه وينې چې د رب ج لپاره څومره مينه پکې پرته ده لوی رب پوهېږي چې د غريبانو په لاسنيوی کې يې زما رضا څومره په فکر کې نغښتې ده ، کله چې زما زړه ددې کار لپاره له ناپاکيو رب خالي ووينې نو بيا ټول امکانات د الله ج دي د خلکو زړونه هم دالله ج سره وصل دي که زما زړه پاک او سوچه وي او اراده مې سپېڅلې وي نو امکانات بيا خپله رب پيدا کوي.**

**تل به مې رب ته دعاې کولې چې اې د زړونو واکمن ربه زه انسان يم نيمګړی يم،خامخا له تېروتنو خالي نه يم يا ربه ته زما نيمګړتياوې راسمې کړې زما زړه پاک کړې ،شونډې مې په همدې دعاو خوځولې چې د دفتر له ښيښې مې يو ملګری ولېده،زما په لوری راروان ؤ**

**راغی له سترې مشې وروسته ې راته وويل:**

**ښه د پيسو په چل پوهېږې؟ ومې ويل څنګه ؟**

**ـ د پسو لاسته راوړلو سختې لارې چارې درته مالومې دي**

**ـ باور وکړه نه پوهېږم چې ستاسې مطلب څه ده؟**

**ـ بس د خلکو پيسې دي درته رادرومی نيمې نمايشې لګوې اونيمې جيب کې واچوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومې خندل،مال وروره هېڅ کله به دومره ظالم نشم چې د يوه بې سرپرسته يتيم ماشوم د خولې ګوله ستنه کړم او خپل زوی ته يې ورکړم،هغه هم هغه زوی ته چې مړشم باور مې د نن زمانې په اولادونو نه راځي چې يوه اونۍ وروسته له مرګه دعا هم راته وکړي ،زه دومره کمعقل سوداګر نه يم چې داسې احمقانه سودا وکړم ،زما سودا له رب سره ده،زه يوازې د خپل رب نه ددې کړنو عوضونه غواړم او بس

زما په خبره د سړي ټنډه ګونځې شوه ،خدای خبر چې په زړه کې يې څه تېريدل خو دومره پوه شوم چې په خپله خبره پښېمانه ښکارېده ،د شرم احساس يې کاوٌ لنډ مهال وروسته يې خدای پاماني واخيسته دده له وتو سره مې ټليفون وشرنګېده ،يو نری خو بلد غږ مې تر غوږو شو راته وويل شول :

يونابللی ميلمه منې

ــ تاسې څوک؟

ـ ستا عاشقه

ـ لطفا د خبرو د چلند اداب مراعت کړئ،څوک ياست؟

ټليفون پرې شوه ، څو لحظې مې ذهن ددې کس په پېژنګلوی کې مصروف شو،فکري مشغولتيا مې هغه مهال پرې شوه چې د دروازې ټک ،ټک مې واورېده

مخ مې وروا ړاوٌ دطب زده کړياله ښکلا مې په دروازه کې په خنده رويه څهره ولاړه وه زما په سترګو کې يې سترګې په دې تمه ونيوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښه راغلاست ورته ووایم او د هغې راتگ ماته له خوښي ډک واوسي

ما د هغې د تمې خلاف ورته وويل:

اوس تاسې په ټليفون کې د خلکو مزاحمت هم زده کړی؟

هغې وخندل راته يې وويل:

ټولې خبرې دلته د وره په خوله کې راته کوې که د راتلو هم راته وايې ورته مې کړه مهرباني وکړئ .

ـ ته زما په ټليفون خفه شوې ؟

ــ هو نو

ــ ولې؟

ــ ځکه چې تاسې ترکستان ته روان یاست او ټیکټ مو د عربستان کړی

ــ زه پوه نشوم؟

ــ اغلې ښکلا دغه دفتر د غريبانو د لاسنيوي دفتر دی ،د يتيمانو د ستونزو د هواري لپاره جوړ شوی دی ،دلته نورې خبرې ددې بنسټ له اصولو خلاف دي،لطفا تاسې پرته له دې خبرو چې دفتر پورې اړوندې وي ،د نورو شيانو لپاره د دفتر وخت مه ضايع کوئ

ــ د ښکلا بشاشه او ځلانده څهره زما خبرو مړاوې کړه ،هغه په څوکی کې را ځکه شوه ماته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې زما له راتګ او خبرو غلط برداشت مه کوئ

ــ نه زه غلط برداشت نه کوم

ــ تاسې د ټولې نړۍ سره ښه یاست ،خو له ماسره زشته رویه کوئ

ـ زه درته بې حده درناوی لرم،تاسې درک کوم ،ستاسې خواخوږي درک کوم ،تاسې د خپل زینت توکي،سره زر هم بنسټ ته وسپارل چې یتیمانو ته پرې څه واخلو،داسې احساس دې دهرچا شي،خوکه موږ په دې دفتر کې یوازې او یوازې د بنسټ اړوند خبرې وکړو،دا به مو په ما احسان وي

ــ ما خو له تاسو سره کومه بې ادبي نه ده کړې چې بار،بار یې ماته یادونه کوې او بې ځایه یې سپارښتنه کوئ؟

ــ سمه ده ، نه ده مو کړې ،خو په راتلونکي کې هم ددې ټکي خیال ساته

ښکلا،زما په خبرو په ځان کې ووهل شوه ،پر څوکۍ کې یې بېرته شاه ته ډډه ووهله،خپل د نریو قلمي ګوتو اوږده نوکان یې له غاښو لاندې کړل

په یوه ژور حیرت کې لاړه نه پوهېږم خیال یې په کومه جزیره کې په پرواز بوخت ؤ ما یې هم دسترګو له کونجه زما د خبرو د اغېزمنتوب ننداره کوله چې له حرکاتو یې پښیمانتیا له ورایه ښکارېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې پرې بد شو،د يوه انسان د حيثيت ساتل مې تل له لومړيتوبونو ؤ،خو ډېرملامت هم نه وم ځکه چې زما لاره د هغې له غوښتنو جلا وه

لږ شېبه دواړه خاموشه ؤ،د دواړو سترګې د ځمکې خواته وې هغې هم د تلو دپلمې بهانه لټوله ،خو زموږ خاموشي د دروازې ټک،ټک ماته کړه د يوه پاخه عمر لرونکې مېرمن راننوته ميده ،ميده ټوخی يې کاؤ،تر شاه يې دوه درې ماشومانو ورپسې واړه ،واړه قدمونه اخيستل د يوه خو يې دمور د ټيکري پيڅه نيولی وه ماته يې وويل :

لطيف تاسې ساست؟

ـ هو زه يم

ـ زه خو په يوه لويه هيله درته راغلې يم زويه !

ـ مهرباني وکړئ زه درته غوږ يم

ـ زه کونډه يم،مېړه مې د زړه ناروغي درلوده هغه مړ شو واړه ماشومان يې ماته پاتې شول،داسې توره نيستې موده چې نور د بې وزلي زور نه راباندې رسېږي ،زما حوصله نوره ختمه ده له ما مې ماشومان کالي، پيزار او خوراک غواړي ،خو زه تش لاسې تور سرې يوه روپۍ په جيب کې نه لرم ماته نور عصبي تکليف پيدا شوی ،زه نوره د بدو حالاتو زغم نه لرم ،دا حالت ماته شکنجه راکوي زجر راکوي،ماشومان مې له لوږي راته ژاړي ،زه په بې وسه سترګو د دوی د ژړاګانو ننداره کوم تاسې نه پوهېږئ چې په دې حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه مور څه تېرېږي ،که پوهېدای ددې درد درک درسره وای ،ځمکه به مو له پښو تښتیدلی وه ،زه په قران لاس ږدم چې دا شپږ میاشتې زما ماشومانو د غوښې بڅری په خوله نه وي ایښی،ماشومان مې وظیفه راټولوي،کوم کور کې چې غوښه پخېږي او دوی یې ووینې ماښام چې کورته راستون شي له ما خوارکۍ غوښه غواړي ضد کوي ،ژاړي بدې ورځې کوي،خلک ما نشي درک کولی او دوی ځکه نه دي ملامت چې اولادونود نیستي له وجې ورته ندي ژړلي ، که یې ورته ژړلي وای بیا یې زه هم درک کولی شوم ،زما درد او تکلیف یې هم درک کولی شو ، زما د ژوند دا بد حالات په ویلو کې اسان خو د چا په ژوند کې چې راشي د زغملو ندي

هغه بله ورځ مې یو ماشوم په وظیفه راټولولو پسې ووت ماښام یې یوه کورته دروازه ورټکولې وه ،هلته یې د غوښې دیگ بخار اواز اورېدلی کومې تورسرې چې وظیفه ورته راباسلې نو زما زوی ورته ویلي چې لږ غوښه به ماته را نه کړې؟

هغې ورته ویلي چې اوس خو پخه نده !ماشوم یې ناهیلی راستولی ؤ

هغې مرمنې یې خپل خاوند ته داکیسه کړې وه په سبا یې خاوند کورته دوه کیلوخامه غوښه زموږ کره رالیږلې وه زما ماشومان چې خبر شول ټول خوښ وو چې بیگاته به غوښه او ښورا خورو ما دیگ چمتو کړ په دې وخت کې زما یوه زوی ته چا ویلي ؤ چې ښارکې د رڼا په نوم یو بنسټ جوړ شوی،هغوی د بې سرپرسته یتیمو کورنیو سره مرسته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماسره د لارې کرایه نه وه  دیگ مې پرېښود یوه همسایه کره لاړم یوې مېرمنې ته مې وویل ماته دوه سوه افغانۍ قرض راکړئ، ښار ته ځم هلته یو چا  مورږ ته د مرستې ځای راښودلی، هغوی د پیسو نه انکار وکړ،اخیر مې ورته وویل مورږ کره غوښه شته هغه به درباندې خرڅه کړم ،مېرمنې راته کړه ته غوښه راوړه زه به له مېړه پیسې درته واخلم زه غوښې پسې لاړم غوښه مې د دیگ خوا کې ایښې وه، لومړی مې خپلې دې ناوسي ته ډېر وژړل بیا مې غوښه راواخیسته ،مېرمن سلګو واخیسته خو خبرې ترې پرې نه شوې،ویې ویل دځلور سوو افغانیو غوښه وه مېرمنې ته مې راوړه خو هغې دوه سوه روفۍ په لاس کې راته ونیوې ورته مې کړه دا غوښه خو د ځلورسوو ده ځواب یې راکړ که یې نه راکوې پیسې راکړه غوښه د بېرته ویسه**

**وایې یو مجبور ؤ او بل مجبور له خدایه ج څخه غوښت ،دې مسلمانې زما غوندې له مجبوري کونډې هم ګټه کوله ،پیسې مې ترې واخیستې،بیرته کورته راغلم**

**له مېرمنې چغې په زوره شوې ښکلا هم ددې حالت ننداره کوله ،د اوږدو ښهو سرو یې د اوښکو څاڅکي نیولي ؤ هغه له خپل ځایه راپورته شوه مېرمن یې په غېږ کې ونیوله ورته یې کړه**

**خورکۍ زه ډاډه یم که ستا خبرې واورېدل شي په حالت  به دې نن اسمان او  اسمان کې شته مخلوق ټول و ژاړي،خو د ځمکې مخلوق څومره سخت زړی دی چې ستا له دې حالت او بې چارګې هم ګټه کوي،اه له انسانیته مې کرکه وه شوه له ځانه مې کرکه وشوه،کاشکې زه انسان نه وای ،یوه تیږه وای ،یو بوټۍ وای راشین شوی وایې د کوم څاروي خو به راباندې د خوړو ښه شوی وه،دا اشرف المخلوق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څه کانې کوي،ایا دوی په سینه کې زړه نه لري،دوی د ترحم په نوم څه نه پېژني؟**

**د ښکلا خبرو ته مې خورا ژور پام ورواوښت د ځان په شمول زما هم ټول انسانیت ته قهر راپارېدلی ؤ ،خو د ښکلا خبرو مې د پارېدلیو احساساتو کچه راکمه کړه هغې داسې خبرې وکړې چې ما باید کړې وای او د زړه براس مې پرې ایستلی وایې لکه زما له زړه چې خبره وي .**

**اخر ولې؟**

**ولې انسان بیا هغه هم مسلمان دومره سخت زړی شي؟هرڅه هېر کړي، زړه سوی ،ترحم خواخوږي له یاده وباسي او د نورو له وروستي حد مجبوري نه ګټه پورته کړي؟**

**خوارکۍ مورکې یو ځل بیا سلګیو ونیوله ویې ویل:**

**زما لپاره تر ټولو بده صحنه چې سر مې د قبر تبۍ هم ووهي ، هېره به مې نه شي هغه داوه چې کله د ماخوستن د ډوډۍ وخت شو،نو ماشومانو یو بل ته ویل اوس به مې مورغوښه راواخلي،موږ به نن غوښه وخورو،ښوروا به وخورو،خو د تمې خلاف دوی پر سترخوان د وظیفې په وچه ډوډۍ،او د چای پر ترموز سترګې ولګېدې،ټولو یو بل ته ناهیلې سترګې وراړولې بیا یې په حیراني له ماوپوښتل راته یې کړه مورې!**

**ولې غوښه نه رااخلې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله ما بدمرغې سره ددوی د خبرې ځواب نه ؤ چې ورته ویلې مې وای ستاسې مور دومره بې چاره شوې چې ان د خیرات غوښه یې هم خرڅه کړې ،او ستاسې تمه او انتظار یې له بدې ورځې پر لغته وهلی

ښکلا دې مورکۍ په اوږه غځولې لاس راتېول کړ،پر خپلو رخسارونو یې نری،نري گوتې چې د فطرت د توازن بیلگې وې راتیرې کړې پر مخ یې د اوښکو قطارونه ړنگ کړل،خپل مړوند ته یې وکتل یوه ښکلې بنگړی یې دمړوند ښکلا څو چنده کړې وه پربل لاس یې ژر،ژر د راویستو هڅه پیل کړه بیا یې د مورکۍ په خواکې مېز باندې خپل بنگړی کېښود،هغې ته یې وویل دا واخله ستاسې دې وي

مورکۍ بنگړی راواخیست او بېرته یې ښکلا ته ونیو هغې ته یې وویل:

دومره سختي هم نه ده راباندې راغلې چې ستا دلاس بنگړی واخلم دابېرته په لاس کړه ،ستاسې د ښکلو مړوندونو ښکلا مه پرې خرابوه ،بیا یې خپل لستوڼي پورته کړل مړوندونه یې راباسل خپل د پوستکي چاودې یې ښکلا ته وروښودې ورته یې کړه زما له دوړو او چاودو ډک مړوندو کې د سرو بنگړي بد ښکاري موږ تقدیر د سرو کارولو ته نه یو جوړ کړي ښکلا ورنېږدې شوه هغې ته یې وویل ما دا بنگړی ددې لپاره نده درکړی چې ته یې په مړوند کړه درته خرڅ یې کړه ، ماشومانو ته ښه ډېره غوښه پرې واخله ،څو ورځې مسلسل غوښه ورکړه ،چې د غوښې ته تلوسه یې ختمه شي، ترکیدل یې له منځه لاړ شي نن زه په ډېرې ریښتین ولې سره اقرار کوم که د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښې خوړل روا وای ستا ماشومانو ته مې د ځان غوښې هم پخولې ،ښکلا د مور له ګوتو بنګړی واخیست او په زوره یې د هغې د ګیږ لاس جیب ته ورواچاؤ هغه د خپل ورکړې بنګړي په ورکولو او دهغې لخوا د چوپتیا په رمز قبلولو سره ډاډه شوه ،پرمخ یې د خوښۍ نښې راځرګندې شوې،شوخو، شنو سترګو یې جلوې شیندلې،زما په لوري یې مخ راواړاوه په سختي یې په نرۍ شونډو موزون کلیمات په داسې حالت کې پېل کړل ، چې حیا یې له روخسارونو په وریدو وه ،خو نه پوهېږم د اوږدو ښو د راپورته کولو جرئت یې ولې له لاسه ورکړی ؤ ځمکې ته یې کتل راته یې کړه زړه سوانده !

مال ها.

ـ تاسې ملامت نه یاست!

ـ ولې؟

ـ ځکه چې ستاسې وخت ډېر قیمتي دی

ستاسې وخت باید زما غوندې اوزګار خلک ضایع نه کړي، تاسې هغه کار ته ملا تړلې ده چې ډېر کم خلک یې د کولو توان لري،او د ډېرو کمو خلکو په نصیب کېږي هغه څوک چې د پر مسولیته او خدایي خدمتګاره کار ته وخت ورکوي د هغوی وخت هم ډېر قیمتي وي،نور زه هڅه کوم ستاسې دغه قیمتي وخت وژغورم،ځکه تاسې د هغو خلکو د خدمت لپاره وخت لګوئ ،چې د هغوی لاچارو غږ هیڅوک هم نه اوري،د نړۍ بې وسه خلک دي ،له خدای ج پرته یې هیڅوک په کیسه کې ندي،تر دې چې ځینې خو یې غربت پورې خاندې ،ساعت پرې تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما ورته کړه :**

**ښکلا زما ذهن سم کار نه کوي مورکۍ داسې الفاظ وکارول ،چې زما زړه يې هرې کليمې ټپي کاؤه،اه مورې په څرنګه يوه ټولنه کې ژوند کوو ايا دلته خلک د انسانيت ،ترحم ،زړه سوي او خواخوي په نوم څه پېژني؟ايا دلته هم مسلمانه وروګلوي پاتې ده؟ ايا مورې کې ترحم وجود لري او که يوازې د زړه سوي انځور زمورې سره دی له کومه چې عمل کډه کړې**

**اه**

**چيرې دي د بشر د حقونو مدافيعين ؟چيرې دي د انسانيت خواخوږي ؟چيرې دي د ميرمنو د حقوقو مباريزين ؟چې ګز ګز به پورته لوېدل،ترڅو ددې مورکۍ غږ واوري،زه خو نور مړ کېږم د خپلو خلکو دردونه مې دومره شکنجه کوي چې زغمل يې راته ډېر سخت دي زما د کونډې ،زما د يتيم دې داحال وي او زه دې مزې چړچې کوم زما کونډه مورکۍ دې دومره بې چاره کېږی چې د خيرات غوښه دې خرڅوي ،هغه هم د داسې اولاد له خولې چې شپږ مياشتې يې د غوښې بڅری په سترګو نده ليدلی هغه ماشومان چې تره کېږي ،نينه کېږي خو د خيرات د غوښې د خوړلو موقع هم له لاسه ورکوي ،ګاوندي څومره حق لري خو زما د ټولنې ګاونډي د ګاونډي له مجبوري ګټه پورته کوي مرسته او لاسنيوی خو يې يوارې نه کوي د هغه له اړتيا هم ناسمه ګټه کوي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما د پنځه زره کلن تاریخي هېواد انځور دی دا زما د کلکو او پراسلام مینو مسلمانانو چې په نړۍ کې د اسلام پالو په نوم پېژندګلوي لري دا د هغوی د کړنو انځور دي

زما د ټولنې زیمه واران او مشران دې پولاونه خوري ،د شلو دېرشو نفرو د خوراک د پسونو پاتې شونې غوښې دې ډرام او خځلوټې ته اچوي ،خو بل ځای د زما کونډه خورکۍ د خیرات غوښه خرڅوي .

په دې وخت کې ښکلا راپورته شوه مخامخ زما د ناستي مېز ته ودریده په داسې حال کې چې خپله یې هم پر مخ اوښکو لارې کړې وې اوږده باڼه یې له لرې لامده ښکارېدل ماته په خبرو شوه راته یې کړه ، زړه سوانده ته ارام شه په ځان دې فشار مه راوړه ،ددې خلکو د ستونزو حل په اوښکو تویولو نه کېږي او نه ستا د زړه خوراک دوی ته ګټه رسوي ،عملا باید لاس په کارشو

د ښکلا خبرو را بیدار کړم ،دې هغې خبرې راته دومره ډاډمنې او اغیزمنې شوې چې ځپلي فکر مې ورو ،ورو انرژی پیدا کوله ، راویښ شوم او احساس مې کړه چې زړه سوانده د دوه مېرمنو په منځ کې ژاړې ، ژړا خو د نارینه ؤ ضعف ده او زه باید دومره ضعیف ونه اوسم

ځان مې کابو کړ د ښکلا غږ مې واوریده راته یې کړه لطیفه !

اوس څه کوو؟

- سترګې مې ورپورته کړې خو د ډېرو ویلو شیمه مې نه درلوده یوازې ورته مې کړه مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ مننه د څه لپاره ؟

ـ اوس څه کوو دې لفظ د خوند راکړ،ځان دې راسره شریک کړ ودې نه ویل چې اوس څه کوې یانې چې زما لاره دې درک کړه او په دې لاره کې راسره په ګډه کار کوې همداسې نده ؟

ـ هو، زه نوره درسره یمه ، نور فکر وکړه چې ستا دې فکر دلارې د کاروان یو غړی زیات شو داسې غړی چې له ځان به هم له دې لارې سره ډېره مینه وکړي،له خپلې کورنۍ نه به هم ددې لارې پالنه په ډېره مینه وکړي.

ما مخکې داسې انګېرله چې تاسې یوخواخوږی انسان یاست،خوزه غلطه شوې وم تاسې یوازې خواخوږی او زړه سوانده کس نه یاست بلکې تاسې یوه فکر یاست داسې فکر چې د ټولنې د یوه لوی محروم اکثریت د ژغورلو هڅه پکې نغښتې ده داسې فکر چې دې ټولنې لویه برخه یې باید پیروي وکړي،ځکه چې دلته د دوی ژوند ژغول کېږي ، ددوی حقونه محفوظ کېږي،د دوی ژوند بسیا کېږي،زه نوره ستا د دې عظیم فکر لاروې یم

نور لکه سیوری درسره یم ،یوازې دې نه پرېږدم او یوه ژمنه درسره کوم زه یو کال وروسته له طب پوهنځي نه فارغېږم،زما د عاید زیاته برخه به د رڼا خیریه بنسټ لپاره په واک کې وي او د ددې بنسټ اکونټ ته به جمعه کېږي

له دې وروسته ته زما رهبر یې او زه ستا د فکر لاروې مریده!

ایا ما په دې مریدي قبلوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دلته پيری او مريدي نشته ،دلته ټول يو ډول يو،څوک له چا غوره ندي ،او نه څوک له چابنکته دي،دلته نه مشر شته او نه کشر دلته بس ګډ کار دي او د مسلمانې ورور ګلوي په اراده د اړو خلکو لاس نيوی ،د هغوی له دې محروميته رابنکل دي ،د هغوی د بد وضعيت نه د دوی راباسل دي ،هغوی هم زموږ په شان انسانان دي ،همداسې درد لري ،همداسې هيلې لري،همداسې د پرمختګ او هوسا ژوند ارزوګانې لري،خوله موږ يو کمی لري هغه دا چې فکر يې محدود کړل شوی دی له دې بد وضعيته د راوتو ځواک يې له لاسه ورکړی ده روحيه يې له لاسه ورکړې د دوی له دې حالته د وتو لپاره په موږ فرض ګرځي چې له دې محدوديته يې راوباسو

د دوی لاسنيوی زموږ ايماني دنده ده

په دې وخت کې مورکۍ راته مخاطب شوه, ويې ويل:

زه اوس څه وکړم ،د خيرات دغوښې پيسې مې راکرايه کړې دي ،په يوه لويه هيله راغلې يم

ما ورته کړه مورې ،تاسې نور اړه نه ياست چې وځورېږئ،دې خپلو اولادونو اړتياوې به دې ټولې بشپړې شي ، ته نوره خلاصه يې يوازې د خپل کور ادرس راکړه او زموږ د راتلوانتظار وکړه

ښار ته کوز شوم دوه منه مې غوښه واخيسته ،اړين ټول خورکي توکې مې واخيستل ،اختر رانبږدې ؤ ټولې کورنۍ ته مې جامې وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر کې مې واچول د هغې د ادرس په رڼا کې مې د هغې کور له پوښتنو وروسته پیدا کړ دکور مخکې مې دا هرڅه ورته کوز کړل

کونډه خورکۍ راووته په پرېمانه خوراکي توکو او غوښه یې چې نظر ولګېده حیرانه شوه ماته یې وویل:

زویه تاسې یوازې د خبرو خلک نه یاست د عمل خلک یاست کاش کې ته ددې هیواد پاچا وای بیا به د هر غریب غږ داسې ژر اورېدل کېده د هغه اړتیا به پوره کېده او زما غوندې د وروستی برید مجبوري ته به خبره نه رسېده

ما ورته کړه مورې !په دې مرسته کې زما د توصیف او یادولو لپاره کوم ځای نشته او نه زما احسان منده شي داستاسې حق دی چې درکړل شوو

زه ستاسې او مرسته کونکو تر منځ یوه اسان چاری یم ، هغوی ته دعا وکړه چې ستاسې د مرستې لپاره یې زموږ بنسټ مالي حمایه کړی

زما یوه هیله ومنه !

ـ د څه شی هیله زویه ؟

ـ ماشومانو ته زه په خپل لاس دیګ کوم دې هغې خوارکۍ پتري نیولې شونډې د مسکا لپاره بېرته شوې خو ژر یې راتولې کړې ځکه چې د چاودلو شونډو درد یې حس کړ راته یې کړه ته دیګ کولی شې؟ دیګ خو د مېرمنوکاروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وخندل ومې ویل !نه مورې اوس ستاسې پخوانی وخت ندی اوس دې چې دیگ نه وي زده ،څوک خور او لورهم نه درکوي

هغې کورته د دننه وتو راته وویل:

ما هم ست ونه غوښت ننه وتم د نغري خوا کې کیناستم اور مې بل کړو مورکۍ مې د کار ننداره کوله کله ،کله به چې کار رانه خراب شو د سترګو له کونجه به مې ولیده چې پټ به یې وخندل ښه ډېره غوښه مې دیک ته واچوله ژر،ژر مې ښوروا جوړه کړه درې کیلو غوښه مې پخه کړه له ځانه سره مې پخه ډوډۍ هم وړې وه ،مورکۍ دسترخوان رواخیست څو ځایه پیوند شوی ؤ

یوه ماشوم غږ کړ ماته ډېره غوښه راکړئ، غوښه مې د هغه مخکې ته کېښوده هریوه یتیم په معصومه وړه خوله شخوند پیل کړ ما ورته کتل، بلا خوند یې کاؤ له ما خوراک پاتې شو خپل مړښت مې د دوی په ننداره کې احساس کړ!ځکه چې د دوی نندارې مړولم کومه ګوله به چې د دوی له ستوني تېریده دومره خوند یې کاؤه لکه ما چې خوړله ما به پرې د مړېدو احساس کاوه او نه یوازې چې ورسره مې د مړېدو احساس کاؤ داسې خوند مې د دوی له منظرې اخیستی چې په ژوند مې هم نه ؤ محسوس کړی ،ماشومانو په تلوار ډوډۍ خوړله خدای ج خبر چې په زړه کې به یې څه تېرېدل ،له غوښې یې غټې غټې خولې کولې،په وډار شوم چې د کوم یوه په ستوني کې خښه نشي د وړو ګولو توصیه مې هم زړه نه غوښتله چې ورته ویې وکړم،ځکه چې د خوراک موشم مې یې نه غوښته خراب شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو شکر چې دوی ماړه شول هریوه به له دسترخوانه په خپله خوښه بېرته کېده،د دوه دریو کسانو غوښه ترې پاتې هم شوه کله چې دوی ماړه شول

موركۍ يې غږ پرې وكړپه دسترخوان دعا قبليږي ،خدای ج د ددې ځوان ټولې هيلې پوره كړي،دوښمنان يې پرې ړانده كاڼه كړې دې نړۍ خوښۍ ټولې ده ته وركړې ماشومانو لاسونه لپه كړي ؤ خو په دې نه پوهېدل چې موږ څه ووايو مور يې لپه شوي لاسونه په مخ راكش كړل اولادونو يې هم تمثيل وكړموركۍ ته مې وويل زه اوس ځم تاسې د رڼا بنسټ كورنۍ شوی زما كارت درسره واخلئ كله هم چې ستونزه پيدا كيږي ما خبروئ موږ به د خپل وس ونډه له تاسې نه دريغه ؤ

څو قدمه مې لا نه ؤ اخيستي چې كونډې موركي غږ راباندې وكړ،ستاسې مېرمن هم تاسې غوندې مهربانه ده .

ـ كومه ميرمن؟

ـ ولې هغه چې ماته يې د سرو بنګړی راكړ

ـ ښه هغه زما مېرمن نده ما لا واده نده كړی

ـ ته له موږشرمېږې داسې وايې كنه؟

ـ نه تروري

-زه رينښتيا وايم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه هم ستاپه څېر پاک زړه لري،ډېره زړه سوانده ده تاسره جوړېږي،ښکلې هم ده

ما ورته وخندل ورته مې کړه تر واده زما لپاره نور لومړي توبونه هم ډېر دي کالونه پکار دي چې واد ته نوبت ورسېږي .

له دوی مې خدای پاماني راواخیسته ورو ،ورو مې حرکت را وکړ ښار ته نېږدې شوم د سړک له غاړې یوه مېرمن په چادرۍ کې په تیږې سر ایښی ؤ خواکې یې یوه ماشومه وه ومې کتل چې ژاړي،بدې ورځې یې کولې،موټر مې ورته ودراؤه ماشومې ځرځې له اوښکو ډکې سترګې په ماکې ونیوې ،ورته مې کړه څه چل دی لورې؟!

- مورمې مړه شوې خبرې نه کوي،له دې خبرې سره مې هڅونه ځیګه شول ،ما چیرې مړی نه ؤ لیدلی،ژر ورښکته شوم د مورکۍ نبض مې ونیو،حرکت یې درلوده غږ مې پرې وکړ خورې؟خورې؟خو هغې غږ نه کاؤ په دې وخت کې یوه بل موټر هم زموږ ننداري ته ودرېده ،موتروان کلکې سترګې په موږ کې نیولې وې خو خدای ج نه ؤ ورښودلي چې راښکته شي او له دې اړو کسانو سره مرسته وکړي،ما پرې غږ کړ وروره راښکته شه دا مېرمن د ژوند او مرګ ترمنځ خطرناکې شیبې تېروي دماشوم یې له ډېرو چغو ستونی کناست او ته یوازې سیل کوې

هغه زما په خبره خجالت شو،نه او هو یې ونه ویل راښکته شو د ناروغ سرته ودریده ما ورته کړه نبض لري خو بې هوښه ده، هغه چیرې ښار کې درملتون درلوده ژر یې موټر ته منډې کړې د اوبو بوتل یې راواخیست د خورکۍ مخ یې لوڅ کړ زیږ زبیښلی مخ یې را

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګند شو ،زه نور هم وراخطا شوم ځان سره مې وویل دا خورکۍ خو تیار مړی ده ، که مړه نه وي هم مړه کېږي ،ځکه دومره سپېره او له وینې خالي مخ لا ما نه ؤ لیدلی یخې اوبه یې د هغې په مخ ووشتلې خورکۍ ژوره ساه واخیسته سر ته یې ټکان ورکړنیمه سترګې یې راپورته کړې په مورږ یې نظر ولګېده ،چادری ته یې لاس کړ بېرته یې په مخ راکش کړه ما ورته وویل خورکۍ ښه یې؟

په نیمه بنده ژبه یې ځواب راکړ حالت مې ډیر خراب دی په ځان نه پوهیږم ،د ماشومې په سر مې لاس راکش کړه لږ مې دلاسا کړه ،ورته مې کړه مه ژاړه دادی مور د په خبرو راغله ، ښه شوه هغه مړه نده

په ناروغ مې بیا غږ وکړ خو هغې دوهم ځل لپاره بیا دخبرو توان له لاسه ورکړ،ماشومې ته مې وویل چې تاسې د کور د کوم کس د فون شمېره لرې چې درته راخبر یې کړم ،هغې وویل مورږ له خدای ج پرته بل هیڅوک هم نلرو زه یتیمه یمه درې مې نورې خویندې دي ،ورور هم نلرو بس دایوه مورکۍ مو ده چې د سوال په پیسو مو ساتي،له دې خبرې سره ډاډه شوم چې زړه سوانده ،اوس کار ستا شو ،دا خلک ستا د بنست کورنۍ ده د دوی لاسنیوی ستا زیمه واري ده راسره کس ته مې وویل ،هله وروره راسره کمک شه ناروغ موټر ته راسره وخیجوه ،همداسې مو وکړل ،له لږ مزل وروسته مو ناروغ روغتون ته ورساؤ ،ډاکتران پرې راټول شول هغوی چې وکوت ویې ویل دې ناروغ خو ډېره زیاته وینه ضایع کړې،ژر یې وینې ګروف وکوت راته یې کړه ددې ناروغ دوینې ګروف A منفي دی دا وینه ډېره کمه پیدا کېږي زمورږ په بانګ کې یوه خلته شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به ورته تطبیق کړو،خو یوه خلته کفایت نه کوي ، نوره وینه هم ورته په کار ده ،دوی هم د ناروغ خراب وضعیت ته وارخطا وارخطا گرځېدل د وینې خلته پرې راځوړند شوه دسېروم سرې لیکې ځان د ناروغ سره پیوند کړ،لږ وینه چې تیره شوه د ناروغ سرټکان وخوړ سترگې یې پرانیستلې وروسته یې یوه او بل لورته وکتل راته یې کړه دا زه چېرې یم؟

دا کوم ځای دی ؟

ورته ومې ویل ته بې هوښه شوې وې،اوس موږ روغتون ته راوړې شکر چې بېرته په هوښ راغلې راته یې کړه زما وړه لور چېرې ده؟

هغه د ناروغ شاته ولاړه وه له لاس مې راونیوله مخې ته مې ورته ودروله ،ناروغ د روغتون چت ته وکتل خواوشا یې له نظره تېره کړه عصری طبي لوازم یې خوا کې ولیدل،وارخطا شوه ،خپلې بې وسه سترگې یې ما کې ونیوې بیا یې پیکه زیړ زبیښلې شونډې په خبرو راغلې راته یې کړه موږ سره خو یوه روپۍ هم نشته، نه کور او نه زما په جیب کې !

دلته خو به زما نه پیسې غواړې زه خو یوه سوالگره یم دسوال په پیسو خو اولاد ته په مړه گېډه وچه ډوډۍ هم نشم پیدا کولی ،ما ورته کړه خورې د پیسو کیسه کې مه کېږه هغه زه ورکوم ،فکر وکړه زه ستاسې یوه ورور یم هغې زما له دې خبرو سره په ډېره سختې د خندي لپاره زېړې زبیښلې شونډې بیرته کړې خو ډېرې ژر ټولې شوې،ځکه هغه ډېره بې شیمه شوې وه کونډې خورکۍ ددې لپاره چې ما ډاډه کړی چې مرسته مې ورسره بې ځایه نه ده او دا خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وزله ده نو  د خپلې بدبختي کيسه يې راته پيل کړه خو ډاکتر يې مخې ته ودرېد خبرې يې خوله کې پاتې شوې،هغه ترې د ناروغۍ اړنده پلټنې پيل کړې

ورته يې کړه !خورکۍ داسې مالومېږي چې ډېره کمخونه شوې يې،تاسې خو کومه خونريزی نه لری کونډې د کم خوني  له لاسه سپينو سترگو کې رنې اوښکې ډنډ شوې ويې ويل زه شديده خونريزي لرم مياشتنې ناروغۍ مې هر بار وژني،هر ځل مې دومره کمزوری کړي چې بار ،بار ترې بې هوښه شم،اوس مې هم همداحال دی ډاکتران راته وايې چې بايد عمليات شي داولاد ځای (زيلانځ) بايد لرې کړې،خو ماسره دومره وس نشته چې خپل يتيم ماشومان مې ماړه کړم ،کله مې چې ناروغۍ وارخطا کړي نو درملتون ته لاړه شم هلته د سوال په روپيو څو گولکی واخلم خو هغه مې چېرې روغوي ځکه چې زه بايد عمليات شم ډاکتر ژر لاړ او گرځنده تلويزوني معاينه يې راوړه ناروغ يې وکوت هغه وويل ناروغ اوس هم شديده خونريزي لري او ژر،ترژره بايد عمليات شي کنه د مرگ خطر يې هره لحظه ډېرېږي،ماورته کړه څومره لگښت يې په عمليات راځي ويې ويل:

پوره شپيته زره افغانۍ!

ورته مې کړه پيسې يې زه پرې کوم خو تاسې هم لږ ور سره  گذاره وکړئ ويې ويل:
زموږ د روغتون له مشر سره وگوره ما ورته کړه ته لومړۍ د ناروغ د عمليات چاره پيل کړه هغه به وروسته وگورو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر د روغتون خادمې راوغوښتې عملیات خانې ته یې د وړلو سپارښتنه  ورته وکړه هغوی هم ژر،ژر لاس په کار شوې پردې یې کش کړې جامې یې ورته بدلې کړې د هغې په سوال ټولې شوې څو روپۍ ،زړې کلیانې او یو زوړ موبایل یې ما ته ونیو چې ورته ویې ساتم ،نوره یې ناروغه عملیات خونې ته په متحرک زمبیل کې واچوله لا یې حرکت نه ؤ کړی چې یوه نرسه راغله ویې ویل ناروغ نورې وینې ته بیړنۍ اړتیا لري A منفِي وینې غم  ورته  وخوره زه لابراتوار ته په لاره شوم مال که زما وینه ورسره برابره شوه چې د ناروغي خورکۍ فون ته زنګ راغی پر شنه ښڼ مې فشار راوړ،بې واره  راته وویل شول اخر دومره هم انسان بې تفاوته کېږي ،دلته د ماشومانو ټوله حویلی په چغو په سر اخیستې ده وړي نهاره دې پرېښي دي اخر ولې ؟

 غږ مې داسې حس کړلکه چې مخکې مې هم اورېدلی وي د هغې په خبره مې بې اختیاره اه له خولې ووت ،

ورته مې کړه :نور اولادونه یې هم په بد حال دي

ـ هغه بګراوه شوه راته یې کړه تاسې څوک؟

ـ ماڅه کوې ناروغ په روغتون کې ده اوس یې عملیات دی بیړنۍ وینې ته یې اړتیا ده زه اوس څم لابراتور ته که زما وینه ورسره برابره شي خو ښه ترښه کنه د ناروغ ژوند د خطر سره مخ دی

ـ ته زړه سواند نه یې ؟

ـ یم خو تاسې څوک؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زړه سوانده زه ښکلا یمه

ـ ته دا میرمن پیژنې ؟

ـ هو زمونږ گاونډی ده ،له ډیر پخوا  نه زه ورسره کومک کوم  ډیر زیات غریبان دي !

ـ ښه نو د سپینې غر بې واورو نه وي،ته هم ما غوندې تالې لري،چیرې چې غم وي هلته ته هم وي.

ـ زړه سوانده د ناروغ ستونزه څه ده او د وینې گروف یې څه ده ؟

ــ په ستونزه یې نه پوهیږم خو ډاکتران وایې وینه ضایع کوي،او د وینې گروف یې منفي A دی

ـ خو دا گروف زما هم دی

هله نو راشه که زما گروف ور سره برابر شو بیا خلاصه یې کنه دا قرباني باید ورکړې

ـ زړه سوانده وینه معاینه نه کړې ،ستاسې نورې سرگردانی هم ډیرې دي زه په شل دقیقو کې در رسیږم بلې خور ته مې وایم چې دې کوچنیانو ته ډوډی ورکړي بس زه در روانه شوم

ټلیفون پرې شو  د ښکلا په دومره ژر راتلو ډیر باوری نه وم له بلې خوا ناروغ بیړنی وینې ته اړتیا وه وینه مې د گروف مالومولو لپاره ورکړه

تصادفا زما وینه هم ناروغ ته ورته راوخته لږ ډاډه شوم ،د عملیاتو پیسو ته مې پام شو،جیب کې مې ټولې دوه زره افغانی وې،فسبوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې راواخیست ومې لیکل دې یوې دردمنې او سوالګرې مورکۍ جراحي عملیات کوو ،شپیته زره افغانۍ لګښت پرې راځي اوس تربیړنۍ عملیات لاندې ده خو زه ورته دوه زره روفۍ لرم،مرسته وکړې او ددې بیچاره خورکۍ ژوند وژغورئ

د بانک اکونټ شمېره مې پوست کې ور اضافه کړه ، زه د وینې ځای ته ورغلم پر بستر څملاستم وینې ورکولو ته مې لستونۍ راپورته کړ نرس مې رګ پاک کړ چې ستن مې له پوستکي سره لګېده غږ پرې وشو

ډاکتر صیب هیله کوم وینه ترې وانه خلې!

مخ مې وروااړاوه ښکلا خنده رویه څهره په ببړه زموږ پرخوا راروانه وه په لاس کې یې په خلطه کې څه جوسونه هم نیولي ؤ

ښکته اوپورته یې راته وکتل ویې ویل ته ډېر ضدي نه یې؟

- ولې؟

- ما درته ونه ویل چې وینه ورنه کړې؟

-خو په راتګ د ډېر باوری نه وم

ــ تا لاتر اوسه ښکلا نده پېژندلې؟ښکلا د ژمنې ژبه پرې کوي خو ژمنه نه ماتوي

- ښه

- هو ،اوس ژر پاڅېږه ،چې زه وینه ور کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښکلا هیله کوم ،زما وینه ورسره برابره ده

ـ زړه سوانده ،ضد مه کوه که ته وینه ورکړې او صحت د خراب شي،نو تاسره لس گونه کونډې او یتیمانو سرنویشت خرابیږي .

ـ خو تاسې هم یوه عادي مېرمن نه یاست د طب پوهنځی زده کړیاله یاست یو کال وروسته ډاکتره کېږئ،بیا به د داسې بې وزولو خلکو په ښه راشئ

ـ ښکلا مسکی شوه ،بس هرڅه چې یم ،یم خو ستاسې لوېدلي نوک ته هم نشم درسېدای

ـ ښکلا دا څه وایې؟

ـ هغه څه چې تا واورېدل،له مبالغې پرته ریښتیا وایم

په دې وخت کې نرس ښکلا ته مخ وراوړاؤ ورته یې کړه خورې که ستاسې خبرې ختمې شوې وي ماپرېږدی چې ددې سړي نه وینه واخلم،ناروغ د خطر لاندې دی ژر وینې ته اړتیا لري

هغې و خندل بیا یې نرس کې سترگې ونیوې ورته یې کړه زه تا هیڅکله هم نه پرېږدم چې ددې سړي وینه واخلې ،خپله یې پورته کړه کنه ما مه مجبوره وه چې، پردی سړی له لاسه ونیسم

هغه ورته کړه که داسړی پردی وي نو تاسې خو د یوه نېږدې خپلوان چلند او خواخوږي ورسره لرئ

ښکلا ورو ځان سره وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوس لپاره خو پردی دی ،خو په خپلولو کې به يې له هېڅ راز هڅو سپما ونه کړم خبره يې ما واورېده خو نرس يې پرخبره چندان غوږ ونه ګراؤه باور مې پرې راغی چې هغه پوه نشو

زه په خپل ځای پروت وم ښکلا هم پوه شوه چې زړه سواند د وينې ورکولو هوډ کلک دی ،نو نرس ته يې وويل چې غل نه اوړي مل دې واوړي د يوه بل بستر پردې يې ځان پسې راکش کړې نرس ته يې وويل راشه وروره چې ناروغ له لاسه ورنه کړو ،نرس هم بېړه وه زما د وينې اخيستوکڅوړه يې د هغې کټ ته ويوړه ،سپين مړوند يې ورته پورته کړ د هغې له رګ سره د ستنې له وصلولو سره مې د هغې يو نرم زګېروی واورېده

لس د قيقې وروسته ښکلا په تبنتيدلي زېړ رنګ له بستره راپورته شوه په کينې لاس يې پر رګ مالوچ نيولي ؤ څو نازوکو بنګړيو يې يو بل سره پر سپينه ليچه د مينې ساز کاؤه ماته يې وويل:

ته د ټولو خيال ساتې خو زما په کېسه کې هم نه يې، کم ترکمه که خپله يې نشی راوړی

هغه زما راوړي جوسونه خو يو ماته د څکلو لپاره چمتو کړه،خدای ج شته چې دې پيغور يې زما ذهن هم نارامه کړ اوپه لومړي ځل مې د هغې په وړاندې ځان ګرم وګاڼه ورته مې کړه ته په حقه يې په دې اړوند ما بې پروايي وکړه، له ځايه پورته شوم جوس مې پلاستيکي پياله کې واچاؤ ښکلا ته مې ونيو ښکلا به کله ماته او کله هم ګيلاس ته وکتل نه پوهېږم څه ډول احساس يې درلوده خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاسف دوينې ورکړې له کبله زېږ زبيښلي مخ کې يې پر رخسارونو د گلابونو په څير سرخي ځای پيدا کاؤ

به دې وخت کې بل نرس راغی ويې ويل: عمليات خونه کې وينه غواړي چمتو دی کنه ؟

ښکلا زما نه گيلاس واخيست او نرس ته يې وويل ،چمتو ده چمتو ده ژر يې واخله تخرگ کې يې ونيسه چې سړه نه شي

ما فسبوک خلاص کړ ترڅو پوه شم چې زما دې درويزې کچکول چې له فيسبوکه مې غځولی دی چا پکې څه اچولي دي کنه

په کمنټونو لوستو مې پيل وکړ نېږدې پنځو کسانو مرسته کړې وه دټولو مرسته نېږدې پنځوس زره افغانۍ کېده ځان سره مې وويل ځه د ډاکترانو له جنجاله د ځان خلاص کړ،کنه ورځ دې خرابېده ،له عمليات وروسته به دوی پيسې غوښتې او ماسره به نه وې نو خدای د د ډاکترانو له احتياجه هم ساته ،انديښنه مې په دې اړه راکمه شوه شکر مې وويست

زما عادت ؤ کله به هم چې رڼا خيريه بنسټ سره چا مرسته وکړه زه به دومره خوښېدم چې له ډيرې خوښی به مې په سترگو کې اوښکې راتلې،ددې مرستې په ليدو مې هم له ډېرې خوشحالي سترگې لمدې شوې ،ښکلا زما له اوښکو ډکه څهره وليده ،وارخطا ،زما په لوري رارروانه شوه ترڅو زما د وير په راز ځان پوه کړي،خو ما د هغې له رارسېدو مخکې له سترگو اوښکې پاکې کړې .

راته يې کړه زړه سوانده خيرت دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو خیرت دی.

ـ نو بیا دا اوښکې د څه لپاره ؟

ـ کومه دي، اوښکې تاسې ناسم درک کړی

ـ هې چالاکه ماولیدې چې اوښکې دې پاکې کړې خو ته پوهېږې چې اوښکې په داسې اسانې له چا نه پټېږې لکه تاېې چې هڅه وکړه اوښکې د زړه هغه درد دي چې

یوازې په پاکولو له منځه نه ځي ،خپله ځان ښونه تر ډېره په څهره کې ساتي

ښه نو ولې ؟

ـ ماورته کړه که په دې اړه نورې خبرې ونه غځوو ښه به وي

ـ ښه سمه ده خو زه هم ځانته حیرانه یم چې ولې ستاسې د ژوند په اړه راسره پوښتنو کې دلچسپي پیدا شوې

زموږ مباحثه د نرسې په راتلو پرې شوه هغې وویل ستاسې ناروغ مو له عملیات خانې راوویست کولی شی ویې ګورئ ،د هغې لیدو ته له ما ښکلا ورمخکې شوه او زه هم د هغې په مخکې تلو خوښ شوم مال څه میرمنې خپلو کې سره پوهېږي زما تر ورتګه به یې د لباس او پردې چاره هم وکړي څکه زه لږ ماتل شوم

زه د هغې د ماشومې په لټه کې شوم چې دواړه یو ځای ورشو څکه ماشومې څو ځله رانه پوښتنه وکړه مور مې یې چېرې ویوړه ،هغه څه پرې کوي؟مړه کوي یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې پلټنه مې وکړه خو پیدا مې نه کړه  رانه تری تم ورکه شوه دوه منزله روغتون ؤ ټول مې ورپسې وکوت پیدامې نشوه کړای ځان سره مې وویل:

زړه سوانده ته هم عاجبه کانې کوې،یو کس  رغوې بل روغ ورک کوې،خو چې لاندې منزل ته راښکته کېدم د زینې لاندې مې په جلۍ په داسې حالت کې نظر پریوت چې په یوه کونج کې غلکې ویده وه دبیسکټو یو پاکت یې هم په لاس کې نیولی ؤ ،خدای شته منظره یې سخته دردونکې راته تمامه شوه ځان سره مې وویل ،خوشې خو یې ندي ویلي دچا چې پلار نه وي یتیم وي د هغوی برخلیک هم نامالوم وي په بې سرنویشته برخلیک اخته ماشوم مې راواخیست راویښ مې کړ غېږ کې مې واخیست او د مور د بستر خونې ته مې وروړه ښکلا هم د ناروغ د بستر په څنګ کې ناسته وه د ناروغ وضعیت مې وکوت بیخي ښه وه لورکۍ مې مخې ته ورته ودروله مور یې په لیدو په ژړا شوه غېږې ته یې وغوښته خو ښکلا یې ممانعت وکړ مورکۍ ته یې وویل ټپ ته به دې زیان ورسوي ښکلا مخ راواړاؤ راته یې کړه زړه سوانده ستاسې وخت ډېر مهم دی ته نور لاړ شه د نورو غریبانو غم وخوره دا ناروغ زه تعقیبوم زه یې بله خور هم پیژنم را وبه یې غواړم هغه به ماسر مرسته کوي ته نور له دې کاره خلاص یې

ما ورته کړه ښکلا که داسې مرسته خو راسره وکړې نو ما به وګټې!

ـ هغه مسکۍ شوه ځواب یې راکړ چې ودې ګټم بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ تاسې خبرې بل لوري ته مه بيا يې،تاسې نه ياست خبر چې زه څومره ستړی يم

ـ ښه سمه ده نه يې بيايم،زه ستاسې عسکر يم نور څه درته کولی شم؟

ـ هی تاسې ولې داسې خبرې کوی چې ستاسې لوړ شخصيت پکې راټيټيږي ،اغلې ښکلا تاسې يوه عادي مېرمن نه ياست تر ټولو د لوړ پوهنځي زده کړياله ياست

ـ پوهېږم ،تاسې زما شخصيت ته درناوی لرئ او په پيمالولو يې له زړه  خفه کېږئ،ځکه خو داسې سپارښتنې راته کوئ،خو يو شی روښانه دی هغه دا چې کله  هم يو پاچا ته دهغه سرتيری تعظيم کوي دا د هغوی شخصيت نه راټيټوي يوازې دنده ترسره کوي

ـ زه يوازې ستاسې نه بلکې د هر انسان شخصيت ته درناوی لرم او له زړه نه پرې خفه کېږم خو نه زه پاچايم او نه تاسې زما عسکر

ـ ځينې خلک کله کله د يو چا په ذهن کې همدومره عزت او جلال پيداکوي کوم چې دپاچا له عزته کم نه وي.

له دوی مې خدای پاماني واخيسته ، لاړم  د بنسټ سره شوې د پيسو مرسته مې راواخيسته بېرته روغتون ته راغلم روغتون ته د ننه وتو سره سم د روغتون مالي مسول سره مخ شوم هغه راته کړه :

تاسې د ناروغ د لګښتونو د اجرا لپاره ماسره راشی ، زه هم پرته له مقديمې ورسره لاړم پيسې مې تيارې له اکونټه راخيستې وې خو لس زره کمې وې لومړی يې ريس ته ورغلم د ناروغ د بې چارګې ټوله کيسه مې ورته وکړه بيا مې ورته وويل چې ناروغ يوه روپۍ هم نلري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته دا پیسې رښا خیریه بنسټ پرې کوي او رښا خیریه بنسټ هم دغه پیسې په سوال پیدا کړې د روغتون ریس له دوسې سپین کاغز راوکیښ مالي څانګې ته یې پرې ولیکل نیماي فیس ترې واخلی د پرزې په راکولو کې یې وویل دانورې پیسې چې درسره پاتې کېږي بنسټ ته زماله لوري درکول شوې د نورو داسې غریبانو غم پرې وخورئ

مننه مې زښته زیاته ترې وکړه مالي ځانګې ته مې دیرش زره تسلیم کړې نور د کور په لور رهي شوم

په راوتو کې مې بیا ښکلا مخې ته ودرېده ماورته کړه خیرت دي ؟!

ـ هو خیرت دي

ـ څه ویل غواړې ؟

ـ هو

ـ ستاسې د فون شمیره رانه ورکه شوې ده اوس یې بیا راکولی شی؟

ماسره دهغې په دې غوښتنه رنګارنګ فکرونه پیدا شول لږ په سوچ کې لاړم خو هغې په نری مسکا او دې خبرې چې تشویش مه کوه زه کومه بده اراده نه لرم شمیره مې ورکړه

نور د کور په لوري رهي شوم

نېږدې ماښام ؤ چې کورته ورسېدم له ډېرې ستریا او ځوره مې ستونی سره ورغلی ؤ ځان مې ناسم احساساؤ له ډوډې او لمانځه وروسته ځان راپسې ورو ،ورو درندیده خپل خوب ځای ته لاړم لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيبه وروسته مې تبه شوه ستوني مې درد پيل کړ ټوله شپه زما، تبې اولړزې کلکه ملګرتيا وه داسې ملګرتيا چې خوب ته يې نه يم پرېښی په ويښه مې ټوله شپه ورسره رڼه کړه

شپه نه وه سمه د روژې مياشت وه وته چېرته بس سهار پسې مې سترګې ووتې ، هغه ظالم راته چيرته !

څو ځلې سخت تږی شوم خو د اوبو لپاره مې د جګېدو توان نه درلوده ځان سره مې وويل مجردان بدکوي چې وای يوازې ژوند ښه وي که مې اوس مېرمن درلودی ولې به مې شپه له تندې او درد تېروله

د سهاراذان د روژه ماتې له اذانه خوړ رابانديږ ولګېده په څه خواريو راپورته شوم اودس او لمونځ مې وکړ لږ وروسته مې ځان هم ارامه احساس کړ،ارمان مې وکړ چې کاشکې مې دا کار نيمه شپه کړی وای سهار مې د رسمي دفتر په لور مخه ونه ليده مشرته مې د ځان د ناروغۍ زنګ وواهه هغه هم په نه زړه راسره موافقه وکړه ملامته هم نه ؤ ځکه چې زه هلته حقوقي مشاور وم او خورا د ډېرو قضيو حل زما په نه شتون کې معاطل کېده.

د ډاکتر په لوري مې پرېکړه وکړه واوره هم ورېده سخته يخني وه په يوه کوټ او ډبل ځادر کې مې بيا هم احساوله چې هېڅ څه مې دې نه دي اغوستي

د داکتر انتظار خونه کې کېناستم بلاخره زما نوبت هم راورسېده د داکتر کتنځي ته ننه وتم،خو چې داکتر مې په لاس د فشار پټه تړله يوه ځوانه خورکۍ په چادري کې راننوته په ډاکتر يې غږ وکړ ډاکتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب زما دا ماشوم ساه نشي کاړلی،شونډې یې تکې توری دي د بیګاراهسې یې څه ندي خوړلي،ما ډاکتر ته وویل زما نوبت دوی ته ورکړه زه به وروسته راشم له خپله ځایه جګ شوم خو هغه راته کړه بهر مه وځه دلته په هغه مخامخ څوکۍ کینه ددوی له کتو وروسته به تا وګورم

خورکۍ راغله د غېږې ماشوم یې پر مېز واچاؤ دوه نور ماشومان هم ورسره رادننه شول هغوی هم خوله په خوله نه اېښوده هر یوه داسې ټوخی کاؤ چې ساه ښکلو ته یې نه پرېښوده ،مورکۍ هم پر لپسې وټوخېده ،ډاکتر وویل لکه چې ټول شنې ټوخلې نیولي یاست خورکۍ په ژړا شوه ډاکتر ته یې په ژړغوني غږ خپله د ژوند بدبخته کیسه پیل کړه ویې ویل :

زه کونډه یم له خدای ج پرته بل څوک نلرم زه قسم کوم چې په دې سخت ژمي او واوره کې تر اوسه ما په کور کې اور ندی بل کړی په یخه کوټه کې دا ماشومان وېده کوم دومر لرګی نه لرم چې اور پرې بل کړم

دا ماشومان مې د یخ له لاسه دې حالت ته رسېدلي دي دوی یخ وهلي او سینه بغل شوي دي

ډاکتر صیب ژر شه ماشوم مې مري وړی به رانه مړ شي خدای مکړه که داسې وشي نو بیا به زه ځان ونشم بښلی

دې خبرې یې ماته هم ټکان راکړ د دوی په خبرو کې ورولویدم خورکۍته مې وویل ولې وړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورکې بدې ورځې اخیستې وه زما غږ هم پرې ښه ولګېده غوښتل یې د خپل غربت د ځرګندولو لپاره یوه بهانه پیدا کړي ماته یې مخ راواړاؤه ویې ویل

وروره داماشوم مې د څلورو میاشتو دی زه شېدې نلرم بازاري شېدې خوري کله یې چې شېدې خلاصې شي نوځنګ ګاونډ کې مې لیوردی هغه ته ورشم ورته ووایم د زوی شېدې مې خلاصې دي د هغه چې په زړه ښه وي رایې وړي او که په زړه یې ښه نه وي زما زوی یوه جمعه هم نهار وي دوه جمعې هم نهار وي

ما ورته کړه نو په دې وخت کې څه ورکوې ؟

ـ وچه ډوډی په چایو پیاله کې ورته میده کوم هغه ورکوم

ـ نو ایا د څلورو میاشتو ماشوم وچه ډوډی هضم کولی شي

ـ له مجبوري یې ورکوم د وچې ډوډی له لاسه ټوله شپه په ژړا تیره کړي،نس یې ورسره خوږیږي.

ځان سره مې وویل :

دا څه حال دی تبه مې وشکېده درد مې ورک شو ددې کورنۍ درد دځان درد رانه هېر کړ ډاکتر د ماشوم خولې ته ماسک ورواچاؤ اکسجن یې ورته چالان کړ خورکې یوې ژورې اندېښنې اخیستې وه خپله اندېښنه یې د ډاکتر سره شریکه کړه هغه ته یې وویل ډاکتر صیب زه خو یوه روپۍ هم نلرم د لارې کرایه مې هم بل چاپرې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر یې په دې خبرې سره نارامه شو ټنډه یې تروه شوه هغه د ماشوم له خولې بېرته ماسک راوکیښ کونډې خورکۍ ته یې وویل:

څه دا خو خیراتي روغتون نه دی تاسې چې یوه روپۍ هم نه لرې نوبیا شخصي ځای ته ولې ځئ دا ماشومان دې ملکي روغتون ته یوسه دلته خو ډېر لګښتونه راځي

ــ خو په لاره کې به مړ شي

ـ د مرګ زیمه یې مور هم نده اخیستې

،خورکۍ د داکتر له وینا سره له خپل ماشوم غېږ تاو کړه هغه یې راواخیست په ډاکتر کې یې سترګې ونیوې بیا یې خپلو ماشومانو ته وویل راځئ دلته مسلماني کډه کړې ده دلته زړه سوی څوک نلري، دلته یو یتیم ماشوم مري خوډاکتر یې په کیسه کې نده ،هغه یوازې دپیسو لالچ اخیستی دی یو قدم یې واخیست خو د مور زړه درد لا په د خبرو نه ؤ ارام شوې بېرته یې ډاکتر ته مخ راواړاؤه ورته یې کړه هسې خلک وایې چې ډاکتر لکه موراوپلار مهربانه وي هغه ته خان خوار او غریب یو وي خو نن راته ثابته شوه چې تاسې په سپینه جامه کې تجارتي کار اوباریان یاست د هغې له دې خبرو سره ډاکتر هم چوپ پاتې نشو ورته یې کړه ،څه لاړه شه ته مېرمن یې که نارینه داسې خبرې راته کړې وای اوس به مې خوله ورسمه کړې وه ما خو دا دومره سرمایه ستاسې لپاره دلته نه ده بنده کړې ،اتلس کاله خواري مې د تا لپاره کړې ده؟

خورکۍ ځواب ورکړ: ولې مسلماني هم نشته درکي،زړه سوی هم نه لرې ستا په دې سرمایې کې دغریب حق نشته ؟زکات او خیرات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې ،چا چې درکړې د هغه د رضا لپاره پکې څه نه لرې ، ستا زوی که په دې حالت کې وای څه به درباندې تېرېدل،اخر انسانيت د هم هېر کړی .

مېرمن په وتو شوه ما ورغږ کړ :

خورې يو قدم هم بهر کينه ږدې،ستا د زوی درملنه به کېږي ښه به کړي او همدلته به کېږي ډاکتر ته مې وويل:

درملنه يې وکړه د پيسو انديښنه مه کوه ټولې پيسې زه درکوم ،دغه دوه نورماشومان هم وگوره ډاکتر زما په خبرو رينګکی شو،ځان هم خجالت ورته ښکارېده خو د پيسو له کبله يې تشويش رفعه شو، د ناروغانو په درملنه يې پيل وکړ ماسک يې بيرته دماشوم خولې ته وروتاړه کنول يې ورته پاس کړ نيم ساعت کې ماشوم راښه شوپه ژړا يې پېل وکړنورو دوه ماشومانو ته يې هم درمل ورکړل پيسې مې ورکړې،ډاکتر راته وويل

ته هم راشه وبه دې گورم!

ـ نه زه ښه يم ،زما تبه ورکه شوه درد مې هم ورک شو خو يوه خبره درته کوم د خوارو او غريبو سره مرسته کوه ته په دوی رحم کوه الله ج به په تا رحم کوي

هغه له يوه لوی خجالتي مخ سره د زړه په زور مسکی شو د هو په دود يې سر وخوځاوه

کونډه خورکۍ نه مې بهر د کور ادرس واخيست ورته مې کړه زه نن ښه نه يم انشاالله سبا مو کورته درځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور کورته لاړم د دوی په لاس نیوي سره دومره ارامه شوم چې بیگني د دردونو خاطره هم رانه هېره شوه

ماخوستن مې کور کې فون راواخیست فسبوک ته لاړم ددې ناروغۍ خورکۍ او ددې دماشومانو درد مې پکې انځور کړد دوی لپاره مې د کمک غوښتنه وکړه بیا مې په فسبوک کې پوست کړ

سهار مې چې فسبوک خلاص کړ شپیته زره افغانۍ په اکونټ کې راته جمعه شوې وې د معمول برابر مې دمرستو جمعه کېدو سره سترگې لمدې شوې خو مجبوروم چې رسمي دفتر ته تللی وایې دفتر ته لاړم ، وم په دفتر کې، خو فکرمې ددې پیښې د یتیمانو سره ؤ په ځانگړي ډول هغه څلورمیاشتنی وړی ماشوم به مې د سترگو له مخې نه لرې کېده د بلې خوا دې ته هم ځورېدم چې دغه کورنۍ خو ما د خپل راتگ لپاره په تمه کړله او زه دلته بند شوم د رسمیاتو له ختمېدو سره سم بازار ته کوز شوم لومړی د لرگیو هټې ته لاړم یوموټر مې لرگي واخیستل ،بیا یوه دوکان ته ښکته شوم شپږ کیلو مې تر ټولو بهترینې شېدې واخیستې په لویه ډینا کې د موټروان سره کیناستم هغوی چې به یې پېژندلم زما په لیدو به حیران شول،چې دا حقوقپوه د لرگیو په لارۍ کې څه کوي د کور په طرف هم ندی روان چې کورته د سون توکي یې اخیستی وي تر لرې به یې راپسې کتل اخر ما هم نور وربز وواهه چې زما پېژندگلوي له دې حیراني وژغورم له څه مزل وروسته د کونډې خورکۍ کورته ورسېدم

موټر مو ورته خالي کړ شېدې مې هم د خورکۍ په واک کې ورکړې هغې ته مې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ژر،ژر داشېدې ماشوم ته جوړې کړه زه غواړم ماشوم موړ ووینم او بیا ډاډه له دې ځایه لاړ شم

خورکۍ همداسې وکړل ماشوم یې زما په مخ کې موړکړ،هغه په غور اوپش د ماشومتوب غورځي پیل کړل

بیا مې له خورکۍ د تلو اجازه وغوښتله هغې له غمجن زړه سوځنده دعاوې وکړې ماته یې مخ راواړاؤ ویې ویل:

وروره! تاسې د انسان په جامه کې پرېښته یاست چې پرته له کومې تمې اوشناخته مو زما درد خپل درد وباله ،او زما مو دومره مرسته وکړه چې سکه ورور باندې مې هم دومره ښه نده شوې لکه تاسې چې راباندې ورحمېدی ،زه مو ډېره احسانمنده یم

خو یوه خبره وکړم

ــ هو مهرباني ویې کړه

ـ زه مو دا یو موټر لرګیو ته هم دومره نه یم خوشحاله لکه دا د ماشوم شیدو ته چې خوښه یم ځکه چې زه یخنی زغملی شم د یخ مقابله کولی شم خو زما داکوچنی ماشوم د لوږې زغم نه لري ،او نه زه د هغه د لوږې د ژړا تاب لرم ،ډېره سخته راباندې تمامېږي

ـ د مورکۍ له خبرو پوه شوم او احساس مې کړه چې مور څومره مهربانه اوزړه سوانده وي ځان هرې سختی ته ورکوي خو خپل اولاد سختی ته نه ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی په ژوند هم افسوس راغی چې لوی شي د مېندو قرباني هېرې کړي او بیا ورته د انسان په سترګه هم نه ګوري

تر یوې اونۍ دفتر ته لاړم ځکه چې زما مشر د غیرحاضري سره سخت حساس ؤ او مایې هم دغه ځانګړتیا درک کړې وه څوک به چې غیرحاضر شو ډېرې ستوغې ویناوې به یې ورته کولې زه هم ځکه دده دې حاضري پابند وم تر څو د هغه قهرجنو خبرو ته موقع ورنه کړم نو ځکه د حاضري ځانګړی خیال مې ساته، ټوله اونۍ ورغلم،تر جمعې مې ښه په درز کې کار وکړ بیا جمعه هم راورسېده په دې ورځ د بنسټ دفتر ته لاړم

لا ناست نه وم چې ټلیفون مې وشرنګېده ومې کوت ښکلا وه راته یې کړه

د جمعې سهار په خیر

ـ مننه ښکلا ،ناروغ خنګه دی؟

ـ هغه مې روغ سلامت کورته ورساؤ ډاکتر درمل ورکړي دوه ورځې وروسته یې یوځل بیا د ټکونو د لرې کولو لپاره بللې ده

ـ بس تر پایه د هسې هم زیمه واري اخیستې ده چې وخت یې پوره شي نو وریې وله

ـ سمه ده هرومرو داکار کوم

ـ چېرې یاست ؟

ـ د بنسټ دفتر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه غواړم درشم

ـ خیر خو ؤ؟

ـ هو خیردی ،غواړم یوه دوه پوښتنې راته ځواب کړې

ـ د څه په اړه دي؟

ـ چې درشم درته وایم یې

ـ خو په ټلیفون یې راته ووایه

ـ نه ،نه کیږي،ټلیفون محفوظ نه دی

ـ خو زما او ستا تر منځ داسې څه خبرې دي چې هغه په ټلیفون نه کیږي،زه خو تاسره داسې خبرې نه لرم

ـ ته یې نه لرې ،په ریښتیا یې هم نه لرې،خو زه یې درته لرم

ـ ښه راشه

سمه د هغې اړیکه پرې شوه او سمه د دفتر دروازه وټکیده،ځان سره مې وویل :

څه اوس د خلکو دتمې ځای پیدا شوه دلته ټول بې وزله اوس مراجعه کوي،یوه زړه مورکۍ په زاړه ټیپ کې راننه وته دوه درې ماشومان هم ور سره راننه وتل ماشومان خورا ښکلي ؤ خو زړو او ناپاکو جامو یې ښکلا په خپل پیکه والي کې پټه کړې وه زړې مېرمن ملا ترلې وه، ښکاریده چې اوږد مزل یې راکړی د ټیکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه پیڅه یې هم غوټه کړې وه فکر کوم د ځان د اړتیا وړ توکي یې پکې ځای پرځای کړي ؤ

کېناسته راته یې کړه زویه غلطه شوې خو نه یم دا د زړه سواند دفتر دی

ـ هو مورکۍ ،همدا د زړه سواند دفتر دی

هغه ډېره سترې ښکارېده مخ یې د خورا غمونو او کړاونو هنداره برېښیده ،شونډې یې وتلې وې د سینې شغا یې هم له لرې اورېدل کېده غوښتل یې د خپل زړه غوټې خلاصې کړې او دلته ډېره ونه اوسي ،ځکه غریبه طبقه تل فکر کوي چې نورو ته مزاحمت دي هڅه یې کوله خپله خبره ژر پیل کړي خو مایې خبرې پرې کړې ورته مې کړه خبرې به وروسته کوو تاسې او ماشومانو چای ندی څکلی،اول چای څکو بیا خبرې کوو،هغې هم په خپل چوپ والي رضایت وښود،زه بهر ووتم دوی ته مې وچه ډوډی او چای راوړه دفتر ته له ننوتو سره سم مې په ښکلا هم سترګې ولګېدې د زړې مورکۍ خوا کې ناسته وه د هغې د ژوند کیسه یې اورېده ،خو زما په ننوتو سره د مورکي غږ خاموش شو ښکلا زما په لیدو سره راپورته شوه ترموز او ډوډې یې رانه واخیسته ټوکرنده یې وویل :

ته څه پوهېدې چې ما د سهار چای ندی څکلی؟

ــ تاسې ډاکتران چېرې داسې ساده چای څکی ستاسې په سهارنۍ کې خو به پنیر ،قیماق،هګې او د نړۍ نور نعمتونه وي اغلې ښکلا؟ دا مې زړې مورکۍ ته راوړی ، مورکۍ وچې شونډې او سترې راته مالومه شوه هسې غریبانه چای مې ورته تیار کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ښکلا پيالې راواخيستې د موركۍ اوماشومانو مخې ته يې كېښودې د پيالو ډكولو پر وخت يې ماته مخ راواړاؤ ويې ويل:

زړه سوانده !

ـ مال ها

ـ كوم چاى چې ستاسې لخوا چمتوشوى وي تر هغو هم بهتره دى چې دنړۍ نعمتونه پكې وي

هغې ماته دومره ژور كتل چې دا ترې هير ؤ چې پياله كې چاى اچوي ،غږ مې پرې وكړ د ميلمنې پياله ډكه شوې او چاى ترې په ميز تويږي،هغې ژر مخ د پيالې اړخ ته واړاؤ ويې لېدل چې مېز پر سر هم د چايو ليكې روانې دي،غټې بڼورې سترګې يې راواړولې له سپينو مهينوغاښونو ډكه خوله يې چې ګرچاپيره يې د شونډو سرخي محاصره كړې وه ښكاره شوه له شرمه يې په خوله د خداى ج د خلقت نمونوي جوړې شوې نرى ګوتې كېښودې راته يې كړه

داټول ستا دلاسه !

ـ زما دلاسه؟زمادلاسه ولې؟

ـ ستاسې ننداره هم د سړي نه اصلي كار هېروي !

ـ تاسې عصاب له لاسه وركړي دي

ـ ته په ما ملنډې وهې؟

ـ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مورکۍ ته مې نظر شو ،هغې  په چايو ډکلو پيل وکړغټ،غټ غوړپونه يې کول له پيالې يې ګونځې په نري پوستکي پوښلې ګوتې راچارپيره کړې وې دهغې په خوند، خوند چای ډکلو ماته هم خوند راکړ،خو چې پيالې ډکولو ته چمتو کېدم ښکلا مې مخې ته د چايو پياله کېښوده ،هغې ته مې وويل تاسې د پښتو د ټولو اصولو خلاف کار کوئ زما په دفتر کې ماته چای اچوئ يانې چې ما خجالتوئ**

**ــ نه ښاغليه هيله کوم ،ماميلمه مه بولئ له تاسې هېر دي چې زه هم ددې دفتر غړې يم ،د غريبانو خادمه يمه او هغه څوک چې د غريبانو خدمت کوې د هغوی هم خادمه يمه مورجانې او ماشومانو ژر، ژر له وچې ډوډۍ ګوله جوړوله او خوړله  يې ،ما يې له کتو خوند اخيسته مورجانې د وروستي پيالې وروستی غوړپ هم له ستوني تېر کړ بيا يې ماته مخ راواړاؤ،ويې ويل:**

**ـ زويه ستا په اړه مې ستا د زړه سوي او په غريبو خلکو باندې د ترحم ډېرڅه اورېدلي دي ،خو ته له هغه هم دېر د صفت وړ يې چې خلکو راته کړي دي زه هم په يوه تمه درته راغلم**

**ـ مهرباني مورکۍ ووايې**

**ـ زويه دا مې يتيمان راوستي زما لمسيان دي د دوی مور درې کاله وړاندې مړه شوه**

**ـ اخخخ څه ستونزه يې وه ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ په اولاد ناروغه وه ،بس دا لاړه او دا واړه چورګوړي يې ماته پرېښوده زه يې پرې وشپيلولم،زما په دې تېر عمر کې د دوی لويول هم سمه د اوسپنې کلا ده ، پروسکال مې بل زوی ته څه په خواريو واده وکړ ،څه پيسې مو قرض کړې ،خو د ولور پيسې يې نه پوره کولې ،نورې چا نه راکولې بيا مو دشپېدو غوا ورته خرڅه کړه بس په ډېرو احتياجيو مو ناوې کور ته راوړه**

**ببړه مو ځکه پرې وکړه چې په دې سپين سر د کور ټول کارونه کول راته ستونزمن و د دغه يتيمانو پالل هم راته اسانه نه ؤ ځکه په وجود کې مې هغه پخوانۍ شيمه نده پاتې د ناوې نګور په راتلو ډېره هوسا شوم ،کال يې لا نه ؤ پوره چې اولاد يې په نس شو**

**يوه اونۍ مخکې مې دغه ناوې نګور په اولاد ناروغه شوه ډېر دردونه يې تېر کړل ډېرې چيغې يې ووهلې اوس يې هم کوکې زما په غوږو کې انګازې کوي هغې ډېرې زارۍ وکړې چې ما روغتون ته ويسی زه ښه نه يم خو ما ددې لپاره د هغې په چغو غوږونه کاڼه کړي ؤ چې دومره روپۍ کورکې نه وې چې هغه مو روغتون ته پرې راوړې وای،ګاونډي کره ورغلم چې زما نګور ښه نه ده يا موټرراسره بوځه او يا هم څه قرض راکړه چې بل موټر ونيسم هغه په ځواب کې راته وويل موټر مو خراب دی او نوی قرض به هغه وخت درکړم چې هغه د کالونو پخوانۍ قرض يوځل ادا کړئ ،له هغه ناهيلې کورته راغلم خو د نګور کوټې ته مې دننه زړه نه شو کولی د هغې د بدو ورځو کولو او چغو غږ مې نشو اورېدی ،بس په دې تمه ،تمه چې اوس به حالت ښه کېږي اوس به ناروغ ښه کېږي ،هر څه زموږ د تمې خلاف وشول، هغه ارامه شوه ،چغې يې بس کړې ،ژوره، ژوره ساه ښکل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ودرول ،ور دننه شوم غږ مې پرې وکړ لورې ښه شوې هرڅه په خير تېر شول ستا ماشوم ،ولې ونه ژړل؟ماشوم دې روغ دی؟

خو هغې غږ نه کاؤ، ورنږدې شوم، ناوې نګور مې بسترې ته ډډه وهلې وه سر يې قبلې لوري ته اوښتی ؤ اوږده وېښتان يې پرمخ راپراته ؤ د هغې د لماستي په توشک مې د پښې پنجه کېښوده پښه مې لمده حس کړه راپورته مې کړه ټولې وينې وې،غږ مې پرې وکړ امينې لورې ؟

امينې ولې غږ نه کوې؟

مه وارخطا کېږه ،اوس ګوره چې ښه شې ؟خو هغې غږ نه کاؤ بيا مې ورته کړه امينې زما زړه مه دروه غږ وکړه

خو د تېرې غږ کېده د امينې غږ نه کېده ،په ټنډه مې يې لاس کېښود، خولې وه ومې ښوروله اورمېږ يې لکه خرخوړی نه تکيه کېده هر طرف ته اوښته ،پوه شوم چې دغه د تمې او هيلې غږ مې هم د تل لپاره خپک شو،دغه هيله مې هم ورژېده ،هم مې مور او هم مې په ګيډه ماشوم له لاسه ورکړ

ورته مې کړه ولې مېږه يې چيرې ؤ ؟

ـ هغه په ژړا شوه ويې ويل زويه هغه يوه مارکيټ کې د شپې پيره دار دی پنځه زره افغانۍ ورکوي،هغه د شپې نه وي ،کور ټول ماته پاتې وي.

ښکلا ته مې پام شو دهغې هم شل ځايه په مخ اوښکې راروانې وې هغه هم په ژړغوني غږ په خبرو راغله ماته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سوانده ستا دفتر هم د غمونو داسې کان دی چې ختمیدل نه لري ،ته د خورا لوی زړه خاوند يې ،څنګه دې ستونزو اوریدو ته ټینګ يې ،زما خو زړه چوي ددې بې چاره ولس هره بدمرغۍ مې ملاماتې کوي،زره،زره مې کوی ،تر کومه به زموږ دغه غربت روان وي ترکومه به د نړۍ خورا بدبخته وګړي شمارل کیږو ایا په دې هیواد کې کوم مسول لرو چې زموږ د غربت ستونزې درک کړي او د حل په باره کې يې فکر وکړي ،څو لحظې ځان په عذاب کړې؟

د ښکلا خبرو ته مې ځواب نه لاره ځکه چې ،زما هم د هیواد له مسولینو تمه پرې وه کوم هیواد چې پرمسولیته رهبري ولري ،او هغه د زړه له تله هیواد ته کار وکړي ،اقتصادی برنامې پلې کړي نو هیڅ وګړی به له فقره  ونه کړیږي د ژوند ټولې اسانتیاوې به ورته چمتو وي

مورکۍ ته مې مخ ورواړاؤه  ورته مې کړه :

ستا د ناوې نګور مرګ ډیر نارامه کړمه ،بیچاره ګۍ ځواني مرګې به ډېرې هیلې درلودې ،د دومره ناچېزه وسېلې له کبله هغې ژوند له لاسه ورکړ ،ستا د ناوې نګور د مرګ قاتل یوازې ستاسې بې چارګي او بې وسي  نده او نه یوازې هغه ګاونډی ګرم دی چې بې پروایې يې کړې بلکې موږ ټول ستاسې د نګور په وژنه کې شریک یو،له موږه به ستر پوښتونکی رب ددې بې مسولیتي پوښتنه کوي خو موږ به ورته په ځواب کې هیڅ هم په ژبه نه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د روغتيا برخې مسولين خو پرېږده چې ددې مسوليت په لومړی ليکه کې راځي او ځواب به وايې موږ به هم ځواب ويونکي يو.

هغې ته مې وويل: مورکۍ ته لاړه شه کورته او خپل زوی ته د کوژده وکړه

ـ موږ په څه شي کوژده وکړو موږ خو لا پخواني پورونه هم ندي پرې کړي ،د نګور دسيکات او خيرات پيسې هم راباندې ولاړې دي .

ـ ته په دې اړه فکر مه کوه دغه کارونه به لوی خدای ج اسانه کړي جيب ته مې لاس کړ د بنسټ لس زره افغانۍ راپاتې وې مورکۍ ته مې ونيوې ورته مې کړه په دې خپله چاره وکړه زه درته درويزه او بسپنه کوم خو ستا د نګور ولور به پوره کوم ته انديښنه مه کوه مورکې له سره تيکری لرې کړ خپل ګريوان يې ونيو د اسمان لوري ته يې وکتل خوله يې وشکوله لوی رب ته يې لاسونه لپه کړل ويې ويل:

ځوانه خدای ج دې دنړۍ ټولې خوشحالي در په برخه کړي ،څه چې ته غواړې هغه د خدای ج درکړي،غمونه د خدای ج لرې در نه لرې ،تاسې د خدای ج لکه ځنګه چې ياست همداسې دهمځولو سر شې ،ښکلا هم لاسونه لپه کړي ؤ او دمورکۍ په دعاؤ يې د امين په ويلو شونډې ښورولې ،مورکۍ په دعاؤ ځان ښه سترې کړ کله چې چپ شوه ښکلا يې مخې ته ودريده ورته يې کړه مورې تاسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رېښتیا غمجنه یاست زړه مو غمونو سوی دی ، د سوي زړه دعا حتما قبلېږي،ماته هم دعا وکړه**

**هغې پرته له ځنډه بیا دعاوي پېل کړې لورې ستا ټولې هیلې د خدای ج پوره کړي، د زړه ټول حاجتونه دې پوره شه، ښکلا ماته وکتل او بیا یې  وخندل،ځان سره یې غلي وویل ،ټول د نه پوره کېږي خو چې یوه د زړه غوښتنه مې رب ومني هماغه مې بسنه کوي.**

**مورکۍ په لاس کې نیولې روپۍ د ټیکري په پیڅه پورې وتړلې دوه درې غوټې یې ورکړې ځان یې ډاډه کړ بیا یې د تلو غوښتنه وکړه مور، هم ورته په دې ژمنه رخصت ورکړ چې ډېر ژر به ستاسې کورته هم درشو .**

**ښکلا د خپلوهغو خبرو لپاره خوله راټوله کړه چې ماته یې په ټلیفون کې ویلي ؤ ،خو زه یې هم ولیدم چې څه ورته وایم خپله خبر یې پرېښوده ماته یې ویل مهرباني ته لومړی خپلې خبرې خلاصې کړه ما ورته کړه**

**نن مې ډېر زړه ډک دی ،زړه مې غواړي ډیر لرې او گوښه ځای ته لاړ شم ښه ډېر وژاړم او ښې ډېرې چغې وکړم ښه زړه تش کړم او بیا راشم**

**ـ نو ایا ژړا مور، له دې ستونزو خلاصولی شي؟ایا ژړا د حل لاره ده ،ایا ژړا ستا د هغو موخو د لاسته راوړلو وسیله ده چې ته ورته رسېدل غواړې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه !

ـ نو بیا ولې داسې کوې ،ولې فضول ځان سترې کوې ؟

ـ ښکلا اخر زه هم انسان یم ،د مورکۍ دا خبرې چې دې کولې یوازې په ویلو کې اسانه وې خو په هغه چا چې تېرې شوې وي اسانه نه دي تاسې فکر وکړې ستاسې د کور غړی د له وژونکې ناروغۍ فریاد کوي او ته یې په غوږو اورې ستونزه یې په غړېدلیو سترگو گورې چې گواښونکې ده ، خو د بې وسي له لاسه ورسره څه نه شې کولی څه فکر کوې تاته به څومره سخته وي څومره به ددې تش په نوم انسانیت نه زړه تور شي ،څومره به دې له دې تش په نوم مسلمانانو کرکه وشي،مورړ په داسې یوه هېواد کې ژوند کو چې یو مري او بل یې په مرگ کې خپلې گټې لټوي،یو کړېږي بل پرې خوشحاله کیږي انسانیت پالنه او مسلمانه ورورگلوي خو داسې نه وایې هغه خو ټول د اسلام پیرو یو بل لکه یو وجود داسې گڼي

ښکلا !ته پوهیږې ؟

لومړی ځان بیا ددې هېواد هر مشر او کشر ددې خورکۍ د مرگ په بې پروایې کې گناهگار بولم ،زه یې قاتل یم له ما وروسته یې بیا هر بل هېواد وال قاتل دی،سترگې مې بې واکه راډکې شوې ،ورته مې کړه ددې ځواني مرگې خورکۍ به د ځنگدن پروخت کې څومره گیله شوې وي چې زما د هیواد زلمي ورونه څومره بې زړه سویه دي نه یې زما په ځواني رحم راغی او نه یې زما په گیډه معصوم ماشوم باندې زړه سوی وشو ددوی دې بې پروایې له امله دادی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پرمختللې نړۍ کې د څومره کوچنی ستونزې له امله زه او ماشوم مې مرو، او ځان حق ته سپارو.

ښکلا تر دې د مخه د ځان د ژړا مخنیوی کاؤ خو زما په لیدو دهغې هم بهانه جوړه شوه خپل پړونۍ یې ښه ورو سترګو ته ونیو،سلګیو واخیسته ښه شیبه د دفتر چاپیریال سلګونیولی ؤ وروسته یوې اوږې خاموشي فضا ارامه کړه خو دغه خاموشي هغه مهال ماته شوه چې ښکلا راته په الهام ښونکو خبروپیل وکړ راته یې کړه زړه سوانده !

ته دې پوره کار وړتیا لرې ته ډېرهغه څه کولی شې چې نور یې نشي کولی ستا ځانګړتیا له نورو په دې کې هم دی چې پرته له یوه ښه استعداده چې لرې یې دې خدمت لپاره یو پاک زړه او اراده هم لرې له همدې امله خو په تا باور لرم او یوه مشوره درکوم

دې ځواني مرګې خورکۍ ته به ورته نورې څومره ناوې ګانې د زیږون پر مهال مړې شوې وي د چا له حاله چې موږ نه یو خبر دې چا چې د مرګ ستر لامل د هغه بې وزلي او غربت دی

ددې غریبې ځواني مرګې حال خو زړې مېرمنې راوړ لاکن داسې کورنۍ به هم وي چې د خپل درد د ویلو ژبه به هم نه لري،څوک به ورسره د بې چارګي له امله شناخت هم نه کوي ،داسې خلک به وي چې انسانان به وي خو د انسانیت له ټولو حقونو به بې برخې وي

راځه زه درته یو وړاندیز لرم او هغه دا چې د داسې کورنیو لپاره یوه امبولانس واخله ته ورته امکامات پیدا کولی شې زه دربانديې پوره باورلرم کله هم چې داسې غریبو ته د ولادت ستونزه پیدا کیږي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امبولانس به يې اړونده ځای ته رسوي،په دې کار سره به د سلګونو داسې بې وزلوکورنيود مېندو د مړيني کچه کمه شي

ــ ستا نظر مې خوښ شوډېرزيات مې خوښ شو،د مورکۍ د کيسې له اورېدو وروسته مې ذهن په همدې کشمکش کې ؤ تر څو دې ستونزې ته کومه د حل لاره بايد پيدا کړو خو نه پوهېدم چې کومه لاره غوره ده

ستاسې نظر بيخي سم دی ډېر اغيزمن هم دی ،تاسې په ريښتيا د قدر وړ ياست او د ښه فکر خاونده ياست ،د هغې څهرې ته مې کتل زماپه خبرو سره غوړېده هغه د اوښکو تويدنې او خپګان نښانې چې لږ مخکې پکې وې ورک کيدې ، شونډې به يې کله،کله د مسکا لپاره په نڅا شوې ، احساسوله مې چې هغه زما د توصف د تورو په اورېدو خوښېږي،روحا يې د خوښي لامل کېږي، سکون ور سره پيدا کېږي او په دې خوښېږی چې زه يې صفت وکړم،زما د خبرو خلاصېدو سره

هغې د مننې به دود سر وخوځاوه خو راته مخاطب شوه ويې ويل ،په دومره کوچني نظر مې دومره ستاينه چې زه يې وړ هم نه يم ستاسې د لوی شخصيت څرګندويه ده خو نه پوهېږم پخوا به مې له خپلې ستاينې ډېر بد راتلل خو برعکس نن راته ستا هره خبره ښه ايسيده زه که هرڅومره ښه شم خو ستاسې سلمې حصې ته هم نشم رسېدای ،هغه نوښت او فکر چې په دې ټولنه کې تاسې پلی کړی دی زموږ لپاره ناشونی دی ،موږ يې نشو کولی، په دې بدګمانه ټولنه کې د خلکو باور هرڅوک نشي لاسته راوړلی،دلته په چا دومره باور چې خپلې پيسې په واک کې ورکړي او د هغه پر شخصيت ډاډه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر اړو او مستحقو خلکو يې رسوي،ناشونې ده ، خو تاسې دغه اتلولي خپله کړې د خلکو باور مو لاسته راوړی خلک دربانديې حساب کوي کله هم چې تاسې سره څوک مرسته کوي دوی ډاډه کېږي چې دلته حق حقدار ته رسول کېږي

ما ورته کړه که زما له بې ځايه توصفه تېره شې ښه به وي ،دغه بې ځايه ستاينې پرېږده د وخت پر ضايع کولو نه ارځي،اوس هغه څه راته ووايه چې په اړه يې دلته راغلې يې داسې څه دي چې ته يې ماته په ټليفون کې نشې ويلی او مخامخ يې راته وای

د هغې خوله وچه شوه په خواکې له جيک نه يې ګلاس ډک کړ او په سر يې واړاوه په اوږدې سپينې مرئ کې يې د غوړپونو موجونه ليدل کېدل څونيمې جملې يې وويلې خو پرې پوه نشوم ،ماورته کړه ښکلا سمه واضح وغږېږه چې زه پوه شم

راته يې کړه زړه سوانده نن ستا فکر ډېر خراب دی سپين سرې مېرمنې داسې ناخوالې وويلې چې زما په فکر تاسې زما خبرو اوريدو ته چمتو نه ياست او نه زه خپلې خبرې مناسيبې بولم بله ورځ راځم داسې ورځ چې ستاسې کوم اړ کس سره مرسته کړې وي زړه مو ډاډه وي راحته واست بيا يې درته کوم

ــ سمه ده څرنګه چې تاسې پوهېږئ خو ايا کومه د انديښنې وړه خبره خوبه نه وي کنه

ـ زما لپاره دې انديښنې وړده خو نه پوهېږم چې ستاسې لپاره به څرنګه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نوولې په ځان اندېښنه تېروئ ويې وايئ

- زه اوس داندېښنو سره بلده شوې یم ،پروا نه لري

- خو هيله لرم کومې بې مانا خبرې راته ونه کړې

- هغې وخندل مه ډارېږه بې مانا خبرې د بې مانا خلکو له خولې وځي او زه دهغو خلکو له جملې نه یم

ښکلا بکس راواخیست اوړې ته یې واچاؤ کله به یې ماته او کله به یې مخې لارې ته وکتل په وره د وتو سره یې راته وويل تر بیا لیدو دې ستر ساتونکې رب ته سپارم،ډيره وېرېږم چې ستاسې ددې بې چاره ولس د هیلوغوتۍ یاست خدای مه کړه ونه رژېږئ.

- بس یوه نه یوه ورځ خو به مو که خوښه وي او یا نه دا کار به کېږي

– زما او زما په څېرد ډیرو داسې خلکو ژوند دې ستا شي چې ددې بې چاره ولس ښه نه پرې کېږي

- هيله کوم،داسې مه وایاست

ښکلا ووته او زه هم په دفتر کې ستړی شوی وم بهر راووتم ،د امبولانس پیدا کولو لپاره د پلان په جوړولو مې فکر مصروف شو د ښار په یوه کوڅه کې روان شوم غوښتل مې هم تفریح وکړم او هم په دې فکر وکړم چې امبولانس څرنګه پیدا کړو ځکه چې کم ترکمه شپږ لکه افغانۍ په کاروې چې موږ دې امبولانس خاوندان کړي له لږ مزل وروسته مې یوه هلک ته پام شو ځنګ ته یې د پالش بکس اچولی وو مخې ته یې یوه خلته پرته وه په هغه کې یې وچه ډوډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولې دخلتې نه يې يوه ټوټه د ډوډي راخيستې او په لاس کې يې نيولې ده زه ورنږدې شوم شاته يې ودرېدم ماشوم زه نه ليدم خو هغه ماليده ومې کتل چې په لاس کې ډوډی يې چڼاسې کړې دي اوماشوم هغه چڼاسې ترې پاکوي ما غږ پرې وکړ ځوانه دا ډوډی مال ته وړې ؟

ـ نه !

ـ نو څه پرې کوې؟

ـ هغه خپلې تنگې سترگې پټې کړې چاودې غومبري يې باريز شول پتري نيولو شوندې يې د خندا لپاره بېرته شوې راته يې کړه په موږ اوس داسې وخت راغلی چې ستاسې په فکر د حيواناتو، او چڼاسې کړل شوې ډوډۍ بايد خپلو ورونو او خويندو ته ويسم هغه يې خوري زما په پالش د هغوی وړي نسونه نشم مړولی دا چڼاسې ځکه ترې پاکوم چې ورونو او خويندو مې ترې کرکه رانه شي

ـ ځان سره مې وويل ای خدايه ،دا څه حال دی دا څه بده ورځ راباندې راغلې ،اخر ولې له زموږسره دومره بې انصافي کيږي؟

زموږ دا حال دی او زموږ مشران په خپلو عياشيو او کبابونو خوړولو کې مصروف دي

د هغوی د خوراک پاتې شونو خځل دانونه خوسا کړل د وخت ،وخت خوراکونو ډک دسترخوانونو نه يې دومره پاتې شوني له کوره بهر خځل دانونو ته غوځوی چې د لسو بې وزله کورونو د وړو گېډې پرې مړېږي خو زما يتيم او زما کونډه چناسې ډوډۍ خوري ايا دغو خلکو په قيامت باور شته ايا دغو خلکو په حساب کتاب باور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شته ایا دوی د ضمیر په نوم کوم څه پېژني ایا دوی له ځان پرته د بل د چا لپاره هم فکر کولو ته وخت لري کنه؟**

**اخر ولې؟**

**ولې انسانیت کډه کړې؟ ولې خواخوږي نشته ،ولې مسولیت پذیري نشته ولې دومره توپیر موجود دی ؟**

**ددې ټولو پوښتنو لپاره مې ځواب پیدا نه کړ او نه زما انګیرنې ناسمې وې**

**ماشوم مې راپورته کړ،د هغه خلته مې ترې کش کړه لرې مې وغورځوله ،خپله غوصه مې پر هغې سړه کړه ، نور وس مې نه درلوده چې د چارواکو،او مالدارو مخ کې درېدلی وای او دغه له چڼاسو ډکه ډوډی مې ورته مخې ته نیولی وی چې یا دغه ډوډي په خپلو اولادونو هم وخوړئ یا هغه ماشومان چې دغه چڼاسې ډوډی یې خوراک ده له دې بدبختي وژغورئ ،ځکه چې ته خدای ج لرې ورځ د قیامت لرې د خپل مال او ځوا ک پوښتنه به درنه کیږي،ته یوازې د خپل اولاد مسول نه یې د هغو بې چاره ؤ هم مسول یې چې دا چڼاسې ډوډي خوري،هغه د هم اولاد دی ،هغه هم ستا د اولاد په شان زړه لري هیلې لري غوښتنې لري او همداسې ترکیږي ،زړه یې خوراک او ښې غذا او ښه لباس ته کیږي**

**ماشوم مې له لاسه ونیو،یو لوې مغازې ته مې بوته ،وړه وریجې ،لوبیا ،دال ،غوښه بوره ،غوړی ،او نورټول اړین توکي مې ورته واخیستل او په یوه زرنج کې مې ورته واچول ورته مې کړه له نن وروسته اړ نه یې چې چڼاسې ډوډی وخورې ،زما د دفتر ادرس مې ورکړ او ورته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې کړه کله هم چې ستاسې خوراکي توکي خلاصيږي ماته راځه زه يې درته اخلم

ماشوم لکه د بډه بيرې د بس کلينډر له ډيرې خوشحالي په تيزي سره زرنج ته وخوت او به حرکت کې يې له خندا ډکې څهرې سره په داسې حال کې چې په يوه لاس يې د زرنج اوسپنه نيولې وه په بل لاس يې د خدای پاماني لاس وښوراؤ،زه هم ډېر خوښ شوم ځکه چې د نور اړتيا پوره کول د يو چا په شونډو مسکا راوستل ځانګړی خوند لري او له دغه خونده رب زه په دغه مهال برخمن کړم

له دې وروسته له پوره سکون سره کورته لاړم ،ماخوستن مې راته مور وويل زويه تاسې خو د خلکو لپاره يو ډېر ښه  کار پيل کړی دی او موږ هم در باندې وياړو خو يوه اندېښنه راسره پيدا شوې او هغه دا چې هسې نه چې د نورو په غم کې خپل ځان درنه هېرشي

ـ مورې څه مطلب؟

ـ مطلب دادی پوهنتون د خلاص کړ ښه دنده لرې په خپلو پښو ولاړ يې چاته اړ نه يې او شکر دی بې شمېره کورنۍ شتون لري چې ستاسې په لاسنيوي خپل ژوند په اسانه مخته بيايې

ـ مورې زه څوک يم چې د چا ژوند اسانه کړم دا ټول کارونه خو الله ج کوي او زه يوازې دې کارونو ته رب يو خادم مقرر کړی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو داسې خو ده زما مطلب داؤ چې نور باید ته خپل ژوند هم جوړ کړې له دې وروسته خو د ځواني نه راځي ته باید کورنۍ ولرې.

ـ ولې تاسې مې کورنۍ نه یاست ؟

ـ ولې نه ،مطلب چې مېرمن او اولادونه باید ولري ،ژوند خو داسې یوازې پر مخ نه ځي

ـ مورې لږ وخت راکړئ ،زما یو څه کارونه نیمګړي دي چې باید بشپړ یې کړم بیا به په دې اړه هم پرېکړه وکړو د اوس لپاره زه دې کار ته نه یم چمتو شوی

ـ بس ته په خپلو کارو ښه پوهېږې

سبا سهارله کوره ووتم چې عمومي سړک ته برابرېدم یوې زړې مورکۍ لاس راکړ موټر مې ودراؤ ښیښه مې ټیټه کړه غوښتل مې ښکته شم خو هغې له بهر نه زما د موټر دروازه کلکه ونیوله ویلې مه راښکته کېږه ،ما هم ډېر اسرار ونه کړ ځکه بېړه مې وه ،سپین سرې مورکۍ د خپلې لاچاري کیسه پیل کړه ویې ویل :

خپل غبرګ زامن مې مړه شول،دواړه د جنګ قرباني شول د یوه ناوې مېرمن پاتې شوه یو ماشوم ترې د مور په ګېډه کې بې سرپرسته شو لا مې دهغه ویر نه ؤ تمام شوی چې د بل زوی جنازه یې هم راته راوړه اوس سرې سپینې دوه غبرګې ناوې ماته پاتې دي په انګړ کې ګرځېدل یې نشم زغملی د هغو لیدل راته ډېر سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمامیږي ،خاوندمې سپین ږیرى دى د کار ندى ټوله دکور زیمه واري زما پر اوږو ده

زړې مورکۍ خبرې اوږدې کړې تر څو زما باور لاسته راوړي غوښتل یې کلیمه ووایې خو بې چارګۍ داسې کلیمات له خولې ووتل،لاالا،مخمدرسوله زه ورته حیر شوم فکر مې وکړشاید ما سم نه وي اورېدلي ورته مې کړه مورکۍ ته یو ځل دا کلیمه ووایه هغې بې چارګی بیاهم هغه کلیمات وویل کوم چې ما مخکې ترې اورېدلي ؤ،ورته مې کړه مورې تاخو کلیمه هم سمه نده زده ځواب یې راکړ بس همدا مو په وړه کوني زده کړې ده مور اوپلار راښودلې ده سمه ده او که غلطه زه هم نه پرې پوهېږم بیا مې ترې وپوښتل ته پوهېږې چې دکلیمې مانا څه شی دی،راته یې کړ،نه ،نه زویه مورې لوږې اخیستي یو واړه یتیمان مې له لوږې مري ، مورې د هغو له غمه نه خلاصېږو او ته د څه شي غم وړی یې

پوه شوم چې زړې مېرمنې کلیمه زده نده نو په ارزښت او مانا به یې څه پوه شي له هغې مې ادرس واخیست نور ترې روان شوم ځان سره په یو ژور سوچ کې لاړم ومې وویل اه ربه

زما ددې مورکۍ خو دا نړۍ هم برباد ده او د هغې نړۍ لپاره هم څه له ځان سره نه لري نه یې کلیمه زده ده او نه د کلیمې په مانا پوهېږي ،دا کلیمه دې له پلار او مور زده کړې له دې مالومېږي چې هغوی هم کلیمه نه وه زده او اوس له دې نړۍ به ځکه تللي وي چې دادی لور یې د ګور په غاړه ده ځان ته مخاطب شوم ،په دې اړه یوازې د ا مورکۍ نه ده ګرمه بلکې لومړی زه بیا دیني علما،او بیا هغه مسولین چې دزده کړو په برخه کې غوړ،غوړ ماشونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي او کار نه کوي دا ټول مسول دي، زه ډاډه یم چې ددې میرمنې په څېر به زرګونه نورې مېندې وي چې عمر به یې غوړلی وي خو نه به یې کلیمه زده وي او نه لمونځ بس هسې دعبادت عادت به کوي

له ځانه مې وپوښتل هغه مسلمان چې نه یې کلیمه زده وي اونه یې په مانا پوهېږي څه ډول مسلمان ورته ویلی شو؟

فکر مې په دې سوچونوکې دمشغولتیا غوپې وهلې چې یو درز مې تر غوږو شو د موټر دمخې ښیښه مې ولیده چې ټوټې یې زما د مخ په لوري رارواني وې نور پوه نه شوم چې

څه پېښ شول یو وخت په هوښ راغلم سترګې مې پرانیستلې له چت سره مې نظر پیوند شو یوه او بل لوري ته مې وکتل خونه ټوله له بستر ناروغانو ډکه وه د څنګ بل بستر ناروغ خواته ته مې دوه مېرمنې ولاړې وي، سپینې چپنې یې په غاړه وې د یوې یې لاسونه شاته نیولي ؤ ، ومې لیدل چې ستاتیسکوف یې هم په لاس کې دی هغه بلې د ناروغ دوسیه راخیستې په غوریې لوستله لومړنۍ سپینې چپنې واله ژر دوسیه ترې کش کړه ورته یې کړه ته لږ دا ستاژ پرېږده زما خبرې واوره ، د دوی له خبرو پوه شوم چې ما ټکر کړی او اوس په روغتون کې یم مخ مې دروند راته ښکاره شو لاس مې ور وړ ومې لیدل چې مخ یې ټول راته ګچ پلستر کړی یوازې سترګې مې ترې ښکاري .

د دواړو مېرمنو خبرې اوچتې شوې دوهمې ورته وویل موږ دلته د ستاژ او عملي کار لپاره راغلي یو چې څه زده کړو خبرې به بیا بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو لومړی ورته کړه ،بهر چې ووزې لکه د سولې کوتره رانه والوزې خیر دی ماته مشوره راکړه

ـ د څه مشوره ؟

ـ هغه ډېر ښه انسان دی ،ډېره ښکلې نوراني څهره لري په ټولو خلکو ډېر مهربان دی ، ډېر بې کبره دی په سیمه کې د خوارو غریبو د لاس نیوي لوی نوم لري خو نه پوهېږم چې کله هم ماسره مخامخ شي چندان لیفټ نه راکوي ،زما خبرې بل لوري ته اړوي،زه ډارېږم چې هغه رانه پردی نشي هغه بل څوک رانه لاسته نه کړي،اوس مې نفس گرځیدلی دی ،زه اوس دهغه لپاره ژوند کوم

زما په سرکې څرېکه شوه بې واکه زگېروی رانه ووت دواړو انجونو زما په لوری راوکتل یوې بلې ته وویل دغه بیچاره شکر چې په هوش راغی پرون یې ټکر کړی ؤ

یوه رانېږدې شوه زما په سر ودرېده ورته ومې کتل ومې پېژنده ښکلا وه په ریښتیا هم هغه د ډاکترې په سپینه چپن کې ډېره ښه مالومېده ،پوه شوم چې هغه دلته په ناروغانو د عملي کار زده کړې (ستاژ) لپاره راغلې ده، ماته یې گوته ونیوه اې ماما خبر اوسه ستا په وجود کې زما پنځه سوه سي سي وینه چلېږي نېږدې وې چې مړشوی واې دومره بخیله وینه دې ده چې په ټول روغتون کې نه پیداکیده بیا زما وینه درسره جوړه شوه A منفي وینه ډېره کمه پیداکېږي ښکلا ته هغې بلې ملگرې خبره ورغوڅه کړه ویې ویل ،که د ماما جان وینه بخیله وي نو ستا وینه هم بخیله راځي ځکه چې وینه مو یو شان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښکلا یې په خبره خندل بیا یې ماته ګوته ونیوه ویې ویل مقصد خبراوسه ستا ژوند ما ژغورلی ما وپېژنه چې دا احسان مې یاد وساتې**

**ښکلا په ریښتیا هم زه نه پېژندم ، ځکه مخ مې ټول پلاستر ؤما هم ځان ورونه پېژانده ورته مې کړه احسان مند دی یم ستاسې قرباني به مې تل یاد وي**

**خویوه سپارښتنه هم درته کوم چې کوم کار د الله ج لپاره کوې یا هم د انسانیت ژغورنې لپاره یې کوې نو په چا احسان مه باروه**

**هغه بلې خورلنې یې ماسره زما به ملاتړ خبره غبرګه کړه ویې ویل:**

**د کاکا نصیحت تل یاد وساته او د خپلو ښو احسان په چا مه اړوه**

**ښکلا څلور نرۍ قلمي ګوتې په لاس کې ټولې کړې د شهادت ګوته یې ماته سیخه کړه ویې ویل ماما غړ د شناخته دی؟**

**ـ نه زه تاسې نه پېژم**

**ـ خو دغه غږ ما اورېدلی ؟**

**ـ شاید، خو زه تاسې د لومړي ځل لپاره ګورم،هغې هم زما په خوله باور وکړ نورې دواړه له بسترخونې ووتې،زه د سر په ګچ کې ډېر تنګ وم ډاکتران د وزیټ لپاره راغلل ورته مې کړه که هر څه کوئ ویې کړئ خو دا ګچ مې له مخه لرې کړئ،هغوی وویل موږ دا کار اوس نشو کولی څو ورځې وروسته به دې له دې ګچ نه خلاص کړو د پوزې هډوکې دې درز کړی ژامې د هم ظربه خوړلې د ژامې هډوکی د هم درز لري که اوس ګچ لرې کړو شاید په زیان درته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمام شي،ما هم ورسره ومنله دې درد پيچاري يې راکړې دمخ د گچ پلاستر درد ورسره کم شو،سبا يولس بجې بيا ښکلا او هماغه پرونۍ خورلڼه يې په گډه راننه وتې ښکلا راته کړه ماما جانه څنگه يې

ـ ښه يم

ـ خود به ښه کېږې زما وينه دې په بدن کې چلېږي

خورلڼې يې ورته کړه،تا ته خو پرون دې صيب ډېر ښه نصيحت کړی ؤ خو نن د بيا د ياده باسلی، تا پرونۍ بابولالې بيا پيل کړې

ـ کوم نصيحت؟

ـ هغه چې درته ويلې د نيکي احسان په چا مه باروه

ـ نو ما کله اوس بار کړی ،ښکلا ماته مخ راواړاؤه،راته يې کړه ماما جانه اوس ما د کوم احسان خبره کړې ؟

ـ نه !

ـ ته وگوره دغه خاتمه خورلڼه مې ځوروي،بيا يې

ښکلا خپله ملگرې گوښه کړه هغې ته يې وويل:

زما انتخاب څو ورځې وړاندې زما يوه مشوره ډېره خوښه کړه د هغې مشورې په اورېدو يې زما ډېر تعريف وکړ،کنه هغه د چا تعريف په اسانه نه کوي، هغه به د ناداره هغومېرمنو لپاره چې په ولادت مړې کېږي يو امبولانس واخلي ،هغه ته زما مشورې ډېر خوند ورکړ،ښکلا له جيبه ټليفون راوکيښ خاتمې ته يې وويل څه ښکلی غږ لري موسکي ته ورته دي ته يې دا ښکلی غږ واوره ،زه اوس فون ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ډېره خوږ فصیحه ژبه لري،زه به په همدې بهانه د امبولانس پوښتنه ترې وکړم،فون یې غوږ ته ونیو،زما ټلیفون ته زنګ راغی ،هغې هم زما د فون شرنګهار واورېده ،خو ما غږ پرې بند کړ،هغې بیا زنګ وکړ زما فون بیا وشرنګېده ،هغې خپل فون غوږ ته نیولی ؤ ما فون بند کړ هغې په حیرانی زما خواته وکتل رانېږدې شوه راته یې کړه داڅنګه چې زه زنګ وکړم تاته هم زنګ راشي ؟

ـ نه پوهېږم ماته خو یوه قرضداره زنګ وهي،ډېر ترې په عذاب یم ،په ناروغۍ کې مې هم په ارامه نه پرېږدي

ـ ښه

ـ هو

د بې هوښي او پیښې له کبله زما ستونی خراب ؤ ځکه خو زه هغې له غږه سم نه شوای پېژندلی ،چانس دا ځل ورسره بله یاري وکړه زما په لاس یې نظر پریوت ،زما په ګوته د پیروزې یوه ګوتمۍ وه هغه ښکلا مخکې هم لیدلې وه، د ګوتمۍ په لیدو یې غټې ښورې سترګې نورې هم غټې شوې لږ څه مخکې هم د ټلیفون له امله شکي شوې وه راته یې کړه ته زړه سواند نه یې؟

ـ نه

ـ دروغ مه وایه!

،افففف تا ټکر کړی او دومره ژوبل شوی یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماته دې نه دي ويلي اخر ولې داسې کوې؟ ولې تل زما زړه په دې خبرو ماتوې ،د کومې ګنا له کبله ماته داسې سزاوې راکوې اخير ولې؟

هغه سلګو واخيسته ، زما دبستر خواکې په يوه څوکۍ کېناسته راته يې کړه

زه کومه بلايم،کومه شيشکه يم چې ودې خورم ؟

ته ولې رانه ډارېږې،ته ولې رانه فاصله نيسې  او تل زما په اړوند بې تفاوتي څرګندوې زه ستا په اړه کومه بده اراده نه لرم او نه د هغه ډول انجونو يم،چې ته يې فکر کوې!

زه اوس مجبوره شوې يم ،زما ټول حواس زما فکر او وجود ستا لورى ته کش کوي،زه اوس د هغه انساني غرور په کيسه کې هم نه يم چې ما به لکه مات لاس ورسره احتياط کاؤ ،اوس مې خپل حيثيت هم ستا لپاره تر پښو لاندې کړى زه غواړم چې ما درک کړئ،ما غوښتل چې ورته ووايم ستاسې د پاک زړه او ښه نيت منندوى يم خو زما حواس ستا په وړاندې بيا داسې نه دى لکه ته يې چې لرې ،ځکه زما ټول فکر ،زوق او مينه يوازې د بنسټ د کارو سره ده ،له دې سره ده چې څرنګه يو وړى يتيم ماشوم موړ کړم ،څرنګه يو پريوتى بې وزله له لاسه ونيسم خو

په دې وخت کې ډله ډاکتران د ويزيټ لپاره راغلل ،ښکلا هم د دوى په ليدو مخ بل طرف ته واړاؤه او خپلې اوښکې يې د هغوى نه پټې کړې د هغوى په ځنګ ،ځنګ کې بهر ووته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکترانو ته مې وويل زه د سرله پلاستره ډېر په تنگ يم يا خو زما له سره د گچ پلاستر پرې کړی او يا هم زما سر ورسره پرې کړئ، په دې دوو کې خو نن حتما يو کار تر سره کړئ دوی ټولو زما په خبره وخندل ،خو بخت مې ځکه بيدار ؤ چې نن په ويزيټ کې يو تکړه د هډوکو متخصص هم راغلی ؤ هغه زما د سرايکسره وکتله نوروته يې وويل دغه ځوان ته يوه سزا موټر د ټکر له امله ورکړې دوهمه سزاتاسې وکړې ده دی  د سر گچ پلاستر ته هيڅ اړتيا نلري ځکه چې کوم د سرهډوکی يې مات ندی يوازې ضربه يې خوړلې پر هغه ځای چې تاسې د درز خيال کړی هغه درز ندی اشتبا ده  همدا اوس پلاستر  ترې لرې کړئ

زه يې په دې خبرې ډېر خوښ شوم ددې شکايت هم رانه هير شو چې ورته ووايم هغه ډاکتر چې زما سر ته يې گچ پلاستر ورکړی هغه ته سزا ور کړئ

نرسان سم دلاسه لاس په کارشول  پلاستريې رانه لرې کړ ،په سترگو مې رڼا شوه مخ مې د موټر د مخې ښيښو ډېر ژوبل کړی ؤ پر هغه يې پټی کېښودې شپه مې ډېره په ارام تېره کړه سهار د ډاکترانو له ويزيټ نه وروسته ښکلا په وره رادننه شوه لومړی نظر يې په ما ولگېده بې واکه يې له خولې دا کليمه ووته زړه سوانده ؟

ستا ښکلي مخ خو ډېره ظربه موندلې

تا خو ويل چې زه زړه سواند نه يمه ولې دې داسې کول ؟

زه پرون هم په شک کې وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اوس دې د مخ په ليدو  ډاډه شوم چې دا ښاغلی چې ما سره د پټپټوني لوبه کوي دا زړه سواند دی

هغه زما د بستر خوا کې څوکۍ باندې کېناسته دواړه لاسونه يې لپه کړل مخ سره يې سريښ کړل  د سپينو گوتو له منځو يې د بوچکو ويښتان راوتلي ؤ ځان سره يې وويل:

افففف وضعيت مې ډېر خراب شو،سر مې راباندې گرځي

ما ورته کړه ،ښکلا زه روغ يم ،تاسې مه پرېښانه کېږئ ،هسې نه  چې ډاکتران زما په ځای نوره تا دلته بستر کړي

ـ هغې يو لاس له مخ لرې کړ په بل يې ټنډه نيولې وه په نيمه لوڅو سترگو يې راته وکتل زړه سوانده دا وخت د ټوکو نه دی

زه ستا لپاره سخته ځگرخونه يمه .

ـ زما لپاره ځگرخونه يې که د هغه وينې لپاره ځگرخونه يې چې ماته دې راکړې ده

ـ هيله کوم تاسې ما په دې خبرو مه خجالتوئ ،مخکې خو مې په هغه وينې لږ زړه خفه ؤ اوس خو ډېره ،ډېره خوښه شوم ،چې د وينې شراکت موهم پيدا شو

ـ ما ورته وخندل ، ورته مې کړه د وينې شراکت داسې نه وي،هغه چې څوک له يوې مور او پلاره پيدا شي د وينې شريک شي

ـ ستاسې له خبرو مالومېږي چې تاسې له ما په هغه خبره ډېر خفه شوي ياست ما خو ته نه پېږندې ما د خپل مسوليت له مخې وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکړې ،ته په دې گیله من یې چې ما درته وویل چې زما د وینې احسان مند اوسه زما هدف یوازې تاسې ته مرال درکول ؤ نه داچې د وینې احسان درباندې خرڅ کړم،یا هم ریا وکړم بس هسې هغه د کندهاریانو خبره گپه مو کوله

ښکلا پرته له دې چې نور څه ووایي بهر ووته او بیا همداسې ورکه شوه غرمه مهال دولس بجې وې چې هغه زما مخې ته په داسې حال کې ودرېده چې د غرمنۍ ډوډۍ لوښي یې په لاس کې نیولي ؤ زه یې په لیدو حیران شوم

ورته مې کړه تاسې ولې تکلیف کوئ؟ خیردی که مېرمن نه لرم خو زموږ له کوره اوس ډوډۍ رارسیږي

د هغې ټنډه تروه شوه ،راته یې کړه زما په مخ کې د میرمنې خبرې مه کوه

- ولې

- بس هسې

بیا هغې لاس موټی کړ د اشارې گوته یې ماته ونیوله راته یې کړه اې

له دې وروسته د کور او روغتون ډوډۍ په تا بنده ده ،زه په خپلو لاسونو ډوډۍ او کتغ درته پخوم ،هغوی نه پوهېږي چې تاته څه ډول خوراک چمتو کړي

- نو تایې چیرته د پخلي درس ویلی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درس مهم ندی مهمه داده چې ته باید به طبي لحاظ معیاري خواړه وخورې او په دې کار له ما بل څوک ښه نه پوهېږي خو گوره په اشپزی کې هم بده نه یم نن چې زما د لاس پاخه شوي خواړه وخورې خپله به هم د بیا چمتو کولو فرمایش راکړې

- خو په دې بوختیا سره به درسونه درنه پاتې شي

- زه د ازموینو په نومرو کې ریکارډ لرم ته پوهیږې؟ماته داسې خوار فکر مه کوه

- خو که ته دلته بوخته شې ستاسې ریکارډ به بل څوک مات کړي

-زما له مرگ وروسته به زما د ریکارډ ماتونکې مور زېږوي

- هی ته ولې د ځان تعریف خپله کوې؟ ایا دا ستاسې کمزوری نده ؟

- ښکلا وخندل بیا یې پر مخ رالویدلي ویښتان په یوه لاس سم کړل ،ویې وویل ستا خبره سمه ده خو موږ په داسې یوه هېواد کې اوسو چې دلته څوک د چا د وړتیاؤ د ځرگندولو لپاره خوله او ژبه نه لري دلته تر ټولو لوی اتل هم د نورو لپاره تر ټولو کمزوری کس دی څوک یې نه مني ،دلته فرهنگ دادی چې څه ډول یو چا کې د نیوکې ځای پیدا کړل شي او کوچنۍ تېروتنه یې د خپل ناولي هنر له مخې لویه کړي ،نو کله،کله سړی اړکېږی چې خپلو وړتیاؤ ثابتولو لپاره خپله خوله پرانیزي.

زه یوازې د ویلو جلی نه یم د عمل کس هم یم څنگ کې دسکول ته یې لاس کړ موبایل یې ترې راوکیښ یو انځور یې پکې لوی کړ ماته یې ونیو راته یې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما د لومړي سمیستر نومرې دي ټولو کې سل،سل وې یوازې اطفالو کې یې پنځه نوي نومرې وړې وې

زه یې هم دنمرو په لیدو حیران شوم ځکه په طب کې دومره نمرې وړل د هرچا د وس خبره نه ده زه چې کله په حقوقو پوهنځي کې وم نو د طب زده کړیال به چې اویا نمرې په ازموینو کې په کوم مضمون کې ویوړې داسې به ورته خوښ ؤ لکه چې کوم هیواد یې فتحه کړی وي

خو ټوکرنده مې ورته وویل ته تمبله یې !

- ولې

- ځکه چې په اطفالو کې د کمې نمرې وړې دي

- که ریښتیا درته ووایم ماشومان مې په کور کې هم بد ایسي .

- هی ولې؟ماشومان خو د مینې سمبول وي،د هرچا د مینې پارېدو وسیله وي تاسې ولې داسې کرک طبیعت لرئ

- ته ریښتیا وایې خو زما د خبرو دا مطلب نه دی چې هغوی د مینې سرچینه او بیلگه نه دي بلکې زما د داطفالو مضمون د ازموینې په شپه یې درس ته نه پرېښودم ویلې مورِ سره لوبې وکړه کیسې راته وکړه،زه په ازموینو کې درس دومره نه وایم،خو استاد یې د ازموینې یوه ورځ مخکې یوه چیپټر راکړ چې دا هم زده کړئ،سوالونه ترې راځي دوی ورته پرینه ښودم په سبا یو سوال له همدې چیپټره راغلی ؤ ما هغه حل نه ش کړای ،اوس نو همدا لامل شو چې راته ودې ویل په اطفالو کې ضعیفه یاست ،د دوی سره مینه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښیږی ساعت مې هم ښه ورسره تیر وي ،خو له درس نه مې باسي ، درس ته مې نه پرېږدي .

ـ ښه شوه چې پوه دې کړم،ماته نوره ډوډی رانه وړې ؟

ـ ولې؟

ځکه چې بیا به خلکو ته وایې په نوم د زړه سوانده مې بد راځي ځکه چې ما به ورته ډوډۍ چمتو کوله او زه به یې له درسه باسلم

ـ ښکلا مسکی شوه راته یې کړه دا بانې دې نه چلېږي،ما خپل کار ته پرېږده.

ـ خو ښه درته وایم ،خپل مسولیتونه دې مخته بوځه

ـ ستا پالنه هم زما یو مسولیت دی ،د ژوند یو درس دی ،یوه زده کړه ده .

ـ تاسې زما سره داسې بې ربطه خبرې نشئ کولی

ـ ،زه حیران یمه چې تاسې ما ولې نشی درک کولی ،ولې ماته په بار بار د ځواب راکولو له کبره خوند اخلئ د ښکلا غږ نور هم اوچتېده ما یوه اوبل لوري ته په دې وېره کې وکتل چې چایې خبرې نه وي اورېدلې ،نو هڅه مې وکړه چې د هغې غوصه او خپګان راښکته کړم ورته مې کړه

ـ ما تاسې ته ځواب نه دی درکړی ،په اصل کې ستاسې دومره تکلیف ته اړتیا نوره نشته ځکه چې زه نور دلته نه پاتې کېږم،ډاکترانو زما روغتیایې حالت سم ښودلی ،بل داچې زما بېړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



، ماته دوه نور ډېر مهم پلانونه پاتې دي یو هغه پلان چې تا راکړی امبولانس سیستم باید جوړ کړو،نوره موقع نه ورکو چې زموږ د بې غوري له امله بې وزله کورنۍ د خپلې ناوسي له عذابه خپلې میندې د زیګون پر مهال له لاسه ورکړي کنه ځواب یې باید موږ ورکړو او رب ته ددې کار ځواب اسانه ندی او دوهم دا چې زه باید په مهمو ځایو کې د میرمنو لپاره دینې مدرسې جوړې کړم.

ـ دا دوهم فکر څرنګه درسره پیدا شوه ؟

ـ دا هم د لومړۍ موضوع په څېر خورا اړینه چاره ده چې باید ترسره یې کړو ،ما یوه مېرمن ولیده چې کلیمه طیبه یې غلطه ویله مېرمن دومره زړه وه چې د ګور له غاړې حسابیده، ځان سره مې وویل زموږ مسلماني او زیمه واري د همدې مېرمنې له خولې د کلیمې له اوریدو ښکاري چې موږ خپل مسولیتونه څه ډول اداکړي دي که دغه مېرمن مړه شي او په ټول ژوند کې یې یوځل کلیمه هم سمه نه وي ویلې نو پرته له دې چې خپله پکې ملامته ده موږ ټول به یې ځواب وایو موږ ټول ور سره په دې لوی جرم کې شریک یو ،هغې چې کلیمه نده زده نو ډاډه یم چې لمونځ به یې هم نه وي زده او چې لمونځ یې نه وي زده یوازې د لمانځه عادت به یې کړی وي لمونځ به یې نه وي کړی نو داسې عملونه چې بغیر د زده کولو وي ،ناسم وي هیڅ وخت رب ته د قبول وړ ندي

د ښکلا غوصه لږ راکمه شوه ،داسې یې انګېرله چې ګواکې زه اوس په یوه نوې مرحله کې داخله شوم زړه سواند مې اوس د غوصې ناز هم وړي ،په څهره کې یې د عصبانیت ټول کګلیچونه سم شول ،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټنډې تروه شوی پوستکی  یې هم وغوړید راته یې کړه ښه نو زه سبا درته خواږه پاخه نه کړم؟

ـ نه

ـ ولې ؟

ـ ځکه چې زه نوررخصت کېږم

ـ ښه ده ،نو ته به زما ځینې سوالونو ته کله ځواب راکړې؟

ـ کله چې لږ له دې کارونو  اوزګار شم بیا به خبرې وکړو

ـ  ستا له کارونو اوزګارېدل دومره ژر نشي ،او نه زه دومره صبر نشم کولی

ـ ستونزه نشته یوه اونۍ وخت راکړه بیا زما دفتر ته راشه

ـ ښه سمه ده

زه سبا رخصت شوم کورته لاړم  مورکۍ مې رامخې ته شوه په ټنډه یې ماچ کړم ویې ویل شکر زویه چې بېرته دې روغ وینم رب د یوه لوی خطر بچ کړې ،یوه اونۍ وړاندې داسې پېښه کې زموږ د یوه ګاونډي وزیراکا زوی مړ شو،خو تاسې سره د یتیمانو دعاوې دي بس الله ج راته وساتلې

مورته مې وویل مورې ،له ټولو بلاؤ به وژغورل شم خو یوه نوې بلا مې شا نه پرېږدي ،داسې راته ښکاري چې ارادې یې راته سمې ندي ،ما به د یتیمانو له دعاؤ بې برخې کړي  له اصلي کاره چې د یتیمانو خدمت دی باسي مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا څه بلا ده زویه چې تا د بې وزلو له خدمته باسې

ـ مورې یوه نجلۍ دی، ډیر ځان رانبږدې کوي ،او عادي میرمن هم نده چې ته فکر کوې سږ کال له طب پوهنځي خلاصېږي.

ـ مور مې رانږدې شوه زما په اوږه یې لاس کېښود غوږ ته یې خوله رانېږدې کړه ویې ویل زویه ښکلې ده؟

ـ هو مورې بل رقم ښکلې ده دومره چې له دې ښکلې زویه دې هم ښکلې ده

ـ نو بیا خو خبره جوړه ده ،کبر مه کوه دومره ښکلې هغه هم چې ډاکتره وي ولې بلا ورته وایې

ـ مورې یوه وېره لرم او هغه ویره په ریښتیا راسره ده

ـ کومه ویره ؟د څه شي ویره ؟

ـ د بنسټ کارونه به بیا رانه پاتې شي ،ما به خپله میرمن او اولادونه مصروف وساتي

ـ نو ولې تر اخیره به داسې یوازې لونډا گرځې

ـ له ځان سره خو مې همداسې پرېکړه کړې ده

ـ گوره زویه دا ټول خلک چې لوی ،لوی کاراو بار کوي ،ایا دوی مېرمنې نه لري ؟

ـ لري یې خو

ـ خو نو په کوم ځای کې ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بس له هرڅه مې زړه تور دی ،د بنسټ له کارو پرته نور ټول کارونه او بوختیاوې راته عبس ښکاري

ـ زما پادشاهي ،زما مینه ،زما خوندونه ،زما سکون ،زما ارام یوازې په دې کې وینم چې د یتیمانو لاسنوی وکړم دهغوی پالنه وکړم ،د هغوی اړتیا وې د الله په مرسته بشپړې کړم

ـ زویه د خیرکارونه به هم کوې او د دنیا ژوند به هم کوې د دنیا له ژونده خو نه کېږي،بل دا باور چې ته لرې چې مېرمن به دې له کارو وباسي ناسم دی ډېرهغه نارینه چې په نړۍ کې وځلیږي تر شا یې د یوې میرمنې لاس وي

ـ تاسې ریښتیا وایي مورې ،خو د بنسټ له کارو پرته بل هیڅ ژوند خوند نه راکوي زړه مې وای چې خپل ټول ژوند همدې کار ته وقف کوم نورې چارې د خپل کار کوي

ـ زویه زه پوهېږم چې اوس د بې وزلو لاسنیوی او خدمت ستاسې مینه ګرځېدلې او په دې پټ مینه ناک احساس کې غرق یې خو خپل ژوند ته د هم پام نیسه

ـ هغې ته مې د هو په دود سر وخوځاؤ ځکه چې زړه مې د ژبې سره ددې کار لپاره مرسته نه کوله

نور ترې خپلې کوټې ته روان شوم،ښه ارامه خوب مې وکړ،سهارمې چې سترګې پرانیستلې ډېر ناوخته شوی ؤ ژر ،ژر مې لمونځ او اودس وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي دفتر ته لاړم ،هغوی ته مې وړاندیز وکړچې د پیښې له امله څو ورځې رخصت راکړي ،هغوی هم په ډېره اساني ومنله چې زه باید دوه اونۍ استراحت وکړم ،کورته راغلم دوه درې ورځې مې تېرې کړې خپلو پلانونو پلي کولو ته مې زړه خوړ او د امکاناتو په اړه مې فکر کاوه ناڅاپه مې یوه زړه سوانده ملګری یاد ته راغی هغه ژوند په ریښتوني مانا پېژندلی ؤ هغه ښه لوړ معاش درلوده خو عادت یې نه ؤ چې پیسې کور کې جمه کړې اویا یې هم په اکونټ کې کېږدي بلکې په دې باورې ؤ چې د عیال له نفقې زیاتې سخاوت کړې په غریبانو یې وویشي ،د اخیرت په بانکونو کې ځان ته ځای پیداکړي ،هغه له بیلډینګونو سره شوق نه درلوده ،ځکه د ریښتوني ژوند په مانا پوهېده ،دا ریښتونی شخص غلام فاروق نومېده دنده یې هم طبابت وه یوه ورځ کورته ورغلم خو هغه مې پیدا نه کړ بیا مې ټلیفون ورته وکړ له روغبړ سره سم مې ورته وویل ،ټولنه له داسې ستونزو سره مخ ده ،غربت دومره حاکم ده چې زموږ د غریبو کورنیو مېندې دزیګون له امله په دې خاطر مړې کېږي چې روغتون ته د تلو وسیله نه لري د څو پیښو زه شاهد یم هغه د لنډو خبرو کولو عادت درلوده راته یې کړه نو چاره څه ده ومې ویل یوه امبولانس ته اړتیا ده ،هغه ډېر باوري شخص ؤ راته یې کړه

څومره لګښت پرې راځي؟

ـ نیږدې شپږ لکه افغانۍ

ـ ته امبولانس واخله ،لګښت یې ټول زه پرې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ ددې خبرې په اورېدو سره د معمول په ډول له ډېرې خوښی زما اوښکې روانې شوې دومره خوښ شوم لکه چې ماته چا شخصي یوه الوتکه اخیستې وي**

**امبولانس مو واخیست رښا خیریه بنسټ مو پرې ولیکل ،نور مو د هغو بې وزلو کورنیو نوم لړ راجستر کړ چې بې سرپرسته ؤ یا هم دومره غریبان ؤ چې روغتون ته یې د ناروغ د وړلو وس نه درلوده کله به هم چې ددې کورنیو دلېږد اړتیا پیدا کېده امبولانس به یې په خدمت کې ؤ ،پلان مو جوړ کړ چې دغه خدمات هرې ولسوالي ته ورسوو ،او نورو ولایاتو کې یې هم پیل کړو،رب ډېر مهربانه دی دا هیله مو هم بشپړه شوه ددې کار له بشپړیدو وروسته یوه اونۍ رسمي دفتر ته تلم کله چې جمعه شوه نو د بنسټ دفتر ته لاړم**

**له ناستي سره سم مې د دفتر ورسۍ له ښیښې نه یو کس ولېده هغه ډېر سپین ژیری ؤ لیده مې چې زما د دفتر په لوري راروان دی په مخکې یې ماشوم دی خو چې لږ ښه ورته ځیرشوم ومې لیدل چې سپین ږیري د ماشوم په اوږه لاس ایښی دی احساس مې کړه چې سپین ږیری نابینا دی زما د دفتر دروازه ماشوم راخلاصه کړه سپین ږیری په ډېرتکلیف راننوت یوه او بل لورته یې لاس تپاؤ تر څو د ناستي ځای پیدا کړي ،زه ورپورته شوم څوکۍ مې یې شاته کېښوده ،ورته مې کړه کاکا دلته کېنه هغه بیچاره هم کېناست**

**لومړۍ یې ښې ډېرې دعاوې وکړې بیا یې وویل زویه ته ډېر نیک سړی یې د ډېرو غریبانو اړې دې چلولې دي ،د هغوی په ستونزو کې د منډې تړړې کړې دي انشاالله چې خدای ج په دې نه خواروي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم په یوه لویه تمه درته راغلی یم ،دوه کاله کېږي په سترګو څه نه وینم د سترګو پردې مې دي ډاکتران راته وایې چې ته باید عملیات وکړې موږ درته غمی اچوو خو ماسره د خپل عیال په وچه ډوډی د مړې ګېډې روپۍ هم نشته ،خلک زکاتونه او خیراتونه راکوي په هغو ګذاره کوو،دومره غریب یم چې دوه کاله مې وشول په سترګو څه نه وینم د غریبي له لاسه هرڅه رانه پاتې دي، د نور په اوږو باریم لمونځ او اودس هم د نورو له کمک پرته نشم کولی

ما څوک نشي درک کولی که تاته یوڅوک دوه کاله سترګې در وتړي او په دې دوه کاله کې د دنیا هیڅ شی هم ونه وینې ناسته او ولاړه دې د نورو په مټ وي هغه هم چې د چا په زړه ښه وي د کومک لاس درکوي کنه نه یې کوې نوهلته به ما هم درک کړې چې زما ژوند څومره سخت دی،غریبي ډېره کم سیالي ده

ما ورته کړه کاکاجانه همدا اوس چې ته غږېدې ،ما څو لحظې ستا پرحالت ځان بدل کړی ؤ زه دې درک کوم او هغه سخت حالت هم درک کوم چې په تا تیر شوی دی

ټلیفون شمیره مې ترې واخیسته ورته مې کړه ته نن لاړ شه انشاالله په یوه اونۍ کې د چاره کوم راغواړم دې د عملیات غم به دې د الله ج په مرسته کوم

د کاکا مخې ته ماشوم ودرېده هغه یې له لاسه ونیو چې پورته یې کړي، دروازه ټک،ټک شوه د راتلو مې ورته وویل ښکلا راننوته سلام یې واچاؤ خپل دسکول یې له اوږې لرې کړ،به لاس کې یې نیولی کتابونه هم د څوکۍ مخکې مېز باندې کېښودل،راته یې کړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينې غر بې واورو نه وي ،زه خو چې راځم گورم تاسره د بنسټ د کورنۍ غړي وي خو پام چې نن کومه پلمه راته ونه کړې نن به ماته ځانگړی وخت راکوې چې خبرې سره وکړو

ـ ښه سمه ده ،د کاکا له وتو وروسته به خبرې وکړو

ـ کاکا څه ستونزه لری؟

ـ ناروغۍ يې ستاسې پورې اړند ده

ـ اخر ستونزه څه ده

ـ د سترگو پردې لري بيچاره دا دوه کاله يې په کور کې د ړانده په ډول تير کړي حال داچې اسانه درملنه يې تر سره کېږی

ـ نو ولې يې عمليات ندی کړی؟

ـ په تا هم هغه دپاچا دلور کانه شوې چې ولس له لوږې مړکېده دې مشوره ورکړه چې ولې کولچې نه خوري

ـ زړه سوانده زما مطلب ريشخند نه ؤ يوازې غواړم په لامل يې پوه شم

ـ لامل يې مالومداره دی وايې تشه لاسه ته مې دوښمن يې بس تش لاس ورسره ياري نه کوله

ـ ښه نو اوس ؟

ـ يوه اونۍ وخت مې ورکړ انشالله چې بېرته راځي زه به يو غم ورته وخورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ داسې وکړه چې زه یو د سترګو متخصص ډاکتر پېژنم هغه شخصي کلینک لري دواړه به ورشو دده په مخ کې به سوال ورته وکړو انشالله په وړیا ډول به ددی کس عملیات تر سره کړي ځکه هغه زه پېژنم خورا ډېرزړه سوانده دی

ـ نو کا کا هم ځان سره بیایو

ـ نه یوځل دهغه سره خبره کوو ،کاکا دوه ورځې وروسته راوبوله

ـ ښه سمه ده

ـ کاکا ته مو رخصت ورکړ او ښکلا ته د هغو خبرو چې تمه یې درلوده موقع په لاس ورغله

مخ یې په یوه لویه هیله راواړاؤ مسکی شوه ،هیله یې درلوده چې په خپله مسکا سره د خپلو خبرو لپاره زما ذهن هم اماده کړي

راته یې کړه

کله د چې له غریبانو سره خواخوږي ووینم ،نو یوه لویه هیله راسره پیدا شی چې دا سړی ډېر زړه سواند دی ،خو کله دې چې بیا زما په اړه بې پروایې وګورم ستا په دې خیریه کارومې هم شک راشي چې دا هر څه یې ریا دي،ځان ښوونه ده

ـ نو زما له بې پروایي سره خیریه بنسټ څه اړیکې لري؟

ـ ته د خدای ج له بنده ګانو سره ډېره مینه لري ،ها؟

ـ هو بې له شکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو ایا زه د خدای بنده نه یم ؟

- ولې نه یې ،خو زه پوهېږم چې ته اړه نه یې او زموږ خواخوږي د اړو خلکو سره ده

- زه تر ټولو ډېره اړه او محتاجه یم ،دومره محتاجه چې خپل غرور مې هم دې محتاجي راته له پښو لاندې کړی ،دومره محتاجه چې ژوند راته بې مانا شوی ،هرڅه رانه هېر شوي دي

- خیر وکړې اخر ولې؟

- زړه سوانده ،ته د مینې په نوم څه پیږنې؟

- هو نو بیا ولې ځان ناګاره اچوې؟

- زه هیڅکه د ناګاره توب عادت نه لرم

- دا خو ته وایې ،ته ډېر بې پروا انسان یې ؟

- اخیر ولې؟

- ته ملامت نه یې ،ځکه چې تاسې مینه نه ده کړې؟

- خو تاسې یې سرچپه وایې ،ما مینه کړې زه عاشق یم ،او اوس هم په خپله مینه کې ډوب یم،یو لیونۍ مین

- نو له ماسره همدا د بې پروایې چلند چې ته یې کوې دې ته د مینې نوم ورکوې ،دا څه ډول مینه دی

- خو تاسې زما معشوقه نه یاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بیا تاسې کوم عشق یادوي؟

ـ گوره ښکلا ،زه په ټوله مانا ستاسې ،وقار،علمیت ،خواخوږي ،ځواني ،ښکلا ته درناوی لرم او ماته د نړۍ ترټولو ښه انسان ښکارې

خو په څرگندو ټکو یې درته وایم،زه له تاسې سره مینه نه لرم

ـ دا خبر دې ولې مخکې نه کوله ؟

ـ ځکه چې مخکې نه پوهېدم چې ته زما په وړاندې دا ډول احساس لرې

ـ ولې ماشوم وې؟ تې خوری وې؟

ـ اړتیا نشته چې خبره دومره وغځوو

ـ تاسې دغه خبره څومره په اساني کوئ چې اړتیا نشته

ـ نو څه وکړم ورسره وژاړم

ـ ژاړه مه ،ماسره یوه ښیگڼه وکړه ؟

ـ د څه شي؟

ـ غواړم چې معشوقه دې وپېژنم ،هغه څوک دی ؟

ـ نو څه یې کوې ؟

ـ ژوند کولو ته به یې پرینه ږدم ،ځکه هغه له مانه زما حق اخلي

ـ زه ډاډه یم ته هغه نشې وژلی ،له هغو ژوند نشې اخیستی ،دومره جرئت په تا کې نه وینم چې د هغوی مخې ته ودرېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته زما حوصله مه ازمايه ،ته نه يې خبر چې زما په زړه کې دهغوی د پاره څومره بده انګېزه پرته ده ،دلته په سينه کې مې د هغوی لپاره څه ډول طوفان په څپو دی.

ـ ما ورته وخندل ورته مې کړه ته دومره ظالمه نه شې کېدای ،زه دې پېژنم ؟

ـ ته مې په سمه مانا نه پېژنې؟

ـ زه دې په صحي او سمه مانا پېژنم

ـ نو بسم الله کړه هغه جلۍ راته په ګوته کړه او بيا د هرڅه نندراه په خپلو سترګو وکړه

ـ نو غواړې چې ته زما مينه پېدا کړې ؟ هغې ژوره ساه وښکله لاړې يې تېرې کړې بيا يې وويل ،هو په ډېرې ليووالتيا سره

ـ نو غوږ شه

ـ زه ډېره ښه غوږ يم

ـ زما مينه زما عشق ،زما ژوند يوازې او يوازې همدا ديتيمانو لاس نيوی دی ،ددوی سره مرسته زما عشق دی .

ـ ښکلا زما په خبرو وخندل ، راته يې کړه ،زه اوس د ټوکو اورېدو ته نه يم جوړه

ـ زما د پوښتنې ريښتونی ځواب راکړه ؟

ـ ريښونی ځواب همدا ده کوم چې تا واوريده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته قسم وکړه

ـ قسم دی

بیا خو تا ریښتیا وویل تا ماته داسې عشق رامخکې کړ چې زه د هغې په وړاندې نشم درېدلی،زه جرئت نلرم چې دغه عشق د له منځه ویسم

خو غواړم یوه شي ته د پام راواړوم هغه دا چې ته اوس زما عشق جوړ شوی یې ،زما روح اوس ستا په روح مین شوی ،او دا هم ریښتیا دي چې ښکلی ځواني او ښکلی رنګ لرې ،خو زما دعشق لامل نه ستا ښکلا ده او نه ستا ځوانۍ بلکې ستا وجدان دی،ستا پاک احساس دی ،ستا خواخوږي ده ستا هغه مینه ده چې د خپلو بې وسه ولسونو سره یې لرې

ـ ورته مې کړه زه د منندوی یم چې زه دې درک کړم ،زړه مې ډېر درته ځوریده ،خو مانه هم لاره ورکه وه چې څرنګه مو پوه کړم ، زه ستا مینې کولو ته درناوی لرم خو په دې باید پوه شې چې زما او ستا لارې جدا دي ،زما او ستا د موخو مسیر جدا دی

ښکلا مې په خبره کې راولویده راته یې کړه نو

ـ تاسې خپل ژوند درته جوړ کړئ ما خوشې کړئ چې خپل عشق مخته بوځم

زما له دې خبرې سره د ښکلا بڼورې سترګې راډکې شوې په داسې حال کې یې ماته وکتل چې د دواړو سترګو له کونجو یې غټو،غټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څاڅکو د رخسارونو په لوري مزل پیل کړ ،راته یې کړه د یوې پوښتنې ځواب راکولی شې؟

ـ هو ولې نه

ـ ته دې خپله عشق پرېښودلی شې ؟

ـ نه هیڅکله نه

ـ دا کا ردې په وس پوره ده؟

ـ نه

ـ نو ماته یې د پرېښودلو ولې سپارښتنه کوې ؟له ما ولې غواړې چې زه مې خپله مینه پرېږدم ،ایا مینه پرېښودل هم د انسان په وس کې وي ،ایا تاسې ته وجدان دا اجازه درکوی چې ماته د یوه ناشوني او زما له وسه د وتلي کار توصیه راته کوئ

ـ ښکلا زه مو درک کوم ،خو ته به هېڅکله له ما سره خوښه ونه اوسې

ـ ولې؟

ـ ځکه چې زه به له خپل کار سره مصروف یم ،له خپل عشق سره به مصروف یم ته به رانه د مېړه توب او ښځې توب حق غواړې او زما به له لاسه نه کېږي ،نو ایا ته به داسې ژوند خوښ کړې او پکې خوشحاله به واوسې

ـ تاسې عشق او مینه سمه نه ده پېژندلې!

ـ ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ځکه چې په مینه او عشق کې هوس نه وي،په عشق کې غوښتنې نه وي عاشق یوازې د خپلې معشوقې په خوا کې اوسېدل غواړي زه غواړم یوازې ستا ژوند ته راشم یوازې ستا په نوم واوسم زه تا له خپله کار نه باسم او نه درنه کومې غوښتنې لرم بلکې یوازې غواړم ستامیرمنه شم زه خپل ټول حقونه تاته دربښم یوازې ددې کار په بدل کې چې ته مې په خپل نوم کړې

ما غوښتل ورته ووایم چې په دې اړیکه کې بیا بې انصافي راځي،زما خبره د وره په ټکېدا پرې شوه ومې کتل یوه ځوانه میرمن راغله راته یې کړه زړه سواند صیب ته یې

ـ هو

ـ ما اورېدلي چې تاسې د بې وزولو لاسنیوی کوئ

ـ هو البته د الله ج په مرسته

ـ نن به ماته وخت راکوې ؟

ـ د څه شي وخت ؟

ـ ماسره کورته لاړ شه زما حال ووینه ،بیا زما په اړه اقدام وکړه د ځومره مرستې وړ مې چې بولې بیا هغه وس رانه مه سپموه

ژمی ؤ واوره هم ښه پرېمانه پرته وه خوا کې مې څادر ایښی ؤ نه او هو مې ونه کړل هغه مې رااخیست ښکلا ته مې مخ ورواړاؤه ورته مې کړه ته له موږ سره ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې سوړ اسویلی وکیښ شاید لامل یې هم دا ؤ چې خبرې یې نیمګړې پاتې شوې  بیا یې وویل نه تاسې لاړ شئ زه مې کورته ځم ،کور کې به راته په اندېښنه وي

څادر مې له ځانه جار کړ،له لنډ مزل وروسته د خورکۍ کورته ورسېدم پر یوه کنډواله ور دننه شوم دوه ګلالی ماشومان له یوې داسې کوډلخې راووتل چې ور او ورسۍ (اشداره) یې نه لرل ، دواړو ماشومانو په پښو پیزار نه درلوده هر یوه به چې په واوره کې پښه کېښوده بیرته به یې په بیړه پورته کړه د جونګړې یوې کړکۍ ته مې وکتل د ښیښې پر ځای یونړی پلاستیک ورته ټومبل شوی ؤ کوټې خو هسې هم ور نه درلوده  پرده مې لرې کړه  د کوټې منځ ته دننه شوم د کوټې په منځ کې څو د چایو پیالې ایښې وې شاید د بیګانې چای پاتې شونې وه یوه پیاله نیمه له چای نه ډکه وه خو دغه چای پکې یخ نیولی ؤ کوټه دومره یخه وه چې دننه اوبه یې هم یخ کړې وې

ما ورته کړه خورې دا خو په دې سخت ژمي کې د اوسېدو نه دی ،دلته خو هوا دومره سړه ده چې اوبه  هم یخ شوې دي،دا تنکي ماشومان خو به دلته مړه کړې دوی کله دلته ژوند کولی شي

ـ هغې راته کړه وروره ته ښه وایې ،خو چېرې لاړه شم چېرې سیمه ویسم ،څوک مې غږ واوري،زه پوهېږم چې دلته زما ماشومان له یخه هم راته مري ،خولاچاري ده ،بې وزلي ده چې مجبوره شې نو بیا به هرڅه په ځان زغمې ،د کوټې پاس چت ته مې وکتل ورته مې کړه تاسې خو ډېر نازک ،نازک لرګي په ګوټه اچولي خدای ج مه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربانديې رامات نشي ،خوركي هم زما د نظر په لوري پاس چت ته سترگې ونيوې هغې راته كړه

دا لرگي خو قوي دي په ډېرې سختي مې يو،يو په سوال پيدا كړي دي ،له دې مخكې لرگي ډېر نازک ؤ يوه شپه داسې وه چې واوره پيل شوه تر نيمې شپې يې نيم متر ته رسولې وه زه د شپې له سره وېريدم چې زموږ د كوټې لرگي خو ددې وارې تاب نه لرې راونه لوېږي ، نيمه ويښه پرته وم د لرگيو په منځ كې خرهسا شوه ما ماشومان يوه كونج ته كړل د هغه كونج گودره لږقوي وه چې درز شو د كوټې چت راپريوت،زموږ كونج ولاړ پاتې شو زموږ په سر د چت گودره ماته نشوه خو يو لورى يې د ديوال د خوړينېدو له امله په ديوال كې ښكته ننوته بس د رب مهرباني وه د كوم ماشوم په سر نه خاوره راولوېده او نه كوم لرگی ،ماشومانو مې له وېرې چغې كړې ،ما دوی ته د تسلي هڅه وكړه خو هغوی زما غږ نه اورېده،ډېره تياره وه يو بل مو نه سره ليده څه په خواريو مې يو سوری وكړ زه ترې راووتم بهر كوڅې ته مې منډې كړې واوره هم ښه زياته وريده ،د ژامو كړسا مې له لرې اورېدل كېده د يخ له لاسه لكه پاڼه رپېدم يوې دروازې ته ودرېدم و مې ټكوله چې راووځي او له موږ سره كومک وكړي خو زما د غږ ځواب چا رانه كړ ،بيا به بلې دروازې ته لاړم دروازه مې وټكوله خو چا ځواب رانه كړ، نورو ته لاړم د كوڅې ټولې دروازې مې وټكولې خو خلک په تودو خونو كې پر خواږه خوب وېده ؤ هغوی زما حال نشو درک كولی دلته مې خپلو ماشومانو ته را انديښنه وه چې زما په نه شتون كې به يې له وېرې زړه چودلی وي ، اړه شوم بيرته خپلې خونې ته راغلم له هغه سوري مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور اولادونه راوباسل چې زه ترې راوتلې وم  یو ترپال مو درلوده ،هغه مو ځان ته واچاؤ نیم مولاندې اونیم مو راباندې له پاسه کړ،په بړستنو کې ننه وتو تر سهاره واوره راباندې ورېده ماشومانو مې له یخه چغې وهلې ،ډارېدل زه هم نوره په تسلي سترې شوم په چغو سترې شوم،ټول له یخه رېږدیدو، بلاخره اذان وشو

فکر مې وکړ دلته خو د مسلماني یوازې اذان کېږي ،خو خلکو کې مسلماني په سختی لیدل کېږي ،زما د کوڅې خلک به اوس اودس په تودو اوبو وکړي جماعت ته به لاړ شي ،خدای ج به یاد کړي ،لا به مغرور شي چې کلک مسلمانان دي خو د ګاونډې له حاله خبر ندي چې په څه ډول یې یتیمو ماشومانو شپه تېره کړه ،د سهار روښنایې مخ په زیاتېدو شوه د یوه کوچني زوی وضعیت مې په خرابیدو شو ساه یې نشوه ښکلی ،په څنګ کې د یوه ګاونډي دروازه مې په زوره ،زوره ور ووهله یوې مېرمنې له هغه اړخه غږ راوکړ لکه چې زموږ دروازې ماتولو لپاره دې اراده کړې ،دروازه هم په سړې توب وهل کېږي ،ماورته کړه خورې کوټه راباندې رالوېدلی د یوه ماشوم وضعیت مې خراب دی زه هغه روغتون ته وړم د خدای لپاره دا نور ماشومان مې راوله لږ اور ورته بل کړه ،کنه ټول رانه مري،هغې چې زماوضعیت ولیده ډېره ورخطا شوه ماته یې وویل ژر راننه وځه،ته خو لکه پاڼه داسې رپېږې،اول خپل ځان تود کړه ، زه هغه نور راولم ماورته کړه زه وخت نلرم ،ماشوم مې ساه نشی ښکلی سینه یې خرابه ده

ته کمک وکړه هغه نور بیچاره ګان راوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ماشوم غېږه کې واخیست روغتون نېږدې ؤ هلته مې ورساؤ اکسیجن یې ورته چالان کړ لاپې لس دقیقې نه وې پوره کړې چې ژوند یې حق ته وسپاره، هغه ته مې په غړیدلو سترګو کتل هغه ساه ورکوله دې هغه ،هغه بیګنی د یخنی دلاسه د بدن لړزه او چغې مې سترګو ته ودرېدې ،د هغه بې چارګي مې سترګو ته مخ ته مخ ته کېده چې په یوه پرتوګ او یوه کمیس کې له یخه رېږدېده ،غېږ مې ترې ګډه کړه راوامې خیست د کور په لوري رارهي شوم د روغتون په واټونو کې بې واکه چغې رانه ووتې د خپل بې وسه ژوند په اړه مې څو سوې سوې کوکې وکړې،د واټونو ناروغانو هم چې زما چغې اوردېدې د خپل اطاقو دروازه به یې راخلاصه کړه زما ننداره به یې وکړه بیرته به یې سر دننه کړ،پوهېدم چې زما تقدیر زما ستونزې یوازې زما لپاره لیکلې دي یوازې زه یې باید وګالم او یوازې زه باید ددې ستونزو سره مقابله وکړم

هغه هم وخت و چې راباندې تېر شو ماشوم مو راوړ ،د غریبو کورنیو به څه جنازه وي یوملا درې تنه لارویو یې په جنازه کې کتار جوړ کړی ؤ،له جنازې وروسته مې دزړه ټوټه خاورو ته وسپارله خښ مو کړ

زما له زړه او زما د بې وسي له لاسه چې زما په اولاد څه تېر شول هغه رب ننداره کړه

له هغه وروسته چې جونګړه مو ورانه شوه یخ ډیر سخت ؤ اړ شو بل ځای ته مو کډه ویوړه هوا چې لږ ښه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راغلو دا ختې مو وتپلې او دانري،نری لرګي مو په سوال یو ،یو پیداکړل د سرپنا په نوم مو یو څه جوړه کړه کوم چې اوس ته په خپلو سترګو وینې

د همت ناکې مور په سترګو کې اوښکې راغلې ،راته یې کړه زړه سوانده وروره زه دومره بې همته نه یم خپل وس کوم تر وروستي بریده هڅه کوم چاته لاس اوږد نه کړم ،زموږ کور له پوهنتون سره نږدې دی ،دا وړکی زوی به مې پوهنتون ته لېږه په لیلیه کې به اوطاق په اوطاق ګرځېده خیرن کالي به یې راټولول مابه ورته مینځل په هغه به مې ګذاره کېده،اوس چې ژمی دی محصلین رخصت دي ،زما لپاره داسې کار نشته چې ویې کړای شم ځکه میرمن یم تورسرې یم عمر مې هم زیات ندی ،ځکه خو اړه شوم ستاسې دروازه دروټکوم ،ابله ورځ یوه شخصي روغتون ته لاړم مال که د صفاکارۍ په توګه یې ونیولم ،دنده یې راکړه خو دومره بې وجدانه ؤ چې زما له غربته یې ناسمه ګټه پورته کوله په ورتګ یې پښیمانه کړم دنده مې بیرته ورخوشې کړه

هغې د خپل پړوني په یوه پیڅه خپلې اوښکې پاکې کړې بیا یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ، ویې ویل خدای ج د زما د دوښمن په سپي هم داسې وخت نه تیروي کوم چې په ماراغلی دی ،ما ډېرې ورځې په نهاره تیرې کړې دي ،یوازې اوبه مې څکلې دي ، په اوڅکلو کې مې بیا هم خدای ج ته شکر ویستلی چې ځه شکر خدایه اوبه خو شته !

یوه ورځ مې دیرش افغانۍ درلودلې ،په هغه مې درې ډوډې راوړې اولادونه مې ۷ دي نیمه نیمه مې کړه خو یو اولاد مې اخیرې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شو،بیا مې له دې نورو لږ لږ ورته راکمه کړه دده هم گذاره پرې وشوه یوه زوی مې راته وویل مورې ته یې ولې نه خورې ماسره له دې کلیمې بل ځواب نه ؤ ورته مې کړه زه وږې نه یم

ما یې خبرې ور غوځې کړې ورته مې کړه خورې بس دی نور د د خبرو اوریدو تاب نه لرم .

ځان ته مې قهر ر احٔي ،له ځانه مې نیولې بیا د انسانیت په نوم دلته هر ژوندي سري نه مې بد راغلل ،لومړی د په ما لعنت وی ،بیا په ټولو دې بې غوږ او سترگو او بې احساسه انسانانو چې ستا په خوا او شاه کې ژوند کوي ،دوی ولې دومره سخت زړي دي چې ترحم ترې کډه کړې ،ولې دومره بې زړه سویه دي؟ دوی ولې ځان اشرف المخلوقات گڼی اخیر ولې ؟

دوی انسانان دي خو دانسانیت پاللو یو کوچنی بیلگه هم نشي وړاندې کولی ،مسلمانې داسې نه وي لکه دوی چې روانه کړې ،مسلمانان د یوه وجود په څېر دي لکه ورونه داسې دي د یوه او بل په غم کې شریک دي د یوه اوبل ستونزو په حل کې مکلف دي کنه بیا تش په نوم مسلماني ده او بس

ته ددې سیمې د اوسېدونکو یوه تورسرې خوریې هغه څه چې تا گاللی د هغو بیلگې په دې نړۍ کې ډیرې کمې دي ،خواو شاه د جومات تش به نوم عابیدینو ستاسې احوال هم وانه خیست تر دې چې یوه وظیفه،او وچه ډوډی یې هم درنه کړه

ستا د کوچني ماشوم قاتلان لومړی زه او بیا دغه د کوڅې گاونډیان دي ،زموږ له بیغوري هغه معصوم ماشوم مړشوی ،زموږ له بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسولیتي مړ شوی،که هغه نیمه شپه ستا د چم ګاونډ ستاسې غږ اوریدلی وای ستا ماشومان یې کورته بوولي وای فکر نه کوم چې تا د خپل زړه ټوټه تر خاورو لاندې کړې وای ورته مې کړه

خورې ته نوره اړه نه یې چې تشویش وکړې رڼا خیریه بنسټ به تر څو چې ستاسې ماشومان لوی شوي نه وي او د کار جوګه شوي نه وي ستاسې د روغتیا ،خوراک او ماشومانو د زده کړو غم به خورې او زموږ یوازې دا ژمنه نه ده بلکې سر له سبا به یې عملا وګورې، له دې خبرو وروسته مې له دوی رخصت واخیست او کورته لاړم

ټوله شپه ددې کورنۍ مظلومیت ځورلم ،سهار مې بشپړ خوراکي توکي ورته واخیستل کور مخې ته مې ورته ښکته کړل ماشومان مې شخصي ښونځې ته بوتلل هلته مې شامل کړل د نوموړي ښونځی یونیفورم مې ورته واخیست بیرته مې کورته راوستل

مورکۍ ته مې وویل :کله دې چې هم ماشومان ناروغه کیږي نو ماته پدې ګڼه فون کوه زه به یې انشاالله د روغتیا غم خورم هر څه به یې وړیا تر سره کیږي

نور مي له دوی خدای پاماني واخیسته،څو قدمه مې لانه ؤ اخیستې خورکۍ غږ کړ،وروره !

مخ مې ورته راواړاؤ ماله ها ،ووایې

ـ د هغې په خوله کې خبره بنده شوه د ویلو جرئت یې ونه کړ،وې ویل خبره رانه هیره شوه زه پوه شوم چې راته وایې بیا به هم له موږ سره داسې د خوراکي توکو مرسته کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وخندل ،خو په دې مې ځان پوه نه کړ چې زه دې په خبره پوه شوم ورته مې کړه

کله چې ستاسې خوارکي توکي خلاصېږي نو موږ په جريان کې اچوی انشالله هره مياشت به دومره خوراکي توکي درته اخلو چې تر بلې مياشتې مو کېږي

زموږ د خوراکي توکو دا لړی نوره پيل شوه دا ډول سلګونو ناوسه کورنيو ته مو ددې ډول مرستو لاره پرانيستله

سهار دفتر ته راغلم له کيناستو سره سم يوماشوم راغی د دفتر دروازه يې راخلاصه کړه ويې ويل دا ليک واخله يو چا درته رالېږلی ليک مې ترې واخيست ماشوم په خپله مخه لاړ ما ليک به خلاصولو پيل وکړ،دروازه بيا وټکيده ومې کتل يوه مېرمن وه دوه کوچني ماشومان هم ورسره ؤ د ليک د لوستو مزاحم پيدا شول خو زما ليک ته انديښنه وه په بيړه مې د ليک اخير ته وکتل تر څو يې راليږونکی وپېژنم ليکل شوي ؤ ستا ښکلا

پوه شوم چې د ډاکترې ليک دی ، راغلې خورکي راته په خبرو شوه ما بېرته ليک قات کړ ويې ويل زويه هيله يا لويو کورو او يا هم لويو غرو ته کېږي ،تاسې د غريبو د سر سوری ياست يوازې تاسې ياست چې د خلکو غږ په حوصله اوریٔ،نور خو زموږ خبرو پورې خاندې ،زموږ غوښتنې ريشخندوي ،زموږ د درد سپکاوی کوي،کاش چې ستا غوندې څوکسان نور هم په دې سيمه کې پيدا شي

ماورته کړه مورې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د دومره صفت وړ نه یمه ما کې اوس هم ډېرې نیمګړتیا وې دي ،زه هم د نورو په څېرستاسې په وړاندې ډېر کمی لرم چې اصلاح کولو ته اړتیا لري ،په هر حال رب دې موږ سم کړي رب دې زموږ ستونزې او نیمګړتیاوې راکمې کړي ،خو ته راته ووایه ستونزه مو څه ده

موړکۍ وویل:

زویه که زما خبرو ته غوږ ونیسې نو ما به درک کړې زما دردونه به حس کړې ،زما د ژوند سختی به د خیال په سترګوووینې

زه هغه مور یم چې له لوږې مې یوه ماشوم خرڅ کړ،دې بلې مور غېږې ته مې ورواچاوه ،ما دا قرباني د نورو ماشومانو د لوږې لپاره ورکړه ما ویل په دې پیسو به مې د نورو ماشومانو یو څه ګذاره وشي

وروره ! که ته یوه مور وایې بیا پوهیدې چې د اولاد خرڅول څه مانا ،د اولاد خرڅول د خپلو غوښو له پریکولو او خرڅولو کم درد نه لري کله هم چې کورته راغلم او دهغه زانګو مې تشه ولیده ،په ماسم قیامت راغی یو اولاد که مړ شي دومره درد نه لري خوپه هدیره کې یې خښ کړي زړه دې صبر شي چې څه خو نور نشته د ژړا ،لوږې ،خوب له غمه یې بې غمه شي، زما د اولاد سره زما روح هم تللی هلته چې زما زوی په تکلیف وي دلته زما ټول وجود ورسره په تکلیف وي،دا خو په ځای پرېږده

هغه بله ورځ مې اولادونه وږي شول، نور چا پور هم نه راکاوٌ راته ویل به یې چې تاسې پورنشی پرې کولی لومړی هغه پخوانی راوړی بیا به نوی پور درکوم، کور کې مې ډېرې سترګې وغړولې تر څو کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی په لاس راشي او خرڅ يې کړم ،د دوی چاره پرې وکړم، له نور هرڅه مې ځان خلاص کړی ؤ يوه شمسي په نظر راغله ،چا په خيرات کې راته اخيستې وه ،ځان سره مې پرېکړه وکړه چې اولادونه مې له تيارې نه مري چې پکې ژوند وکړي خو له لوږې مړه کېږي د دوی د لوږې حالت ليدل زما له زغم وتلی ؤ

لاړم شمسی مې را خلاصه کړه بازار ته مې ويوړه مستعمله وه چا زړه ورته نه ښه کاؤ اخر يو کس رابرابر شو ويې ويل زه يې په اته سوه افغانۍ اخلم ،زه پوهېدم چې قيمت يې درې زره افغانۍ ؤ ،خو اړه وم بايد خرڅه کړې مې وای

ځکه ماشومانو مې د شپې لپاره د خوړلو څه نه درلودل

ښاغلی زړه سوانده! اوس ته ووايه چې زه د ې زړه سوی وړ نه يم؟

زما په ستونې کې لاړې خښې شوې ،غوښتل مې ښې لوی ،لوې چغې وکړم او هغه پړسېدلی زړه مې چې د خورکۍ په خبرو ډک شوی ؤ تش کړم ،خو بيا خدای ج همت راکړ لږ مې ځان تم کړای شو،ځان سره مې وويل خورکۍ به ډېره وارخطا شي ،د خپل ژونده به نوره هم مايوسه شي چې زما ژوند خو د تنگسې وروستی حد دی بس زړه مې راتکيه کړه هغې ته مې دې ډاډ خبرې پيل کړې ورته مې کړه

خورکۍ موږ مسلمانان يو او الله ج تل په تنگسه کې صبر او زغم ته رابللي يو تاسې وگورئ صحابه کرامو به له لوږې په نس پورې تېږې تړلې ،په شپو شپو به وږي گرځېدل بيا به يې هم شکايت نه کاؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته اوس هم ښه يې د هغوی په نسبت دې ژوند کې ستونزې ندی راغلې ،**

**هغې زما خبره پرې کړه زه يوه مېرمن يم په دې رواجي ټولنه کې ژوند کوم ،له کوره بهر د وتو سره هم سل خبرې او گواښونه زغمم**

**اخر ولې ؟**

**اخر تر کومه به زه په دې ستونزو کې يم**

**اخر تر کومه به زه ددې سخت ژوند سره مبارزه کوم**

**ما ورته کړه زما همتناکې خورکۍ نوره ته يوازې نه يې، زما غوندې ورور د په خواکې دی**

**زه نور لکه د سيورې په ډول درسره يم ،ستا هره ستونزه زما ستونزه ده او زه خپلې ستونزې نا حله نه پرېږدم**

**هغه مې په دفتر کې کينوله ښارته ښکته شوم اړين خوراکي توکې مې واخيستل ،شمسی او د هغې لپاره بېړی مې هم واخيسته موټر کې مې واچول بېرته دفتر ته راغلم خورکۍ مې ځان سره بوتله دکورمخې ته مې هرڅه ورته ښکته کړل شمسی مې ورته بسته کړه گروف رڼا شو ،د گروف په ليدو زه هم يو څه ارامه شوم بيا مې ورته کړه هيله ده بيا داسې وخت رانشی چې شمسي خرڅولو ته اړ شئ د دوی د لا ډاډ په خاطر مې ورته کړه**

**زموږ دفتر به هره مياشت تاسې ته دومره کومک کوي چې تر بلې مياشتې مو رسوي اندښنه مه کوئ اويوه بله خبره هغه دا چې که د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ غړي مو ناروغه کېده موږ په جریان کې اچوی د هغه لګښت هم موږ پرې کوو**

**مورکۍ د سوي زړه نه څو سوې ،سوې دعاوې راوباسلې د اسمان په لوري یې وکتل راته یې کړه زویه په لاس کې دې تورې خاورې سره زر شه تاسې یوه ملایکه یاست چې خدای ج د موږ مرستې ته رالېږلې یاست**

**ما یې خبره ورغوڅه کړه ورته مې کړه مورې ما دملایکو سره مه پرتله کوې ،زه هغه ګناه ګار انسان یم چې تر اوسه مې ستا غوندې یوې دردمنې مورته رسیدګی ندہ کړې لوی خدای ج ته به زه ددې څه ځواب ورکوم**

**زه خو ستا او د خپل رب په وړاندې ډېر شرمینده یم ماته دعا وکړه چې ددې بې تفاوتي ښنه راته وکړې**

**هغې راته کړه زویه ته ملامته نه یې ماشوم چې ونه ژاړي مور یې نه رااخلي ،تاته زموږ څه پته وه چې موږ په داسې یوه بد حالت کې یو،دادی چې خبر شوې نو له موږ سره دې زموږ د تمې خلاف ډېر کومک وکړ**

**زه حیرانه یم څرنګه مننه درنه وکړم**

**ـ مورکی مننه مه کوه یوازې دعا وکړه چې الله ماته ستا په اړوند دبې کفایتي سزا معاف کړي**

**ـ هغې وویل زویه تا دخدای ج د پیغمبرانو په صف کې راپورته کړې ته یو عادي سړی نه یې تاته خدای ج سزا نه درکوي بلکې تابه ډېر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ کړي تاته به ډېرې نیکي درکړي تا زما د دردمن او سوي زړه دعاوې ویوړې په ما ډېره غریبي تیره شوې زه یوه مظلومه یمه او الله د خپل مظلوم دعا نه ردوي

له دوی مې رخصت واخیست سخت ستړی شوی وم کورته لاړم په لاره کې د ښکلا لیک راپه یاد شوه ورته اندېښنه مې وه چې خوارکی به څه پکې لیکلي وې خو ډېر ستړی وم بېرته دفتر ته مې له وسه تېره وه چې راوګرځم ځان سره مې وویل څه سبا به یې وګورې ،له ډوډی ،لمانځه وروسته چې خپلې بسترې ته لاړم سهار راویښ شوم

دفتر ته لاړم د ښکلا لیک ته مې اندېښنه وه ،دفتر ته ننوتم له کیناستو سره یوځای مې ټلیفون وشرنګېده له سلام وروسته یې وویل ته زړه سواند یې

ـ هو،مهرباني وکړې

ـ زه د دې سیمې دحاکم سکتر یم مشر غواړي تاسې سره ویني

ـ خیر خودی ،هغه ماڅه کوي؟

ـ هو خیر دی ،ماته یې دنده وسپارله چې داکس پیداکړه او ماته یې راوله

ـ کله درشم ؟

ـ په یوساعت کې ځان راورسوه ،هغه ټول ملاقاتونه لغوه کړل دفتر کې تاته منتظر دی

ـ سمه ده زه په یوه ساعت کې درځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم زه جگ شوم سم مې د دفتر په وره کې په ښکلا باندې نظر ولګېده ،له سلام ویلو پرته یې راته وویل له پرونه راهسې ستا ټلیفون او ځواب ته په تمه وم

زما لیک دې ولوست؟

ـ حیران شوم چې ښکلا ته څه ووایم که ورته ووایم چې نه ده مې لوستی خورا ډېره خواشینې به شي،او که ورته ووایم چې لوستی مې ده ځواب به رانه وغواړي او زه به نه پوهېږم چې څه ځواب ورکړم

ـ هغې زما چوپتیا ته نور انتظار نشو ایستلی ،راته یې کړه زړه سوانده زه تاسره غږیږم ،دیوال سره نه

ـ ښکلا ستا لیک ځواب باید لږ په دقت سره درکړل شي،زه اوس دسیمې مشر غوښتی یم او یو ساعت وخت یې راکړی دهغه ځای هم لرې دی ،په اندېښنه کې یم چې څه جنجال راته پیښوي؟

ـ هو، ته خو اوس کم سړی نه یې ، ته خو اوس وړو خبرو ته بریک نه نیسې ،تا خو اوس سیاست ته  هم مخه کړې

ـ ښکلا ماته اوس اجازه راکړه چې لاړشم،نورې خبرې به بیا کو،زه په اندېښنه کې یم چې دوی ما څه کوي

ـ زه دې یوازې هلته نه پرېږدم ،زه هم در سره ځم،

ـ د خدای ج لپاره ته هلته څه کوې ؟که له ما هغه ستا په اړه وپوښتي څه به ورته وایم؟

ـ ورته ووایه دا مې ساتونکې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ هیله کوم دا وخت د ټوکو نه دی ،زه ځم**

**ـ هغې د وره دواړو خواو ته لاس واچاؤ ویې ویل یابه ته هم نه ځې او یا به دواړه ځو**

**ـ ښه راځه چې ځو**

**ـ دواړه موټر کې کیناستو په لاره کې مې کرل او ریبل چې ددې مېرمنې پېژندګلوي حاکم صیب ته څه ډول وکړم بلاخره دا مې ښه وبلله چې ورته ووایم دا زموږ دبنسټ د مېرمنو د څانګې مسوله ده**

**ـ ښکلا مې هم پوه کړه چې ستا معرفت مشر حاکم ته د بنسټ د مېرمنومسوله ورپېژنم**

**ـ سمه ده**

**حاکم صیب ته ورسېدو له روغبړوروسته یې راته وویل : ما خو ته یوازې غوښتی وې ولې د دغه مېرمن ځان سره راوستې ده؟**

**په دې خبره زما اندېښنه نوره هم زیاته شوه فکر مې وکړ د سیمې حاکم دې په اړه څه غلطه اراده لري**

**ما ورته کړه دغه اغلې زموږ د بنسټ غړې ده لویه هیله یې وه چې تا وګوري نوځکه راسره راغله**

**هغه سر وخوځاؤ ویې ویل څه توپیر نه کوي**

**له خپلې څوکۍ راپورته شو زما خوا کې کیناست راته یې کړه موږ له ډېر پخوانه ستا کارونه څارو ماشاالله ډېره ښه روان یې ډېره د زړه له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تله او په شوق کار کوې ،که په لنډو يې ووايم موږ دې په توپيري ډول بله بيلګه نشو په ګوته کولی**

**د هغه له دې خبرې سره مې په شکر وويست ، زړه مې ولګېده مال څه زړه سوانده بلا وه برکت يې نه ؤ ځکه يوې ويرې مې زړه کې ځای نيولی ؤ چې د کوم ترهګر ټاپه راباندې لګوي که بله کومه بلا مې په سر را اچوي.**

**ځکه کله به زما په اړه خلکو ليکل چې زړه سواند له بهره تمويليږي .**

**ما ورته کړه هيله کوم مشره دا خو ستاسې حسن نظر دی ،کله هم چې له خپلو مشرانو داسې د ملاتړ خبرې اورم نو زما همت نور هم غښتلی کېږي**

**ـ زه به نه يوازې له دې وروسته ستاسې ملاتړ کوم بلکې غواړم له يوې پرېکړې د خبر کړم**

**ـ د څه پرېکړه؟**

**ـ زه اراده لرم يوه لويه غونډه راوبولم ،چې موخه ترې يوازې او يوازې ستاسې ستايل وي،ور سره ستا د کارونو د ملاتړ په پار په دغه غونډه کې د سيمې د مشرانو په وړاندې تاسې ته لونګۍ او يو ستاينليک هم درکوم**

**ـ ما سرښکته واچاؤ هغه ته مې وويل دروند او بااحساسه مشره زه نه پوهېږم له دې ښه نيته مو څنګه مننه وکړم، څه ډول مو حق ادا کړم ، خو يو سوال درته په ډېر درنښت کوم ،زه تر اوسه ددې وړ ځان نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولم چې د دومره لوړ موقف نه وستايل شم او نه ما داسې څه کړې چې دستايلو وړ وي که ريښتيا ما ستايې نو زما يو وړانديز ومنه

ــ ووايه مهرباني وکړئ

ـ تاسې چې زما دستاينې په غونډه کوم لګښت کوئ په هغه لګښت يتيمانو ته خوراکي توکي واخلئ ،هغوی د سبا او بيګا نه لري،زما د يتيمانو مرسته زما تر ټولو لويه ستاينه ده

هغه ډېر ټينګار وکړ راته يې کړه ستاسې ستايل زما زيمه واري ده ما ورته وويل مشره که له ماسره ښه کوې زما وړانديز ومنه

ما دغه کار د خپلو ستايلو لپاره نه ده پيل کړی مادغه سودا د اخيرت لپاره کړې دالله ج د رضا لپاره مو پيل کړې،بس هغې موخې ته مو د رب ورسوي

بلاخره له ډېر ټينګار وروسته هغه راسره ومنله، راته يې کړه زه اوس لا ډاډه شوم چې دغه کار ستاسې د پاک احساس له مخې پيل کړی دی انشالله چې بدله به يې الله ج درکوي  د لګښت حساب يې وکړ،څومره  پيسې يې  چې کېدې ماته يې راکړې ويلې يتيمو کورنيو ته دې د هغوی اړتيا وړ توکي پرې واخله

له مننې ورسته مې خدای پاماني  ترې واخيسته  موټر کې کېناستو

په لاره کې ښکلا راته کړه ته ډېر ضدي نه يې ؟

ـ ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د سیمې په کچه د یوه لوی سیاسی او معنوي موقفه درته دستاینې غونډه جوړېده او تا رد کړه

ـ لوی موقف خو د الله ج دی ،دنیاوي موقفونه خورا ډېر عادي او پیکه دي،زه د هغه لوی رب دربار ته په تمه یم که چېرې زما ناچیزه کړنې ورته د منلو شوې او له ترحمه یې برخه من شوم نو دا به مې لویه بریا وي

ـ ګوره زړه سوانده هوښیاران وایې چې انسان ته فرصتونه کله کله په لاس ورځي خو کله هم چې فرصت په لاس درشي ګټه ترې واخلئ

ـ دا دې په څه پورې یاده کړه ؟

دغه نننی فرصت  ستا د شهرت او شخصیت پېژندنې یو ډېر ښه چانس ؤ او دغه چانس تا په لغته وواهه

ـ چانسونه د هر چا له دیدګاه نه فرق کوي ،د فرصتونو ارزښت هم د فکرونو په وزن پورې ارزښت پیدا کوي ،زما په اند دغه ډول فرصتونه ماته بې مانا دي

ـ اخر ته څه غواړې ،ستاسې زوق ماته ډېر جالب دی ،تر اوسه پوه نشوم چې تاسې بشري حسونه لرئ او کنه ؟

ـ ګوره اغلې ښکلا !زه پوهېږم ته زما په ښه وایې ته ددې سره دلچسپي لرې چې د خلکو په خولو کې ژبې زما په توصیف وخوځېږي،زما ستاینه وکړي خلک مې یاد کړي چې زړه سواند ښه سړی دی ،خواخوږي انسان دی او .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما لپاره دغه کار هيڅ ارزښت نلري،که زه د ټولې نړۍ په خوله ياد شم خو الله مې ياد نه کړي هغه رانه خفه وی هغه رانه راضي نه وي نو ماته به دې يوه ويښته ارزښت هم ونه لري .

زه غواړم په دې کار چې ما پيل کړی دی ،الله ج راضي کړم ،اصلی موخه مې د رب راضی کول دي که هغه رانه راضي نشي اوټوله دنيا مې وستايې ،ماته د يوه وېښته په څېر هم ارزښت نلري

ـ ښه بابا سمه ده ،ته پوهېږې او کار دې زما ستا به دې کارو سر نه خلاصېږي،دفتر ته نېږدې شو ،ښکلا راته کړه زه دلته ښکته کېږم روغتون ته ځم زما ستاژ (عملي کار) وخت دی بايد ژر روغتون ته ځان ورسوم ما موټر ودراؤ هغه ښکته شوه  بېرته يې د ښکته شوې شيشې په سر زنه کېښوده ويې ويل سخت ناځوان نه يې؟

ـ ولې؟

ـ دومره ست د هم ونه کړ چې روغتون ته به دې زه ورسوم؟

ـ خو زه بايد د فترته لاړشم هلته به کوم بې چاره په تمه وي

ـ ښه سمه ده ټوکه مې وکړه خو گوره ليک وگوره او تر ماښامه يې ځواب راکړه،کنه بيا مې له شره نشې خلاصېدی

ـ ليک گورم او حتما يې گورم

له ښکلا مې خدای پاماني واخيسته نور د دفتر په لور روان شوم له رسېدو سره سم مې وليدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دفتر مخې ته مې دوه د زاړه عمر جوړه مېرمن او خاوند ناست دي سړي د سترې مشې لپاره لاس راوغځاوۀ د ډېر زړښته يې لاس لکه پاڼه رپېده**

**سترې مشې کې يې له خبرو مالومه شوه چې غړ يې هم د عمر خوړولو له امله سکتګي لرله ،دفتر ته ننوتو**

**مورکۍ راته ګويانه شوه راته يې کړه زامن مې ډېر په سختي رالوی کړل ودونه مې ورته وکړل خپلې لوڼه مې ورته بدل کړې ،خو چې کله يې مېرمنې وموندې موږ يې پر ځای پرېښودو ويې شړلو اوس په دې عمر کې چې زما مېړه له ځايه په سختي پورته کېږي ماته څه راوګتې ؟په موږ ډېر سخت وخت راغلی؟ د خلکو زکاتو او خيراتو ته ناست يو،که چا څه راوړل خورو يې کنه نهاره شپه تېروو**

**د سپين ژيري سترګې له ډېرې کمځواکی د هغه د سترګو په غوچوړي کې ننه وتې او ښکته لويدلې وې په همدې وچو سترګو کې د اوښکو څاڅکي ډنډ شول راته يې کړه زه اوس د مزدوری خواري نه يم زامنو وشړلو ،د کور کرايه هم راباندې راروانه ده ،چاره رانه غلطه ده چې څه وکړو**

**څو شيبې خو د دوی دواړو خبرو يوه ژور سوچ ته ويوړم ځان سره مې وويل:**

**دايې د نن زمانې زامن ،رالوی يې کړه خواري پورې وکړه ،ويې رسوه، بيا چې مېرمن پيدا کړي همداسې دې خوشې کړي ،اخر ددې اړيکو ګټه بيا څه شوه زموږ او د هغوی چې مسلمانان نه دي څه توپير شو ،هغوی هم چې لوی شي د خپلې ښې شي نو پلارونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مېندې خوشې کړي يا يې هم د زړو خلکو ځاى ته ويسي ،دوى مزې او چړچې کوي ،هغه بيچاره ګان د زړو په ځاى کې مړه شي،زموږ هم دوى ته ورته حال شو،ترمنځ مو توپير نه کېږي

له څه سوچ وروسته مې د هغو پلارونو په حال افسوس وکړ چې داسې اولادونو ته حرام کوي خپل اخيرت خواروي او دوى ته روزي پېدا کوي

بېرته مې فکر دوى ته راواوښت په سپين ږيري پلار او سپين سرې مور باندې مې ډېر زړه بد شو،د بنسټ پيسې راسره وې د دريو مياشتو د کور کرايه چې پرې پاتې وه هغه مې نغدې ورکړې ،د دوه مياشتو خوراکي توکي مو ورته واخيستل ،بيا مې رخصت کړل په تلو کې مې دا هم ورته وويل چې که له دې وروسته مو هر څه ته اړتيا پيدا کيږى انشاالله بنسټ به مو په خدمت کې وي

په رخصتولو کې يې د زړه له بې حده خوښى سوې سوې دعاوې وکړې هغه دعاوې چې زما زړه ته يې قوت ورکاؤ هيله مندې يې راسره پيدا کوله او ډاډ يې راکاؤ چې دغه دعاوي رب انشالله په ځمکه نه اچوي ،نور له دوى خلاص شوم،راسا دفتر ته لاړم له کېناستو سره سم مې د ښکلا په ليک باندې نظر ولګېده

په بيړه مې راواخيست ،سترګو ته مې نېږدې کړ په لوستو مې پيل وکړ

راته ښکل شوي ؤ

بې غوره زړه سوانده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې به هم فکر کوئ چې ښکلا ولې د دومره لوړو زده کړو سره سره بیا هم خپل انساني غرور د پښو لاندې کړي،او زما شاه یې نیولې ده زه هم کله، کله ځان ته حیرانه شمه چې په هغې ښکلا څه وشول چا چې په پوزه نر مچ نه پرېښود،او اوس دومره ماته شوې،دومره شکسته شوې چې ښه پوهېږي یو څوک یې په کیسه کې نه دي خو دا بیا هم د هغه په اړه فکر کوي ،ددې لیواله ده چې هغه سره خبرې وکړي،ورسره وګوري ماته مې مورله ډېرې توند خوي سره مچۍ وایي هغه تل راته وایي چې ته جنګ په پیسو غواړې په نه خبره خلک خفه کوې ،زغم نه لرې خو زه هم ځان ته حیرانه یم چې اوس د کوم بدلون او اغېز له مخې د فکر نه ، بلکې د زړه منم په کوم زړه کې چې

ته ماته ددې نړۍ تر ټولو ښه انسان برېښې،د قدر او درناوي کس راته ښکارې ،زه فکر کوم چې زړه سوی ،مینه سرښندنه ،ایسار او قرباني باید له تا زده شي ،زه په ژوند کې هم مادیاتو ته ارزښت نه ورکوم طب مې هم ځکه ټاکلی چې یو ډېر له معنوی ارزښته ډک مسلک دی ،د انسان با ارزښته ژوند ورسره تړلی دی،زه په ژوند کې تل با ارزښته ټاکنې کوم ستا ټاکنه مې هم یوه له هغو معنوی ارزښتونو ده چې نفس او خواهش ته پکې ځای نشته ،ما ستا څهرې ته تر دې دمه په ځیر ،ځیر هغه د چا خبره د سوداګر په توګه نه دي کتلي،چې په څهره دې مینه شم، یوازې ستا مهربانه زړه مې لیدلی ،او د هغه تر اغېزې لاندې راغلې یم

ستاسې په سینه کې زړه د نړۍ تر ټولو ښه زړ دی ،تاسې په سینه کې زړه یوازې د ریشته دارو لپاره نه تپېږي بلکې د هغو خلکو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم حرکت کوي چې هغه له خدایه ج پرته بل څوک نه لري ددې ټولنې لوېدلې او مظلومه طبقه دی ، د هغوی غږ څوک نه اوري ،هغوی تل د مالدارو مسخره وي،هغوی ته وخت ورکول د وخت ضایع بولي

خو تا ټول ژوند دوی ته وقف کړی دی ،ددوی خدمت دې خپل عشق گرځولی دی داسې زړه سوانده انسان زما په ژوند کې د لومړي ځل لپاره راځي

ځکه ،خو لویه هیله لرم چې دغه دمهربانه زړه ښتن ما خپله کړي،د ځان په نوم مې کړي،او د هغه په خواکې واوسم

دا هم یاد وساته که زما د توقع او هیلې خلاف کار وشي نو پرته له مبالغې به

زما ژوند دیوه کالبوت په څېر وي هر څه به راته بې مانا وي،تاسې په یتیمانو ځکه زړه سوځئ چې هغوی بې وزله دي، لاچاري دي ،فکر وکړه زه هم یوه یتیمه یمه او ستا لاسنیوي ته ډېره اړتیا لرم

ستا ښکلا

لیک مې تر پایه ولوست ،د ښکلا خبرو او د هغې په دې حالت خفه شوم،ځان سره مې وویل : زړه سوانده ته یو نوی پړاؤ ته داخلیدونکی یې،ددې جلی خبرې باید سطحي ونه نیسې ،د هغې له کړو وړو احساسیږي چې هغه ټوکې نه کوی او نه ساعت تېروي،هغه خپل زړه پسې اخیستې ،او د زړه خبره چې څوک پسې واخلي نو بیا په یو طرفه جاده حرکت کوي کومه چې برگشت نه لري ،خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسوس په دې راته چې ما دهغې په وړاندې دهغې په څېر احساس نه درلوده ځکه خو مې په هغې ډېر زړه سوی راته او د وېرې پسې اخیستم چې که د هغې غوښتنې ومنم او په ژوند یې راګډه کړم نو هغه به راسره خوښه ونه اوسي ځکه چې په فکرونو او غوښتنو کې مو ډېر توپیر شتون درلوده ،د هغې مینه زه وم خو زما مینه بیا د بنسټ کړنې وې .

په دې اړوند ما ځان ډېر کم ګاڼه له ځان سره مې ویل که زه دهغې خبره ومنم او بیا د هغې د هیلو مطابق ورسره ژوند مخته بونه ځم دا به بیا بې انصافي وي دې وېرې،په خپله پرېکړه کې زړه نازړه کولم،له دې چرتونو وروسته مې د هغې لیک بېرته قات کړ جیب کې مې کېښود

د ښکلا لپاره د مناسب ځواب په فکر کې شوم دفتر راته تنګ شو بنارته راښکته شوم یوماشوم مې ولیده ګاډۍ یې چلوله کوم ظالم ورته ښه درنه بار کړې وه سخت ژمی ؤ خو دهغه یوازې یو کمیس او پرتوګ په تن کې ؤ هغه هم څو ځایه پیوندي شوي ؤهغه دې دمې لپاره لاس ګادۍ درولې وه سخت باد هم ؤ ماشوم لکه پاڼه رپېده ،ورنېږدې شوم ورته مې کړه وروره ځانته پام نه کوې ته دا سخت ژمی نه ګورې سړی څه واغوندي ،هغه پرته له وقفې ځواب راکړ، څوک چې څه لري نو اغوندي یې ،چې نه یې لري زما په څېر به یې یخ رپوي

ما ورته کړه بار دې ورسوه هغه پاس زما دفتر دی سبا ته یو ځل زما دفتر ته راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوټونو مارګيټ ته لاړم د پنځوسو جمپرونوپيسې راسره برابرې شوې ،پنځوس دانې چامپرونه مې واخيستل دفتر ته مې راوړول د نېږدې شلو يتيمو کورنيو ماشومان مې هم راوبلل ،سبا ټول راغلل هر يو يتيم به چې راته په خپله به مې په جمپرونو کې د هغه سايز کوت او وراغوست به مې، کله به مې چې جمپر هر يتيم ته ورواغوست د هغه په معصومو شونډو به يوه ځانګړې مسکا خپره شوه د هغې ليدو به ماته يو ځانګړی کيف کاؤه داسې خوند يې درلوده چې حروف يې له څرګندولو عاجز دي

په دوی کې يو څلور کلن ماشوم رامخې ته شو جامپر مې له خلتې ورته خلاس کړ،تر څو يې ورواغوندم هغه په معصومانه ژبه راته ګويا شو ويې ويل:

مه يې لاغونځه ،ماته يې مه لاغونځه(مه يې راغونځه)

مال ولې؟

- ويلې زه يې اختل( اختر) ته يې ساتم

جمله يې دردونکې وه ډېر يې خفه کړم ځکه چې شايد دا ماشوم په تېرو اخترو کې له دې امله ځورېدلی وي چې ده به نوي کالي او جامپر نه درلودل او همځولي به يې کتل

ما ورته کړه مه خفه کېږه وروره په اختر کې زما غونډې ورور لرې زه يې بيا هم درته اخلم

بلاخره ټول يتيمان مې له جمپرونو سره رخصت کړل د دوی له مسکاؤ مې بلا خوند واخيست نور د کور په لور رهي شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس راسره یوازې یو فکر ؤ چې څرنګه وکولی شم په سیمه کې د انجونو لپاره دینې مدرسې جوړې کړم ځکه چې ددې کار خورا اړتیا محسوس کېده،زموږ ډېری خوندو کلیمه سمه نه وه زده ،د کلیمې په مانا خو ډېرې کمې میرمنې پوهېدې نو زه باوري وم چې هېڅ دیني کړنې به دوی په سمه توګه نه اجرا کولې ، دوی کې ملامتي نه وه ملامتي دنارینه ؤ وه،د دوی د مور او پلار وه،د مشر ورور اومېړه وه میرمنې خو د څلورو دیوالو خاوندانې دي څوک یې چې ورونه ښي نو دوی به یې څه زده کړي

د بې برخې مېرمنو په اړه به مې چې فکر کاوّه د یوه ملګری کیسه به راته یادېده هغه ویل له خپلې میرمنې مې پوښتنه وکړه چې ستا د پیغمبر نوم څه شی دی ویلې هغې مخ پټ کړ بیا یې وویل موږ د پردیو خلکو نومونه څه زده دي

هغې د خپل پیغمبر نوم نه ؤ زده ،د خپل هغه محبوب نوم یې نه ؤ زده چې په ورځ دقیامت کې به یې شفاعت کوي،نو له دې د افسوس ځای بل چېرې دی

خوبیا هم دوی ملامته نه وې ملامته موږ ؤ چې دوی ته مو د ینې زده کړو لاره نه وه هواره کړې،که موږ دا کار کړی وای نو بیا ملامتي د دوی وه

یوه ورځ لاړم یوه کس ډیره ښه ځمکه د ښار په زړه کې لرله څو زړونه مې یو کړه چې خپله خوله ورته د ځمکې راکولو ووایم ځکه په هغه ځای کې ځمکه د سرو په تول وه بیا مې هم توکل کړځکه چې په دې باوري وم چې دا کار زه د رب لپاره کوم او ددې کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه هم د رب په لاس کې ده هغه يې هر لورته اړولی شي،مخامخ ورته کيناستم ورته مې کړه زه د انجونو لپاره دې يوې ديني مدرسې اراده لرم ،تاسې ماته ځمکه راکړئ په دې صدقه جاريه کې راسره شريک شئ ،تاسې خپلو اولادونو ته ډير څه وکړل موټر پيسې مو په واک کې ورکړې ،ځمکې مو ورته واخيستې خو دايو څه به مو هم په ښه رانه شي يوازنی څه چې د اخيرت لپاره به درته توښه وي او د صدقه جاريه په ډول به يې ثواب درپسې رسيږي هغه همدا مدرسه دی ،سرې باندې مې خبرو اغيز وکړ او په يوه مهم قيمتي ځای کې يې د ځمکې سر راته وښوراؤ ځمکه يې راکړه د سوال په پيسو مو پرې کار پيل کړ له لنډ مهال وروسته مو ددې جوګه کړله چې درس پکې پيل کړو هوډ مو وکړ په هره ولسوالي کې ورته اقدام وکړو اوس مو شکر ورځ تر بلې دغه اقدام پراخه کيږي او شمير مو څو د انجونو ديني مدرسو ته رسيږي

کارونو مو ورځ تربلې پراختيا موندله کله به ډاډه شوم چې ځه د اخيرت لپاره دې يو څه درته وکړل کله کله به بيا فکر راسره پيدا شو چې که ستا په دې کارو کې ريا وی او خدای ج ته يوه هم د منلو وړ نه وي بيا به څه کوې ؟

خبره تر دې ورسيده چې ځان به مې ملامتاؤ ويلې به مې شايد په دې کړنو کې ځان ښودنه درنه شوې وي ،شايد هيڅ رب ته قبول نه وي شايد زما دغه کارونه ټول رياشوي وي ،يوازې له تکليف ګاللو بله هيڅ مزد يې زما په لاس رانه شي

بس زه وم او دغه سوچ و چې راسره ملګری ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې خپل د خوب کوټې ته لاړم  پرېښانه دشپې ویده شوم خوب مې لیده چې د ګران خوږ نبي کریم ص جنازه وي او ما اوریدلي وي چې څوک د نبي کریم ص جنازې ته اوږه ورکړي نو هغه جنتي دی زه هم په دې لټه کې شوم چې دغه لوی برکت مې په برخه شي له ما مخکې ډېر لوړ او قیمتي خلک روان وي دوی د نبي کریم ص جنازې ته دې اوږې ورکولو په لټه کې وي

یوه وخت دې نبي کریم ص مبارکې جنازې  بازو ته زما لاس ورورسېږي همداسې ورسره روان یم په عین حال کې د نبي کریم ص مخ مبارک هم ګورم یو وخت دې جنازې بازو زما اوږې ته راورسېږي

له دې سره سم راویښ شوم ،لومړی خو ډېر حیران شوم،ځان سره مې وویل چېرې عزیز خان چېرې ملنګ عبدالرحمن ،چېرې زه ګناهګار انسان ،او چېرې د دواړو کونو سردار حضرت محمد مصطفې ص

ځکه په ځان او کړنو مې نظر واچاؤ هېڅ داسې څه راته پکې ښکاره نشول چې ددې اعزاز رب وړ ګرځولی یم

بس یوازې دې کار چې د یتیمانو لاس نیوی کوم شاید دغه نیمګړې کړنې رب ته ښې ایسیدلې وي چې دا له معنوي ارزښته ډک خوب مې ولید

دې خوب زما اراده نوره هم غښتلې کړه ومې ویل ،زه به هر چلینج ومنم ،هر چلینج به وزغمم ،هرې بلا ته به په غېږ ورشم  خو د بنسټ کار به نه پرېږدم او یو  یو ریښتونی او بنسټیز کار به ورته ووایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مو همدغه کار شو بې سرپرسته یتیمانو ته مو خوراکي توکي په واک کې ورکول ،ځینو بې بضاعته کورنیو ته مو میاشتني معاشونه په دې ژمنه پیل کړل چې تر څو یې اولادونه لوی شي دا معاش به جاري ورکول کېږي ،روغتیا برخه کې مو ورته د درملو ،لابراتوار،جراحي عملیاتونو ، سترګو،غوږ پوزې او ستوني برخه کې وړیا عملیاتونو او نورو اړونده برخو کې ورته اسانتیاوې برابرې کړې

د سون توکي ،خیمې او نور اړینو مواردو کې مو بې وزلو ولسونو ته د ورکړې لړۍ پیل کړه

یو لوی بهیر مو د رب په مرسته روان شو،د خلکو باور هم ورځ تر بلې زیاتېده او پوهېدل چې دلته زموږ صدقې رېښتوني مستحقو خلکو ته رسېږي

یوه ورځ دفتر کې ناست وم چې ښکلا راننوته خو داځل یې د نورو ځلو په خلاف چې ویره خوله مسکی څهره به وه ځړېدلې شونډې او تروه تڼدې

له سلام کلا م پرته په مخامخ څوکۍ کېناسته

ما ورته وخندل ځکه څهره یې داسې جوړه شوې وه چې باید ورته خندلي مې وایې ،خو هغې برخلاف ددې چې زما خندی بدرګه کړي ډېنډ سترګې یې په ما کې ونیوې ویې ویل:

دا تمه مې له تانه نه وه ،ته دې تخلص بدل کړه ته هیڅ زړه نه لرې ،په بدل ددې چې ما درک کړې پرما زړه سوی وکړې پرما خندی هم کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ما ورته کړه ،ما خندی ددې لپاره نده کړی چې خدای ج مه کړه تاسې کوم کمی لرې او زه دې په هغه پورې وخاندم،تاخپله ځان کمیدې غوندې جوړ کړی ،ما د خپل خندې ډېر مخنیوی وکړ خو ونه شو بیا هم زه ښښنه غواړم،که تاسې زما په دې رویه خفه شوي یاست

ـ زه دې نه ښښم ،تاسې ته زه دا ځو میاشتې په تمه وم چې زما د لیک ځواب به راکړې ،خو تا زما هیڅ پروا ونه کړه د یوه انسان په سترګه دې راته ونه کتل

کم تر کمه خو د نه ځواب ویلی شو

ته مغرور یې ،کبرجن یې او د چا په کیسه کې نه یې !

غوښتل مې د هغې په خبرو کې ورولویږم خو هغې پرینه ښودم خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ ویې ویل:

ما هم پرېکړه وکړه چې نور د وخت نه ضایع کوم ،نوره نه درته راځم ځکه هرڅه به په زور وشی خو د اړیکو پالل د زور خبره نه ده ،خو نه پوهېږم چې ولې یې زړه نه راسره مني هره پرېکړه چې وکړم بېرته یې ماته کړم بېرته پری پښه کېږدم او تر تا بیا ځان راورسووم

هغه له خبرو ډېره ناهیلې مالومېده خو دا ځل ما د خبرو نوبت ترې واخیست ورته مې کړه اغلې ښکلا زه تاته درنښت لرم ،ستا علمیت ،ښه خوی ،زړه سوي ته د قدر په سترګه ګورم ،زه یوځل بیا ښښنه غواړم چې دلیک ځواب مې پر وخت درنه شو کړای که دلیل یې درته ووایم ته به ډېره خفه شې خو اړیم دلیل یې درته ووایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه نه خفه کېږم ما يې په دليل پوه کړه  زما لپاره پرې پوهېدل اړين دي او که خفه هم شم اوس د خفگان سره روږدې شوې يم

ـ گورئ درنې ښکلا زه په دې پوهېږم چې ته کوم غلط نيت نه لرې غواړې زما سره تل پاتې رښتونې پاکه اړيکه وتړې او زما د ژوند ملگرې شي او دا ستا حق دی چې ځانته خپله ټاکنه وکړې

خو اړينه ده چې مقابل لوری هم درسره مينه ولري ،هغه درته پام وکړي ،ستا حقوق پرځای کړي تاته مينه درکړی،تا دژوند په خوږو پوه کړي

که هغه زما په څېر بې تفاوته شي نو ته به په خپل ژوند کې وځورېږې ،ژوند به درته سور تنورشي ،د هغه بې تفاوتي به ونه شې زغملی

ـ ښکلا زما خبره پرې کړه راته يې کړه زه ستا پاملرنه نه غواړم ،زه غواړم يوازې په خوا کې د واوسم او زه په تا پام وکړم

تا خوښ وساتم ،ستا د کارونو حمايه وکړم ،ستا همت جوړه شم تاته انرژي درکړم او دا هم درسره ژمنه کوم زه څو مياشتې وروسته فارغېږم زما دعايد نيمې پيسې به بيا ستا په بنسټ کې د خدای ج رضا لپاره لگوم بس دی که نور څه هم رانه غواړې؟

ښکلا نوره زما د پلمومخه ډب کړه ،نور را سره د نه ځواب پاتې نشو ورته مې کړه چې که ته زما پاملرنه نه غواړې نو بيا سمه ده زه درسره کوزده کوم

خو وروستی گيلې دې بيا نه منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مه يې منه ،زه د خپل ځان خيال ساتلی شم

موږ کوژده وکړه ، د ښکلا نوی دور پيل شو د کوزدې له پيل سره هغه لکه ګلاف غوړېده ،فراغت يې هم راورسيده او بيا مو د ښکلا له فراغته وروسته واده وکړ،هغې ته مې کلينک برابر کړ او نور مو په ګډه د بنسټ کارونو ته ملا وتړله، زموږ دنده اومسوليت اسانه نه ؤ ورځ تر بلې يې د هيواد د ولاياتو پر مخ لمن غوړوله ،روغتيا ،خوراکي توکي،زده کړې او د انجونو لپاره ديني مدرسې مو د بنست لومړيتوبونه ؤ له خپله ژوند راضي ځکه ؤ چې خورا له سکونه ډک ژوند مو درلوده ورځ تر بلې له دې کارو سره د ښکلا دلچسپي هم زياتېده ،يوه ورځ يې له ما وپوښتل ته خو ملامت نه وې د خير په کارو کې چې کوم خوند دی ،کوم ډاډ دی دا خو له نور کارو جلا او توپير لري،راته يې کړه تا ډېره غوره لاره ټاکلې ،تا د ژوند رينښتونی مفهوم پېژندلی او ته نه يوازې د د ټولنې بلکې زما اتل هم يې ورته مې کړه اوس ډاډه شوم چې له ما وروسته ته دا کار په پوره حوصله تر سره کولی شې ځکه چې ته يې اوس په ټوله مانا په ارزښت پوه شوې ،ددې کارخوندونه د په غړېدلو سترګو وکتل کله چې پوه شې چې ته هم له دې نړۍ کوچېږي بايد خپلو اولادونو ته ددې کار توصيه وکړې دواړو په دې ژمنې د بنسټ کارو ته تياری وښوده

موږ د بنسټ اړوند خبرې کولې چې ټليفون مې وشرنګيده د ټليفون پر سکرين مې د ښکلا د ورور نوم وليده

ورته مې کړه خير دی ويې ويل زه خو دا دوه ورځې کېږي بندي شوی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې؟

- بس ته يوځل راشه دلته به خبرې وکړو په ټليفون نه کېږي،ښکلا راته وويل د چا تليفون دی څه وای؟ ما ښکلا ته پلمه وکړه ورته مې کړه يو ملګری مې دی غواړي راسره ووينې ښار کې راته منتظر دی!

موټر مې چالان کړ د محبس تر دروازې ورسېدم ،هلته يې څوک نه پرېښودل خو زما پکې يو نږدې ملګري لويه دنده لرله هغه راته د ننوتو زمينه برابره کړه کله چې داخليدم په دروازه کې مې په يوه مېرمن او دوو ماشومانو سترګې ولګېدې ورته ښکته شوم خواته ورغلم د خورکۍ په مخکې يوه ستل ايښی ؤ ورته مې کړه خورکۍ دلته څه کوئ څوک مو بنديان دي؟

- نه

- نو بيا دلته څه کوئ؟

- مور هره ورځ دلته راځو دا ستل راوړو له اشپز سره مو خبر کړې کله چې د غرمې د ډوډې وخت شي زما دغه زوی ستل ورننه باسي له بنديانو چې کوم خوراک پاتې شی نو په دې ستل کې يې راټولوي

- نو بيا تاسې پر هغه څه کوې مال ته يې اچوې ؟

- نه خپله يې خورو

- استغفروالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرې سره مې بدن ځيګ شو،ستونی مې سره ورغی ځان سره په ژور فکر کې په خبرو شوم

اه ژونده څومره سخت يې ،څومره دردونه له ځانه سره لرې ،په رينښتيا څه ښه يې ويلي مرګ سخت دی خو له مرګه هم ژوند سخت دی

خلک د بنديخاني نه فنا غواړي ،بيا په نړۍ کې تر ټولو خراب خوراک د بنديانو وي خو زما ولس دومره غريب شوی چې د هغه خراب خوراک پاتې شوني خوري

بيخي وضعيت مې خراب شو خو خواو شا خلک ډير ؤ ځان مې کابو کړل شو مورکۍ ته مې وويل ولې ته نور څوک نه لري

ـ نه زما دا ماشومان يتيمان دي ،د ګټې وټې څوک نه لرو بس دغه پاتې شونې هم غنيمت ګڼو

له جيبه مې کارت ورته راوکيښ ورته مې کړه سبا زما دفتر راشې څو نغدې پيسې راسره وې ورته ومې نيوې نن په دې پيسو ګذاره وکړې نور کور ته لاړ شئ ،دوی هم زما خبره ومنله له خپل ځايه پاڅېدل دکورپه لوري يې حرکت وکړ زه محبس ته ننه وتم

د ښکلا ورور بند خونې ته ورغلم ،د بندي توب لامل مې ترې وپوښت راته يې کړه د چا ضمانت مې کړی اوس د خدای ج لپاره کومه لاره راته جوړه کړه چې خلاص شم د عارض پيسې زه پرې کوم خو چې نور څوک راباندې خبر نشي د خپل مدعي سره به بيا وروسته خبرې کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وه واسطه مې ډېله وه هغه مو له بند خونې ازاد کړ ورته مې کړه چې ضمانت کوې بندخونې خوبه حتما تیرې اوښی مې راخلاص کړ نور کورته لاړو.

پر سبا مو یوه لویه غونډه ونیوله غټ،غټ سرمایه داران مو د بنسټ په بلنه ورته راوبلل دغه محبس کې بې وزله کورنۍ مو هم ورته راوغوښته د دریځ تر شاه مو بې وزله مورکۍ د مایک مخې ته ودروله ورته مې کړه ستا مخکې د سیمې ستر ،ستر تجاران دي هغوی چې ماشومانو یې لوږه نه ده لیدلې تاوده لمر ته هم ندي گرځیدلي، ټول مې تاته راغوښتي ،تر څو ستا له حاله خبر شي نن د خپلو بې وزلو ماشومانو کیسه ورته وکړه بیا ورته ووایه چې که ستاسې نازولي زامن له دغسې برخلیک سره مخ شي نو څه احساس به لرئ

مورکۍ د مایک تر شا ورته ټوله کیسه وکړه ،د کیسې په پای کې مې د ډېرو تجارانو په سترگو کې اوښکې ولیدې چې په دسمالو یې پاکولې، د خپلې بې غوري اعتراف یې له ورایه په مخونو کې محسوس کېده !

وروسته ما ته نوبت راغی ملي تجارانو ته مې وویل :

ستاسې پوهېږئ ستاسې په مال کې د غریب حق شته زکات او خیرات شته که تاسې پر خپل وخت زکات او خیرات ورکړی وای زموږ ټولنه به د داسې بدو او بگنونکو پیښو شاهده نه وه دلته به د فقر کچه دومره نه لوړیده ،زما له خبرو وروسته خلک د مورکۍ له بې مثاله بد وضعیته دومره اغیزمن شوي و چې ټولو په یوه غږ ځان مقصر وگاڼه په دې ژمنه ټولو پریکړه وکړه چې نور به د خدای ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مال ورکوو د غریب حق به ادا کوو ،د خیر ښیګڼې کارونه به کوو،او.....**

**په وتو کې به هر تجار لس زره ،شل زره او پنځوس زره افغانۍ بسپنه د میز په سر اچوله د ناستې له ختمېدو وروسته مې ډېری د ټولې شوې مرستې پیسې دغې مورکی ته ورکړې نورې مو د بنسټ د مختنه پلانونو لپاره د بنسټ په خزانه کې کېښودې.**

**څه چې تاسې واورېدل دا مو د اوږد مهالي جګړه ځپلي هیواد ۳۰٪ خلکو د ژوند انځور ؤ څلویښت فیصده خلک بیا داسې ؤچې د خپل ژوند نیمايې اړتیا وې یې هم نشوې پوره کولی د لس فیصده خلکو ګذاره کېده او شل فیصده بیاد اسې ؤ چې د هرځل خوراک نه به یې دومره د پسونو غوښې او وریجې زیاتېدې چې د لس دولسو کورونو هم ورسره کېدې ،ځکه خو دلته بې وزلو خلکو لپاره کار ته خورا ډېره اړتیا وه**

**ما او ښکلا هم تر خپل وسه خپله دغه د خدمت اړینه فریضه ادا کړه اولادونو ته مو هم د خپل دې میراث د ژوندي ساتلو توصیه وکړه زما خبرې ختمې شوې ، صومیا خبريالې مایک پر میز کېښود یو سوړ اسویلی یې وکیښ ما یې سترګو ته وکتل ډنډ اوښکې پکې ولاړې وې ،راته یې کړه ته زموږ ملي اتل یې په ریښتوني مانا تا د خپل ژوند حق ادا کړ، ستاسې ژوند یو پوهنځي دې چې باید زده کړه ترې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسپنه/** ۲۰۲

**وشي ،تاسې يو داسې مهربانه شخص ياست چې  خپل انسانيت مو د هيواد دپاره په زبات ورساؤ**

**زه او ټول هيواد مو ددې قربانيو او احساس پوروړي يو!**

**پای**

**۱۲/۵/۲۰۱۹**

**پکتيا**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**